# گنهکار

مقتصد ستەری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د کتاب پېژندنه:**


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | ګنهګار |
| لیکوال | :: | مقتصد ستړی |
| کمپوزوونکی | :: | خپله لیکوال |
| د چاپ شمېر | :: | (۵۰۰) ټوکه |
| کال | :: | ۲۰۱۷م |
| د چاپ ځای | :: | لاهور |

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تړون

د درد د باچا
د کندهارۍ پېغلې
او د وطن د عسکر په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقتصد ستړی او ګنهګار

د شلمي پيړۍ وروستۍ دوې او د يوويشتمي پيړۍ په لومړۍ لسيزه کي د نړۍ خونړۍ پېښه افغان جنګ دی چي ټوله نړۍ يې ولړزوله ، د روس ماتيدل امريکا ته دا موقع په لاس ورکړه چي هغه دي د نړۍ واحد واکمن او بدمعاش هيواد وګرځي ،په دې موده کي چي پر افغانانو او افغان وطن کوم قيامت تېر سو هغه دېرو ليکوالو د خپل بحث موضوع وګرځوله خو دا هرڅه پخپله ليدل، سهل او زغمل که يو ليکوال پخپله کړي وي او بيا يې هغه ته د قلم ژبه ورکړي وي نو په هغه ليک کي به څومره زور وي ؟

مقتصد ستړی د ژوند په هغه پړاو کي دی چي موږ ورته د مستي ځوانۍ پيل ويلای سو ، که څه هم ما دی د مخ په ستر ګو ليدلی نه دی يوازي مې ږغ اوريدلی او عکس ليدلی دی خو دومره پوهيږم چي د اتلسو کالو څخه به زيات نه وي د ټولنيزي رسنيو له لاري د ده شاعري يو جهان د ځان کړی دی په دومره کم عمر او مهاجرت کي د يو شي ادراک کول او پر هغه ليک کول که موږ په نظر کي ونيسو او بيا د ده کيسې ته ځيرسو نو هر لوستونکی بايد پوه وي چي هغه د کوم معيار ليکوال کيدلی سي ؟

د دې کيسې د هنري ژانر په هکله به خبره وروسته وکړو خو په دې مرحله دا ويل به بې ځايه نه وي چي رښتيا ليدل ، زغمل او ليکل د نن سبا په مطلبي نړۍ کي تر ټولو مشکل کار دی ځکه د رښتيا ويلو انجام ښه نه وي.

تر ډېره وخته دا خبره کېدله چي افغان جنګ د اسلام او کفر جنګ دی ، چا به دې جنګ ته يوه پيمانه ايښوله چا به بله په اصل کي دا جنګ د دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستو غوايانو جنګ وو، چي يوازنۍ او يوازنۍ موخه يې پر نړۍ خپل سياسي، پوځي او اقتصادي واک تر لاسه کول وو، د مستو غوايانو سره د دوئ څو نور وړي مطلبي سخوندران هم ګډ سول او پر افغان خاوره يې داسي غوبل جوړ کړی چي د څلورو ملينو څخه زيات افغانانو ژوند له لاسه ورکړی، پدغومره شمېر افغانان ټپيان او په هم دغومره شمېر له کوره بې کوره سو.

په دې ټول غوبل کي د هر افغان د ژوند کيسه ځان له بيلا بيل مضمون او ليک غواړي خو خپلي کيسې ته د قلم او جرات ژبه ورکول که د ټولو لپاره ناممکن نه وي نو مشکل ضرور دی.

د مقتصد ستړي دا کيسه څه ده؟ د ژوند د تلخو حقايقو څخه پرده پورته کول، د خپلي خاوري خاينان په ګوته کول، پردي ګوډاګيان غندل، د افغانانو د قربانيو او بې وزليو داستان ليکل او تر ټولو مهم هغه افغاني هيت، مړانه او جرات نړۍ ته ښکاره کول دي چي د دې ټول غوبل وروسته هم افغانانو خپل افغاني او ملي هوډ بايللی نه دی هم دا د دې کيسې ټوله خلاصه ده، خو د دې کيسې کمال دا دی چي لوستونکي له مړي مخ څخه نيولې تر پايه له ځان سره داسي لاس تړلي بيايي چي بلي خوا ته يې نظر او فکر اوښتی نسي هغه ځکه چي دا ټوله کيسه رښتونې ده، بل د ليکوال دا کمال دی چي هغه دومره سوچه، مهينه ا خوږه ژبه کارولې ده چي سړی يې په څکلو نه مړيږي ښه جمله بندي، مکالمه نګاري، زور ور پلاټ او تلوسه د دې کيسې هغه ځانګړني دي چي لږ تر لږه په پښتو ادب کي د دې عمر په بل ليکوال کي موندل که ناممکن وي نو مشکل به ضرور وي خو زه چي کوم شي زيات وځورولم هغه، هغه درد ونه ځړيکي، اوښکي او غمونه دي چي پر دې تنکي ځوان تېرسوي او موړ ته يې په هغومره هنر د قلم په ژبه وړاندي کړي دي لکه دا هرڅه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوستونکي پخپله ليدلي او سهيلي دي هم دغه کريډټ د دې ځوان په برخه دی او په راتلونکي کي له ده څخه نور زياته طمع کېدی سي .
د دې کيسې د ژانر په هکله به دومره ووايم چي دا د يو ژوندي ليکوال خپله کيسه ده ، دې ته ژوند ليک ويل کېدی سي لاکن ژوند ليک د يو چا د ټول ژوند احاطه کوي ، دلته تر اوسه د ژوند ډېر پړاونه تر سره سوي نه دي ځکه دا بشپړه ژوند ليک نسي کېدی .
دويم داستاني اوچرک دی ، اوچرک د هغه انسان کيسې ته ويل کيږي ، چي کار او جنګ کوي او له نورو ژانرو څخه يې يوازينی توپير دا دی چي په جګړه ، وطن دوستي او حماسه پنځونه کي ګرم زړونه او تودې ميني زيږوي خو تر اوسه په پښتو ادب کي په بشپړه توګه د اوچرک د ځانګړنو ټاکنه سوې نه ده ، يوازي دومره چي ليکوال به په هغه کيسه کي پخپله موجود وي او د داستان په ډول به وي او د جنګ سره تړلي خبري به پکي تکراريږي ځکه تر اوسه موږ په پښتو کي په بشپړه توګه د اوچرک داسي مثال نلرو ، يوازي د پښتو د دوو کيسو په اړه ويل کيږی چي دا اوچرک ته ورته دی .
خو زما په اند د مقتصد ستړي دا کيسه د ناولټ په ژانر بشپړه پوره خيژي ځکه خپله کيسه په دومره مقدار په افسانويي انداز د بشپړه پلاټ، کردارونو ، مکالمه نګاري ، جمله بندي او تلوسې سره بيانول د ناولټ تعريف کېدلی سي خو دا هم هيرول نه دي په کار چي د يو ژانر هنري توکي هلته ارزښت لري چي په کيسه کي نور څه نه وي نو لوستونکی د ژانر و ځانګړنو ته به ځير وي خو يوه کيسه چي د لوستونکي په ذهن او زړه دومره اغيز وکړي چي ګوتي يې د کيسې د پاڼو په اړولو بوختي ، سترګي يې د کيسې له زوره پُرنمي د زړه درزا يې د کيسې د تلوسې او فکر يې د هغه جرات او پيغام سره څنګ په څنګ روان وي نو بيا د ژانر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ضمني توکو ته د چا پام نه اوړي ، هم دغه ټول توکي د مقتصد په ګنهګار ناولټ کي موجود دي ...
راسی تاسو يې پخپله ولولی چي دې ګنهګار خپلي کیسې ته کوم اندامونه ایښي دي .

په درنښت
ډاکټر لیاقت تابان
۱۶ مې ۲۰۱۷ء ګیلاني روغتون کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ګهنګار باندي به زړه د آسمان چوي

درد چي ترحد سېوا سي نو دردمن او پرهر،پرهر زړه خو به د درد له څړيکو يو څو ګهنګاري چيغي باسي ،يو حساس او وينښ ليکوال ، يو سپېڅلی شاعر او سالم ضمير لرونکی د شعور څښتن چي د تيارو مخالفت ونکړي ، د ټولنيزو ناخوالو او ستونځو په خلاف احتجاج ونکړي او د درد چيغه ټپه نکړي نو به نور څه کوي ...

" ګهنګار" ډېري تاندي هيلي زندۍ کوي ، د خپلو ارمانونو په مرۍ پښه ږدي او په ډېر ورړوکوالي د سترې ژوند په مبارزه ځان ورګډوي ، دردونه په اوښکو مينځي او ژوند ته په ډېر اعتماد سره دا باور ورکوي چي زه ستا د ستړيا قابل يم خو ګوره چي ته را څخه ستړی نسې .

د " ګهنګار" په هر رنګ کي د درد رنګ جوت دی د لوستونکي په روح کي وڅخيږي ، لوستونکي د تلوسې سره مخامخ کول ، يو ښه ګړی يې د ماضي نندارې ته په کتلو اړ باسي ځکه چي " ګهنګار" په خپل ماضي هيڅ شرمندګي نلري نه ورپسي ساړه اسويلي کوي ځکه چي د هيلو ډک زړه يې په برخه دی او يو روښان مستقبل ته غوړېدلي تاندي هيلي غېږي ، غېږي ګرځوي ژوند سره په بدترينو ، ستونځمنو سترو حالاتو کي هم مينه کوي او ژوند خوښوي ...

" ګهنګار" منافقتونه بربنډوي او د واقعيتونو د روښانولو په پلمه د ژوند ازغن بار ته لوڅه شاه ورکوي ، دا رنګ " ګهنګار" د ژوند د تېرولو دا ګهنګاري په ګهنګارو چيغو ورسره قبلوي د ژوندپر پل ، پل ورسره ايږدي ارمان قتلوي او د هيلو پر ايرو د درد څلي دروي د اوښکو په دعاوو د هر ګنهګار روښان سباوون ويادوي ، په تنهاکو پښو د شپې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوازيتوب په قبرونو کي د هيلو شمعي ولګوي تر ازغن دېوال وړر سي...
"ګهنګار" باندي به زړه د اسمان چوي
ژوند مشال دی، ښه به څه کړم، اور دي واخلم

**په درنښت**

عصمت الله زهير پښنين

۲۰۱۷-۵-۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خپلې خبرې

کېدای سي ددې کتاب (ګنهګار) په لیکلو قلم رنګ راتمام کړي او مرور غوندي د کتابچې څنډې ته ورغړي، فکر نه کوم دا کتاب هم د لیکلو ارزښت لري یا به یې څوک په آرام زړه ولولي، داسي کوم څه دي چي په لیکلو یې قلم تمام او مروریږي ،داسي کوم څه دي چي زه یې په لیکلو کښې زړه نا زړه یم او نشم کولای ستاسو تر غوږونو پوري یې در ورسوم؟

یه ربښتیا کولای سم ووایم ژوند د یو وحشتناک ځنګل مزل دی ګام په ګام د داړونکي ځناورو، د اوبو په نیستۍ ، د تیارو په غېږ کښې د څو رنګه خوځندو سره یو ځای سرې شپې تېرول دي ،لاکن زه څرنګه دا خبر کولای سم د هغو خلکو په مخ کښې چي د ژوند خوندونه یې څکلي دي، اصلي خبره به هم دا وي چي زه په ړندو سترګو قضاوت کوم هغه کسان چي په رڼو سترګو د ژوند مزل کوي زما منفي خبري نه راسره مني له هم دې وجي مي قلم مروریږي او نه غواړي زما د ګنهګار ژوند کیسه ولیکي، که چیرته زه ووایم ژوند ښکلی دی لوړي او ژوري لري، خوږې، ترخې، ورځې او شپې لري، ژوند خوندونه او څومره ډېر رنګونه لري ناممکن څوک به یې نه ولولي ، ممکن په لیکلو به یې قلم رنګ راتمام کړي او د کتابچې څنډې ته به ورغړي.

وخت تر ټولو ښه کره کتونکی دی هغه کولای شي ښه او بد سره بېل او راتلونکي زمانې ته یې د اصلاح لپاره وړاندي کړي .

ددې کتاب تر لیکلو وروسته آرام سوم او د ماضي د درد کیسه مي له زړه او روح څخه پاکه وڅنډل سوه ، ما نه غوښتل دا کیسه دي له ما پرته بل څوک هم ولولي کله چي مي دا کیسه د  درد د باچا مخي ته کېښوده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښکې یې را وبهیدې،زما د درد اختیار یې واخیست او هغه کتابچه یې له ځانه سره یووړه چې زما د ماضي کیسه ورباندې لیکل سوې وه او هم دا ده نن یې ستاسو تر لاسونو هم در ورسوله.

مقتصد ستړی
لاهور
۹/۵/۲۰۱۷ سه شنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپل ژوند د کیسې لیکلو تلوسه راسره پیدا سوه، ادې ته ورغلم هغې دا مهال په خونه کښې بالښتونه ګنډل زه هم د کړکۍ سره نږدې یوې خواته کښېناستم او پوښتنه مې وکړه:

_ ادې غواړم پوه سوم زه څومره بدبخته وم کله چې دې نړۍ ته راغلم؟

هغې وويل:

_ خدای مه کړه چي ته بدبخته سې ، خو له کومې ورځ چي ته پیدا سوی یې زه ناروغه یم، ډاکترانو ته ځم او راځم، آن تردې چي ستا د پیدا ېښت په لومړي کال دومره ناروغه سوم چي پلار دي د پاکستان هیواد ته درملني لپاره یوړم .

ومې ویل:

_ ولي دلته ډاکتران نه وو ؟

ستن یې په بالښت کښې وټومبله، تار یې مزی کړ غړند یې وویل:

_ نه وو ډاکتران چیرته وو ، په ټول کلي همدا یو بې سواده ډاکتر و و ، چي هر ورځ ناروغ ته به یې یو ورګولۍ ورکولې.

له شنه چای څخه یې پیاله را ډکه کړه، بالښت ته یې سوربخن پوښ ور واچاوه، ما را څنګ ته کړ تکیه سوم او ومې ویل:

_ انا به ویل زه کوچی یم دا رښتیا ده؟ که دا رښتیا وي نو ولي کوچی یم؟

یو سوړ اسویلی یې وکیښ، ولاړه سوه، او بالښتونه یې په نیالۍ کتار کړل څه یې نه وویل ما بیا پوښتنه وکړه:

_ ادې ! انا مې ولي کوچی بولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ويل:

_ مشر ماما دي په يوه لري پرته سيمه کښې له کوچيانو سره اوسېده، د دوئ کره تللې وم، ناروغه سوم او له هغه سره ډاکتر ته ولاړم ته مې په کيږدۍ کې پريښود ې.

ومې ويل:

_ بيا څه وشول؟

_ زه چې راتلمه را وينښ سوی وې ژړلي دي وو، يوې کوچۍ ميرمني خپلي شيدې درکړي وې.

يو دوه غوړپه تريخ او ګرم چای مي تر ستوني تېر کړ بيا مي پوښتنه وکړه:

_ ادې ! اوس مي هم هغه مور ژوندۍ ده، که زه وغواړم ليدلی يې سم؟؟

ادې د نخودو څو دانې خولې ته واچولې او وې ويل:

_ هم هغه مور دي لا پخوا د کورنۍ تاوتريخوالي له امله ځان په ټوپک وويشت او مړه سوه.

ويش خوارکۍ ...

ادې مي مخامخ راته کښېناسته ټيکري ته يې ورپام سو په ختو ککړ دی، لړيې سره وسروړو، ور پوه يې کړل خاوري يې باد سوې.

ومې ويل:

_ مقصد زما دوهمه ( رضايي) مور کوچۍ وه او په هم دې ډول زه کوچی هم يم، که کوچی يم نو بيا ولي په کيږدۍ کي نه اوسم، ميږي او اوښان نه ساتم ؟

ادې وخندل او پياله يې ځان ته ور ډکه کړه، بالښتو ته يې کتل لکه چي سم نه وو، زه د کيسې په ليکلو بوخت سوم، پيالې ته مي ورپام نه و سړه سوه.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه د ادې تر ټولو ګران زوی وم او په ما هم ډېره ګرانه وه، ما نه غوښتل له کوره دباندې ووځم، او هغه وخت چې د ورځې په اوږدو کې یې ترلاسه کوم، تل یې باید د ادې تر څنګ تېر کړم، مشر ورور به دځان سره لوبو ته بیولم که کومه ورځ به نه ورسره تلم وهلم به یې، یوه ورځ چې مشر ورور او تر ما کشر ورور راسره وو د تره له ځامنو سره مائیګر مهال مو تر ماښام قضا پوري دهغوئ د کور سره نژدې کاغذ پرانونه الوزول، ماښام ناوخته مې ورونو ته وویل:

راځئ نور به کور ته لاړ شو پلار به راته غصه وي!

زما په خبرو کښي چا چرت هم نه واهه، خپله مخ مي ونیوه او کور ته ولاړم، دوئ هلته پاتي شول، ادې ته مي ډېري ګیلې وکړې، هغې زما د زړه لپاره دا خبر بیا، بیا تکراروله چي "بلا دي ورباندي وګرځه " ماخستن ناوخته کله چي پلار مي له جومات څخه راغی پوښتنه یې وکړه، زما چي زړه ښه ډک وو، ګیلې مي پیل کړې، پلار مي پر ورونو سخت غصه شو او زه یې په نیمه شپه د هغوئ په راوستلو پسې ولیږلم.

د تره کور مو دومره لري هم نه دی متل دی چي "په توره شپه کښي هر سړی ډارېږي څوک حال وایي څوک یې نه وایي " زه هم تر هغه ځایه په داسي حال کي چي د خپلو څپلکو له ځړپا به هم ډاریدم ورغلم هغوئ مي را وستل، ټوله لار یې سوړتک واهه او له ځانه سره غړمبیدل چي ولي یې په دا نیمه شپه راوستل، سترګي یې له خوبه وې، پښې یې کښنولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي کور ته راغلم پلار مي ورونو ته د يوې شيبې په نيت ور څنځير کړی تر څو د خپل عمل سزا ووينې، زه هم د باندي ورسره پاتي شوم هر څومره چي مي وژړل چا زما غږ نه اوريده، خدايه څومره زور غواړي چي يو څوک دي بې ګناه څوروي، له لږ ځنډ وروسته مي خور را ووته ستړګي يې را باندي ولګيدې، په خوا پوري يې ونيوم په خپل خيرن او شينبخون پړوني يې زما اوښکي را پاکي کړې، زما په حق کښې يې له مور او پلار څخه ګيلې کولې:

تاسي له خدايه نه ډارېږئ ! ها؟

_ ددې خوارکي څه ګناه وه چي بېچاره مو په نيمه شپه د دوئ په راوستلو پسې وليږو اوس بيا سزا هم ورکوئ.

پلار مي پر سر خپل تڼاکي او ځيږ لاس راتېر کړ، مور مي په نرمو شونډوسره په ټنډه باندي ښکل کړم، په خوا پوري يې ونيوم بيا يې په خپل کناويز کميس کښې له ځان سره نيژدې څملولم.

خورکۍ دواړه وروڼه په دسترخوان کښېنول، لاسونه يې وروميڼځل، ډوډوی يې ورکړه، که څه هم د تره کره يې خوړلې وه، بيا يې هم غټې، غټې ګولې له الوګانو څخه پورته کولې، فکر کوم په هم دې چي ولي يې ماځيګر زما خبري نه منلې، او د تره کره پاتي شول پښيمانه وو، يوه شيبه لا نه وه وتلې چي د مور په مينه او غېږه کښې ارام خوب وړی وم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


د طالبانو حکومت او د پسرلي موسم دی، ښوونځی پیل شوی، د تره ځامن، د ګاونډیانو کوچنیان، لیري او نژدې ټول ماشومان ښوونځي ته روان وو ، ماښام چې پلار مې له جوماته راغی، ډوډۍ مو لا نه وه راخیستې چې ادې ته یې زما په اړه وریاده کړه:

_ نور باید مقتصد ښوونځي ته ولاړ سي، اوسهار، سهار به یې ور واچوم!

ادې څه نه وویل، خورکۍ ووته د دې لپاره چې ډوډۍ را واخلي، مشر ورور راپسې وخندل او زه یې وډار کړم چې تر دېوال به دې ښوونځي ته ور واچوي او په ما باندي یې ټوکي وهلې، دا وخت زما مشر ورور په دریم ټولګي کښې وو .

سهار چې ښوونځي ته تلم پلار مو تر موږ وختي تللی وو ځکه هغه د کلي په جومات کښې امام وو او په ښوونځي کښې ښوونکی ، له لمانځه وروسته به یې د کوم کلیوال په میلمستیا د هغوئ په کور کښې سهارنۍ خوړله او بیا به ښوونځي ته راته .

ښوونځي ته په لاره کښې مشر ورور ښه ډېر تنګ کړم او بلا اخر مې ورته وژړل، ده بس هم دا یوه خبره کړه چې ښوونځي ته به دي تر دېوال ور اچوي، زه کوچنی وم، په هره خبره مې باور کاوه او ډاریدم، که تر دېوال مي ښوونځي ته ور واچوي زه به خوَږ سم، عموماً په ماشومانو ځان ګران وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښوونځي ته له رسيدلو سره سم مي په خپل پلار سترګي ولګيدې، هغه هم زما په ليدو خوشحالي احساس کړه په شونډو کښي يې وخندل او تر لاس يې ونيولم، ټولګي ته ننوتل ما وليدل چي يو ښوونکی زده کوونکو ته په درس ورکولو بوخت دی، پلار مي په دوئ سلام ووايه، ماشومان په خپلو ځايونو کښي نيغ ودريدل، ښوونکي هغوئ ته په قهرجنه لهجه وويل:

چي يو ښوونکی په ټولګي کښي ولاړ وي بل ښوونکي ته مه دريږئ.

زه پوه سوم چي ټولګي ته د ښوونکي په راتګ سره بايد ټول زده کوونکي پخپل ځای کښي د احترام لپاره ودريږي او دا کړنه يې د ښوونځي له ځانګړو اصولو څخه ده .

ښوونکی تردې وړاندي زه پېژنم، چي زمونږ د کلي د يو بل ملا امام زوی او اوريدلي مي وو چي په ولسوالۍ کښي د طالبانو قومندان هم دی، زما دسر په ويښتانو يې لاس راتېر کړ او په مخامخ لومړنۍ څوکۍ يې کښېنولم، پلار مي په شونډو کي وخندل او له ټولګي څخه ووت.

ښوونکي درس پيل کړ په ښه او بد يې نه پوهيدم، پټه خوله ناست وم کله چي ښوونکي درس تمام کړ، زه يې په مخ باند مي مچ کړم، او ماته يې وويل چي سبا به کتابونه، کتابچې او قلمونه هم درکړل شي، د دې خبرو په اوريدلو سره خوشحاله سوم ښوونکی ووت، د تره زوی مي چي د ټولګي د پای په څوکۍ ناست و، زما خواته راغی، د ځان او ټولګيوالو صفت يې راته کاوه، تر څو زه ډاډه ووسم او زړه مي تنګ نه سي.

د تفريح ترڼګۍ ووهل شوه، ټول زده کوونکي د ښوونځي انګړ ته راووتل، له مشر ورور او د تره ځامنو سره مي پټيره مړی او شړومبې وخوړلې لوبي مو پيل کړې، د تفريح وخت ډېر ژر تمام سو، ښوونکو زده کوونکي د لښتو په زور ټولګيو ته دننه کړل، او يو ځل بيا درسونه پيل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ځل چې ټولګي ته ننوتل، هم هغه ښوونکی راغی په راتګ سره یې موږ په خپل ځایونو کښې نېغ ودرېدل، سلام او مونږ ته یې د کښېناستلو وویل، ښوونکی په ځانګړې ځوکۍ چې د توري تختې خواته نږدې ایښودل سوې وه کښېناست، لږ ځنډ یې د کتابچې پاڼې اړولې را اړولې، او توري تختې ته ودرید، زده کوونکو ته یې وویل:

د رسم کتابچې راوکاږئ! ټولو زده کوونکو کتابچې را ویستلې، ښوونکی په رسم لیکلو بوخت سو، یوه ګلدانۍ یې رسم کړه په څو رنګه تباشیر یې رنګ کړه او بیا یې زده کوونکو ته د لیکلو امر وکړ، ښوونکی له ټولګي ووت، د ښوونکي په نشتون کې د زده کوونکو شور ماشور تر حوصلې پورته سو، چا رسم لیکلی وو چا ته نیم پاتي دی چې یو شوخ زده کوونکی د توري تختې مخې ته راغی، تخته یې پاکه کړه او له هم دې سره د زده کوونکو تر منځ جګړه پیل سوه نه پوهیږم کوم یو به وو چې د ټولګي له پای څخه یې یوه درنه څپلۍ راخطا کړه په څټ کښې یې وویشتم، ما وژړل، زده کوونکي ټول پخپلو ځایونو کښېناستل دوئ ډاریدل که ښوونکی راشي موږ به ټول ووهي چې ولې یې هم دا نوی زده کوونکی وهلی.

د چا مخ نوکاري او دچا په تباشیرو سپېره سوی، ترنګۍ ووهل سوه، نارې سوې، زده کوونکي له ټولګیو راووتل او کورونو ته رخصت شول، زه هم په داسي حال کې چې سلګۍ مې وهلې مشر ورور تر لاس ونیولم او د تره له ځامنو سره په ګډه د کور په لور وخوځیدلو .

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


کور ته له رسېدو سره سم ادې په دواړه مخ ښکل کړم، د ژړا علت یې وپوښتو، ما هم په ژړغوني حالت کښې ادې ته د ښوونځي لومړنۍ ورځ ټوله کیسه وکړه، په خپل ټیکري باندې یې اوښکې راوچې کړې، دا وخت مې پلار هم راغی، زما او نورو وروڼو په سر یې لاس راتېر کړ، خور چې توده ډوډۍ یې په لاس کې د دالان په وره کې ولاړه وه او خندل یې، زموږ خور چې تر ټولو مشره ده ، له پلار سره یې ستړې مشې وکړه، لاسونه یې راووینځل، دسترخوان یې را ویړ کړ او ډوډۍ مو وخوړله، له غرمنۍ خوړلو وروسته د نور کله سره سم ټول ویده شول ماته به خوب نه راته کله چې به دوئ ټول ویده شول را پورته کیدم زمونږ کور د غره په لمن کښې دی، د پسرلي په موسم کښې به د کوچیانو ګاونډیان وو، د پسونو او اوښانو رمې به تېریدلې غره ته به وختم ننداره به مې تر سترګو تېرولې، تر ټولو په زړه پوري ننداره یې هغه وه کله چې به ما کوچیانۍ پېغلې او انجونې په کاڼو ویشتلې، دوئ به خپل خروړي سپي "چې لکۍ او غوږونه یې غوڅ کړل سوي وو" راپسې ښکارل، که څه هم زه به ورڅخه ډاریدم خو له دې ننداره مې ځانګړی خوند اخیست.

ما سپښین مهال چې پلار به مې د لمانځه لپاره جومات ته راووت زه به ژر خوني ته ننوتم، ځان به مې د خوب په پلمه واچوی، بیا چې کله به د کورنۍ غړي ,,ادې، خور او وروڼه،، راویښ شول، وروڼو له ما څخه شکایت کاوه چې نن بیا نه یم ویده سوی او ټوله غرمه لمر ته ګرځیدلی یم ، د ادې تر ټولو ډېره اوسخته سزا دا وه چې زه باید پرش سیوري ته ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوار او ګیلاسونه تیار کړم، دا کار باید ما کړی وای ځکه له یو مشر ورور پرته نورځلور وروڼه تر ما کشران وو، کېدای سي ګیلاسونه مات کړي، خور به مي د ماسپښین د لمانځه تر ادا کولو وروسته سمدستي په چای پخولو پسي دالان ته ننوته .

ماځیګر مهال چي د لمر سترګه به غره ته ورتېښتېده د کوچیانو نندارې ته ورتلم یو لوښی به هم راسره وو، چي له مېږو او وزو څخه تازه لوشل شوي شیدې له کوچیانو څخه راوړم، ,, رمې به کېږدۍ ته راغلې، وري به یې د غره په بله لمن واړول کله چي به ټولي مېږي او وزې ولوشل سوې، بیا به یې وري او سېرلي ورته را پرېښودل، بغاري به سوې هر وري او سېرلي به خپله مور پسې غوښته ،، دا وخت یوازې زه نه اکثر کلیوال راتلل او له هم دې ننداري یې خوند اخیست.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپې او ورځې تېریدلې، په ښوونځي کښې یې کتابونه راکړل درسونه پیل شول، په ټولګي کښې د اکثر همزولو تر پام بد ورتلم ځکه چې زه په نګران ښوونکي ګران وم او نازولم یې .
یوه ورځ ښوونکي ټولو زده کوونکو ته وویل چې کتابونه په یو پوښ کې وګنډي تر څو ځیري نشي، کور ته له راتګ سره مې ادې ته د ښوونکي خبره وکړه، ادې ډاډه کړم چې کتابونه به خامخا په یو پوښ کې راته ګنډي، نه پوهیږم څه وجه به وه یو علت یې دا هم وو چې زمونږ آنا ( د ادې مور ) ناروغه وه، تمامه ورځ به یې د هغې په خدمت کښې تېره کړه، سبا ورځ مې بیا ادې ته وریاده کړه چې کتابونه راته وګنډي خو تر څه پوري سره پاتې شول، بله ورځ چې ښوونځي ته ولاړم، ښوونکي د زده کوونکو کتابونه وکتل ټولو ګنډلي وو، زه او یو بل زده کوونکی چې کتابونه مو نه وو ګنډلي د توري تختې مخې ته یې را وغوښتل، په لښته پسې یې ولیږل، دواړه را ووتل دوري، دوري وګرځېدل کومه خاص لښته مو پیدا نه کړه بیرته ټولګي ته ورغلو او ښوونکي ته مو وویل :
_ لښته مو پیدا نه کړه !
ښوونکی په غصه سو او د ماتې څوکۍ دړه یې را کش کړه دومره یې ووهلو چې په دواړو یې پښې او لاسونه تک شنه کړل .
کور ته چې راغلم ادې ته مې ښه ډېر وژړل، سبا ته یې کتابونه په یو پوښ کې راته وګنډل، دا چې وهل مې تر مخ وخوړل له ادې زښته ګیلمن وم، په سبا چې ښوونځي ته ولاړم ښوونکی د کتابونو په لیدلو خوشحاله سو له

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیکمرغه هغه بل همزولي هم ګنډلي وو، مونږ دواړو ته یې ښه ډېر نصیحت وکړ او د کتابونو په ارزښت یې خبر کړو .
هغه وویل:
_ کتاب د انسان شخصیت جوړوي او د یو ښه فکر درلودونکی انسان د ټولني لپاره ګټه ور شخص ګرځیدلی سي، د انساني ټولني د تکامل او لوړتیا لپاره اسماني دینونه او د بشر د تاریخ شخصیتونه د کتاب له لاري تلپاتي شوي دي، د بشري ټولني اړیکي هم د کتاب له پوښ سره پیاوړي او تړل شوي دي .
د نور کله په څېر نن هم په خپل وخت باندي کور ته راغلم او له معمول سره سم مي کورنۍ دنده ولیکله، لوبو ته ووتم، ماخستن چي کله موږ ټول ډوډۍ خوړلو ته را ټول شو ادې مي پلار ته له مشر وروره شکایت وکړ او ورته وویل:
_ حکیم مي هیڅکله په اسانۍ سره خبره نه مني !
پلار مي یوه ګوله وچه مړۍ ور پورته کړه او د شړومبو غړپ یې پسي وکړ په ډکه خوله یې وویل:
_ ماشوم ته تعلیم په ښوونځي کښي او تربیه یې باید په کور کي ورکړل شي دا ځکه چي ماشومان په کور کښي لویانو ته ګوري او دهغوئ کړني له ځانه سره تکراروي .
یو بل غړپ یې وکړ ګوله یې زوو له خبري یې اوږدې کړې:
_ تر تعلیم تربیې ته ډېره اړتیا ده ډېر تعلیم یوازي د کار وسیله ګرځېدلی شي، په ټولنه کښي بهترېني تربیې ته اړتیا ده، زه به یې پوه کړم، ته هم په خوږه لهجه ورسره خبري کوه او خوشحاله یې ساته .
ادې په ما باندي ږغ کړ، او دخوب کولو یې راته وویل ځکه چي سهار به بیا په وخت نسم پورته کېدلی، زما پام سو چي مشر ورور مي لا وختي تللی ویده دی. ★★★.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسرلی او شوخي دواړه سره ګډ وو، مستي مي کړه، د ژوند له هري شیبې مي خوند اخیست، خوشحاله وم، لمر خپلي نیمګښي وړانګې تازه په غرونو غوړولي وې، پروني باران ونو او بوټو ته لا سمسورتیا وربښله، لري پرتو هندارو پړق واهه، زه او پلار مي دښوونځي په لور وخوځېدل، ځادر یې ورټول کړ د رنو اوبو تر ویالې یې ټوپ کړ، شا ته یې راوکتل او ماته یې ځو ډبري د اوبو په منځ کښي کتار کښېښودې، ورو، ورو مي الویزاند ګامونه اخیستل زړه نا زړه تر اوبو راتېر سوم، تر لاس یې ونیوم زما په تګ دواړه په ورو، ورو قدم رهي شو.

پلار مي وپوښتل:

_ کورنۍ دنده دي لیکلې ده؟

فکر مي وکړ پرون ورځ مي چي کورنۍ دنده نه وه لیکلې حتماً استاد ورته شکایت کړی دی بیا مي په اوچت ږغ چي پروني پل پټ کړم وویل:

_ لیکلې مي ده ځو پاڼې د حساب مضمون دنده یې راکړې وه ماخستن مي ستا تر راتګ مخکي بشپړه کړه او ویده سوم.

رښتیا مي هم لیکلې وه، پرون مي استاد په نه لیکلو وهلی وم، تا به ویل استاد مي تر شاه ځارنه کوي ماخستن مي تر ټولو لومړی خپله کورنۍ دنده ولیکله.

یوه شیبه مو د یو بل د بوټونو په ځرپا کښي غلي، غلي ګامونه واخیستل، د باسیکل ترنګۍ مي تر غوږ سوه، د پروني باران د خړو اوبو په ډنډ کښي یو سړی د سلام په ویلو زمونږ تر څنګ تېر سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار مي خپل لاسي ساعت ته وکتل ګامونه يې ګړندي کړل لکه چي ناوخته وه ، زما په ماشوم ذهن کښي را پيل کېدونکې خبري په زړه کښي د ساتلو نه وې و مي ويل:

_ پلاره تا به هم ځان ته يو بايسکل اخيستی وای ښوونځي ته به دواړه ژر رسېدلی له کوره به هم دومره په وختي نه راوتل .

غلی شو لکه چي زما خبري ته يې ځواب نه درلود ، بيا يې هغه دوکان ته اشاره وکړه کوم چي ماکله هم په خلاص وره نه دی ليدلی .

وويل:

_ هغه زمونږ دوکان دی دا ځل چي د ښوونکو تنخوا راشي لږ سودا به پکښي واچوو ، د ښوونځي له ځانګړي وخت وروسته به پکښي ناسته کوم ته به هم راسره لګيا يې .

نوی نوم مي تر غوږ شو ، ماشومان په ژوند کښي هره ورځ له نويو نومونو او تجربو سره کرار ، کرار اشنا کيږي او د هغوئ په اړه پوښتني کوي .

و مي پوښتل:

_ تنخوا ! هغه څه شی وي؟

په داسي حال چي ګړندي ګامونه يې اخيستل، ځمکي ته تيټ سو ، د لاري په منځ کښي پرته ډبره را پورته او يو څنګ ته يې غوځاره کړه ويې ويل:

_ زوی جانه ! روپۍ در يادوم، هغه چي ماته يې په ښوونځي کښي د ښوونکي په توګه د دندي ترسره کولو په بدل کښي راکوي .

په چورتونو کښي تر ښوونځي ورسېدم، درس پيل شو ، زمونږ د دريم ټولګي نګران استاد په ختو ککړ کالي ټولګي ته راغی، ما فکر کاوه چيرته به د باران او بو ته لويدلی وي .

د تنخوا ليدلو چرت راسره وو ،کړکۍ وټکيده پلار مي دی، هره ورځ چې به د درس وخت خلاص شو پلار به مي ماته راتله او زه به يې له ځان سره کورته راوستم، د ښوونځي له دروازې را ووتلو ، جيب ته يې لاس کړ څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنه او سره لوټونه يې وشمېرل بيرته يې په جيب کښي واچول ، زما په خوله کښي خبره نه تم کېده و مي ويل:

_ پلاره تنخوا دي واخيسته ؟

تر ډېره يې څه نه ويل لکه چي زما څخه يې دا خبره پټوله، بيا مي وپوښتل:

_ پلاره اوس به خپل دوکان ته سودا راوړې کنه ؟

اول يې څه نه ويل کله چي پوه شو ځواب ته يې داسي غلی يم لکه پيشو ، ويې ويل:

_ کمي يې راکړې، څو ګونۍ اوړه او غوړي به اوس کورته يوسو، راتلونکې تنخوا چي واخلم که خير او ژوند وو ، دوکان ته به سودا راوړم .

د پلار بې وسي ورځي مي ماشوم زړه ته لاره وکړه په ذهن کښي مي ډول، ډول خبري را وګرځيدې، زړه نا زړه مي پلار ته له خولې ور ووتل:

_ پلاره زه چي دولسم ټولګی خلاص کړم بښوونکی به سم ته دي په خپله تنخوا کورته اوړه را وړه او زه به پخپله تنخوا دوکان ته سودا .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکایانو د راتګ اوازې سوې، او په ډېر لږ وخت کښې دا اوازه په حقیقت بدله سوه، د طالبانو په امر ټول ښوونکي او زده کوونکي یې د ولسوالۍ بازار ته وبلل او د طالبانو په حمایت یوه لویه غونډه وشوه، زه نه پوهېدم څوک ښه دي او څوک بد خو پلار به مې ویل که دا حکومت رنګ سي کیدای سي حالت بدل سي څنګه بدل سي دا یې هم نه راته ویل.
پلار مې یو ماخستن چې راغلېو ته یې غوږ نیولی، کرار ناست وو، زه له کړکۍ سره نژدې په خط لیکلو بوخت وم، ادې ته یې وویل:
_ حکومت بدل سو، امریکایان به واک "کرزي" ته وسپاري؛ ما ولیدل ادې توبې ایستلې او ډارېده چې کفار راباندې مسلط شول اوس به څه ډول حالت سي څه به کېږي یو خدای خبر.
د اوسني خبرونو په بنیاد دطالبانو حکومت د ۲۰۰۱ میلادي کال په پای کښې رنګ سو، واک د امریکایانو لخوا حامد کرزي ته ور وسپارل سو او درې کاله یې دوام وکړ.
د بیا ځلي ټاکنو لپاره کمپاین روان وو، که څه هم طالبانو ویره او ډار د خلکو په زړونو کښې ور اچولی وو، جوماتونو ته یې داسې پرچې رالیږلې وې چې که چا رایه واچوله ګوتې به یې غوڅې کړل شي، بیا هم لږ او ډېرو خلکو د رایې اچونې کارتونه واخیستل او د خپل هیواد مستقبل ته یې رایه ورکړه په دوه زره او څلورم میلادي کال کې د خلکو په رایه حامد کرزی واک ته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځ چې د هم دې ولایت محترم والي صاحب له خپل پلاوي سره سیمې ته راغلی وو، مونږ د ښوونځي ټول زده کوونکي د مدیر او سر ښوونکي په امر د ښوونځي مخې ته د سړک دواړو غاړو چې لاسونه مو سره ورکړي وو کتار ودرول، د والي استقبال مو وکړ، څو دعسکرو او څو نور تور موټرونه په بیړه، بیړه تېر شول زما په شمول هیڅ یو زده کوونکی نه پوهیده چې والي به څرنګه ښکارېږي او څه دنده لري.
زما سره د خپل پلار د کړې ژمني غم وو، تل به مې هغه دوکان ته دوه سترګې نیولې وې کوم چې پلار راته ویلي وو، دا زموږ دوکان دی یو وخت به سودا ورته راوړو، دا هغه دوکان دی چې د طالبانو په وخت کې زما د پلار په شمول ټولو ښوونکو ته ورکړل شوی وو، او بلا اخره یوه ورځ داسې هم راغله چې پلار مې د سویډن کمیټې معاش اخیستی وو او دوکان ته یې سودا راوړه.
دا زما لپاره د خوښۍ ځای وو چې دوکان لرو، خو دا چې ادې به دوکان ته نه پرېښودم زور به یې راکاوه، موږ به کور ته اوبه له کاریز څخه راوړې،،چې زمونږ له کور سره یې تر منځ دوه غونډۍ وې،، کله نا کله یا که وایم هره ورځ، تر لمانځه وروسته اوبه به مې راوړې، بیا تر سهارنۍ وروسته به چې اوبو ته ولاړم لاسي ریړۍ به مې د غونډۍ په سر پرېښوده او زه به دوکان ته وتښتېدم.
په کور کې په مور او پلار ګران وم همدارنګه په ښوونځي کښې هم په ټولو ښوونکو ګران وم، یوه ورځ چې ښوونځي ته د سویډن کمیټې غړي راغلي وو، د زده کوونکو تر منځ یې درسي سیالۍ ترسره کولې، زمونږ له ټولګي یو تن زه او یو بل زده کوونکی، بل ټولګي ته د سیالۍ لپاره وغوښتل شول زه او ملګری دواړه تکړه وو، ملګری مې د ټولګي اول نمبره او زه دوهم نمبره وم دا چې ولې دوهم نمبره وم او ولې اول نمبره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


یم له دې ملګري مې کرکه کیده او ما نه غوښتل مخ یې ووینم؛ سیالۍ څو د ریاضي سوالونه وو او بس کله چې سیالي زمونږ په ګټه پای ته ورسیده، د سویډن کمیټې غړو ماته په ډالۍ کښې یو قلم، کتابچه او مجله راکړل، خو زما ملګري ته یې یوازې قلم او کتابچه ورکړل.

له ټولګیوالو سره مې مینه لرله او راته ګران وو، خو دا هیڅکله راته د زغم نه وه چې یو زده کوونکی دې په درسونو کښې ترما مخکې او تکړه وښودل سي.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پینځم ټولګي کښې وم، د څلور نیمو میاشتنیو ازموینو ورځې وې نن مې د عقاید او ریاضي د مضمون ازموینه وه، پلار مې په ښوونځي کښې د عقاید مضمون استاد دی، د ریاضي مطالعه مې وکړه ډاډه وم په ازموینه کښې به کومه ستونزه ونلرم، دا وخت مې پلار په دوکان کښې پیتاوي ته ناست اوزمونږ ټولګي ته د سوالونو په ترتیبولو بوخت دی، سوالونه یې چمتو کړل تر څرک مې ورکتل، د سوالونو پاڼه یې د خپلې یوې کتابچې په پاڼو کښې کېښوده او مسجد ته ولاړ ...

له ځایه پاڅیدم هم هغه د سوالونو پاڼه مې را واخیسته له ځان سره مې ټول سوالونه ولیکل، له کتاب څخه مې ځواب کړل، پاڼه مې د خپلو کتابونو سره یو ځای کښېښوده، اوس مې زړه ښه ارام وو، لوبو ته ووتم ټوله ورځ مې په لوبو تېره کړه ...

ښوونځي ته لاړم لومړی د ریاضي ازموینه وه، ازموینه مې ورکړه فکر کوم ټول سوالونه مې سم وو، د عقاید مضمون ازموینه پیل شوه، پلار مې زما په شمول ټولو ته سپینې پاڼې ورکړې، سوالونه یې وویل د ځوابولو لپاره یې وخت راکړ هر زده کوونکي په خپله پارچه کښې سترګې خښې کړې وې، د سوالونو په ځوابونو یې فکر کاوه، ما هم ځان غلی کړ له جیب څخه مې د حل شوي سوالونو پاڼه را ویسته لاندي مې په میز کې تر نظر لاندې کښېښوده، د سوالونو په ځوابولو بوخت سوم، دا به څنګه وایم چې څومره ویره راسره ده اوس به مې پلار ویني اوس به ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریم سوال مي حل کړ، څلورم هم ځواب شو، ټولي نهه پوښتني دي دا دی د پینځمي پوښتني په ځوابولو بوخت وم.
د تیاري ځواب شوي پارچې څخه د سوالونو ځوابول څومره آسانه دي واه...
پلار مي څنګ ته راغی لکه چي لیدلی یې یم زړه مي ټکان پیل کړل، وجود مي پړک واخیست او دا دی لیدلی یې وم، تر غوږ یې کش کړم، پارچه یې راڅخه واخیسته د ټولګیوالو ترمخ یې څیري، څیري کړه، نیم تمام شوم داسي چي په خپل کمیس کي له خپل ځانه پټېدمه، ټولګیوالو به دا خبر تر غوږ را تېروله، خپل پلار په نقل ونیو بیا به یې هم نمبرې پوره وي، دې خبرو به لا زور غوښت، په کور کښي به هم د پلار تر راتګ مخکي ویده کېدم دې لړۍ څو شپې دوام ونیو .
ازمویني خلاصي شوې، رخصتۍ شوې، کله چي بیا ځلي ښوونځي ته راغلم، هر شاګرد سترګي د نتایجو ورځي ته نیولي وې، د څلور نیم میاشتنۍ ازمویني نتایج له څو شپو ځنډ وروسته زمونږ د ټولګي د نګران لخوا اعلان شوې، پلانکی کامیاب،پلانکی ناکام، د ټولګي دوهم نمبره او د پلار نازولی زوی په ټولو مضمونو کښي ښې نمبرې وړي، خو په عقاید مضمون کښي مشروط دی .
له زده کړو سره مینه که زموږ وه، تادو یې بیا زموږ پلار ایښی وو او هر وخت به یې راته د درس ویلو وصیت کاوه، ښوونځي ته به د "معلم" مجله راتله، هر کله چي به دا مجله راغله پلار به مو کور ته هم راوړه، یوه ورځ مي ورته وویل چي دا کوم معلم دی پلاره چي ته یې مونږ ته مجله راوړې؟
وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


_ زویه دا د هر معلم مجله ده که زه ژوندی وم ته به درس و وایې او ستا مجله به نور معلمان کور ته وړي، کوشش وکړه چي درس ووایې تر څو ژوندی یم.

ما وپوښتل :

_ نو ته به چیرته ځې؟

را غبرګه یي کړه:

_ مرګ حق دی او حقیقت نه پټیږي، دا چي تاسو به ولي زما تر شتون پوري زده کړي کولای شئ په دې زه هم نه پوهیږم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو سهار چې ښوونځي ته روان وم، نور هلکان ددې پرځای چې ښوونځي ته ولاړ سي بیرته کورونو ته روان وو، زه دې منظر حیران کړم د هلکانو په دې خبره مې باور نه کاوه چې ,, ښوونځی تړل سوی ،، ځان مې تر ښوونځي پورې ورساوه، که ګورم په ښوونځي کې ډېر کم ښوونکي او زده کوونکي دي، په حیرانۍ سره مې له خپل همزولي وپوښتل:

_ څه کیسه ده آیا دا رښتیا ده چې ښوونځی تړل سوی که دا رښتیا وي نو ولي تړل سوی؟

زما همزولي چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې ,, او زه پوه سوم چې د اوښکو او ژړا لامل یې هم دا د ښوونځي تړل دي ،، راته وویل:

_ مونږ نه پوهیږو ښوونځی ولي تړل سوی خو دا چې سرښوونکي صاحب مونږ ته پخپله وینا کې پرته له دې چې څه ووایي وژړل د ټولو زده کوونکو اوښکې یې و بهولې.

زه د ښوونځي ادارې ته ننوتم، ما ولیدل چې په مخامخ څوکۍ مې پلار هم ناست دی، زه کوم بل ښوونکي وتړټلم او له ادارې یې را وشړلم، کله چې زه بیرته ناهیلی را ووتم، همزولو راپسې وخندل چې ماته یې ډېر زور راکړ…

د ادارې وره ته ناهیلی ولاړ وم، چې تحویلدار راغی او زه یې وپوښتلم چې ولي دلته ولاړ یم؟

ما هیڅ نه وویل، هغه تر لاس ونیوم او له ځان سره یې ادارې ته د ننه کړم، دا ځل چې ادارې ته ننوتم سرښوونکي چې ولیدم ژړلي مې دي او سلګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


وهم خپل څنګ ته کښېنولم، يو بسکټ او نيم ګيلاس چای يې راوا چول، زه د پيالې تر سرېدو پوري په تمه وم چې يو تن ښوونکي پخپلو خبرو کي وويل:

_ طالبان څه غواړي چي ښوونځي يې وتړل؟

له هم دې خبري سره زما هغه پوښتنه هم ځواب سوه چي ښوونځی ولی تړل سوی، ښوونکي خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

_ ښوونځی د ماشومانو راتلونکی روښانه کوي، له تيارو څخه مو رڼا ته راباسي که ښوونځی وتړل سي دا ماشومان چي زمونږ د هيواد راتلونکی دی راانده او کاڼه به لوی سي .

هيڅا څه نه ويل لکه ټول ښوونکي چي ملامت وي کله چي ښوونکي خبري پای ته ورسولې، ټولو ښوونکو او سرښوونکي په دې موافقه وکړه چي سبا به د ولايت تر مقام پوري يو لوی لاريون کوي ترڅو د طالبانو له لوري تړل شوي ښوونځي ژر، تر ژره پرانيستل سي .

لاريون ته د ښوونځي په انګړ کي ښوونکي او زده کوونکي راټول شول، د لاريون له اجنډا سره سم لومړی يې د ولسوالي بازار ټول دوکانونه وتړل او بيا ورپسې د ولايت په لور وخوځېدل، د لاري په اوږدو کي ټول دوکانونه وتړل شول، ولايت ته له رسېدو سره سم د ولايت امنيتي کسانو د لاريون مخه ونيوه او دې ته يې نه پرېښودل چي لاريون کوونکي د مرکز بازار ته ننوځي له ډېر مقاومت سره، سره لاريون کوونکي ولايت مقام ته په رسېدو بريالي نه شول او نه يې هم کوم چا بږغ ته غوږ وګراوه .

تر ماځيګر وړاندي لکه سکروټې چي سړې سي کراره، کراري سوه، لاريون کوونکي ټول خپلو کورونو ته ستانه شول، په دوهمه ورځ بيا لاريون د ښوونځي له انګړ څخه پيل سو دا ځل يې د ولسوالي بازار تر تړلو وروسته د لاريون مخ ولسوالۍ ته وګرځيد، کله چي لاريون کوونکي د ولسوالۍ دروازې ته نژدې شول ، د ولسوالۍ عسکرو په

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاریون کوونکو ډزي وکړې چي په پایله کښې پینځه تنه ځوان زده کوونکي ټپیان شول، دا چیغه مو هم په مری کښې بنده پاتي سوه.
له هغه وروسته چي د حکومت په وړاندي د خلکو چیغو کومه ګټه و نه مونده، قومي مشران د طالبانو له ډلي سره کښېناستل، ښوونځي یې پرانیستل او درسونه پیل شول، د طالبانو له غوښتني سره سم د لیسې او متوسطي دورې زده کوونکو او ټولو ښوونکو به ښوونځي ته پټکي(لونګۍ) په سر کول که د چا به خولۍ وه، وهل ټکول به وو او له ښوونځي څخه شړل.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حامد کرزي له راتګ سره په هیواد کښې د بیار غوني کارونه پیل سوي وو، زموږ د ښوونځي په ودانۍ، په بازار کي په روغتون او هم دا رنګه د عمومي سړک په جوړولو هم کار روان وو،د ښوونځي تر پرانیستلو څو ورځي وروسته په درسي ساعت کي د ښوونځي انګړ عسکرو واخیست، او په منډه، منډه یې څلور واړه کونجونه او هغه ځای چي ماتي څوکۍ او میزونه به پراته وو وکتل، د امنیتي کسانو له خولې په ښوونځي کي د باردو پټنځای دی او وسله پکښې ساتله کیږي، خو پیدا یې نه کړه او نه هم داسي څه وو، څنګه چي دوئ فکر کاوه.
نه پوهیږم ولي چي ښوونځی له تړلو وروسته پرانیستل سو، زړه به مي نه ورته ښایي ښوونځی لکه دجنګ میدان یا د مورچې غوندي ګرځیدلی وو.
یو ماځیګر باران پیل وکړ، جومات ته هم نه ولاړم، ماښام مي ډوډۍ وخوړله، کتابچه مي راوخیسته د کورنۍ دندي په لیکلو بوخت وم، په کتابچه مي پرله پسې څاڅکي ولګیدل، له پاسه خونه راباندي څڅېده، کتابچه او کتابونه مي په بکسه کي کېښودل، په خپل ځای کښې پرېوتم، مورکۍ څڅوبي ته یو لوښی کېښود، ټک، ټک یې خوب ته نه پرېښودم، کورنۍ دنده مي هم پوره نه ولیکله زړه مي ښه دی سبا به هم ټوله ورځ باران اوري ښوونځي ته به نه ځم، کله، کله دا فکر هم کوم که باران تیز شي خونه به را ړنګه شي مونږ ټول به مړه شو، بیا مي ویل که مورکۍ، پلار، وروڼه ټول مړه شي زه پاته شم چیرته به ځم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځان ته به مي ډاډ ورکړ د ماما کره به یم د ماشومتوب او خام عقل پاخه فکرونو به له ځانه سره واخیستم، خوب وړی وم لږ ځنډ لا نه وو وتلی باران تیز شي، تالنده او توپان ورسره وي زمونږ د غوا کوډله رنګه شي، پلار مي ور وځي، باد او باران دومره تیز وي چي یو قدم لار نه لیدل کیږي، توره تیاره جوړه وه، د بریښنا له رڼا سره به د کوډلي رنګ دیوال ښکاره شو، د غوا رمباړي به مي تر غوږ سوې، باد په انګړ کښي د ولاړي وني له ښاخونو سره شپیلۍ ته زور ورکړ قیامت شو، زمونږ خونه هم راباندي رنګه سوه چیغي مي کړې په خپلو چیغو راویښ سوم، د باران ځاځکو ټوله شپه کړکۍ را ټکوله ، سهار چي د ښوونځي وخت رانژدې شو باران کرار، کرار ودرید ، زړه نا زړه ښوونځي ته روان سوم.

کله چي بازار ته ورسیدم د ډزو ږغونه مي تر غوږ شول چي ور نژدې سوم ما ولیدل هغه عسکر چي د عمومي سړک د جوړولو له کمپنۍ سره د ساتونکو دنده لري په ډک بازار کي ډزي کوي، په غوږونو کي مي ګوتي ونیوې او دخپل دوکان پر لور مي منډه کړه، مشر ورور مي چي تر میز لاندي سر ټیټ نیولی ناست وو، زه یې هم له ځانه سره کښېنولم، لږ شیبه وروسته ډزي کراري سوې را ووتل، په ټول بازار کي چوپه چوپتیا جوړه وه، یوازي هم دا عسکر یوه بله خوا ګرځیدل،ما غوښتل ښوونځي ته ولاړ سم، تر څلور لاري لا نه وم رسېدلی چي څلور پینځه تنه دوکانداران په مخه راغلل یو تن چي مخ او جامې یې په وینو لړلي وې تر لاس یې نیولی وو، زه یې منع کړم او له نیمی لاري بیرته راوګرځیدم، په بازار کي د وحشت ننداره وه، په ډېر لږ ځنډ کي ټول دوکانونه وتړل شول، خلک کورونو ته ولاړل.

ماخستن مي پلار په هم دې اړه له ادې سره خبري کولې چي اوس نو زموږ خور چي تر ټولو مشره ده پېغله سوې پلار مو غوښتل چي هغې ته باید پخپل ژوند د ژوند ملګری پیدا کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه په خبرو کې ور ولویدم او د بازار د جګړې په اړه مې وریاده کړه، پلار مې وویل:

_ زوی نه پوهیږم څه کیسه به وه، په جومات کې خبر سوم چې دري، څلور دوکانداران ټپیان شوي دي او هم دا رنګه د ډېرو دوکانونو شیشې هم ماتې دي .

هره ورځ به جرګې تلې او راتلې د قسمت برخي دي، زموږ خور یې نژدې خپل د اکا زوی ګلاب ته ورکړه .

دلته چې څومره شپې او ورځې تېریدلې د پلار ناروغي ورځ تر بلي لا پسې زیاتیدله، ډاکترانو به شل کیسې ترې جوړولې، حقیقت څه وو په دې هیڅ نه پوهیدل یا یې هم مونږ ته نه ویل، څو میاشتې پرلپسې تیري شوې خو د پلار ناروغۍ هم هغسي پسې زیاتیده، له خبرو کولو هم ولوید، د ولایت په روغتون کښې مو بستر کړ، کوم مثبت بدلون یې په ژوند کښې نه راغی .

کومه شپه چې پلار مو د سختي ناروغۍ له امله په روغتون کې بستر وو، ادې هم ورسره وه، مونږ په کور کښې یوازې پاتې وو، په ولسوالۍ د وسله والو طالبانو لخوا برید وشو او تر سپیدو یې دوام وکړ.

سهار ناوخته چې زه روغتون ته ورغلم ادې راته ژړل او ویل یې زما د کور اندیښنه ده، پرلپسې یې د کور او ماشومانو پوښتنه کوله، چې هرڅومره مې ډاډ ورکاوه زړه یې نه منل .

ما چې کله د عسکرو په وینو لړلي جسدونه ولیدل، حالت مې خراب سو په زړه مې اوبه را اوښتې، دا وخت یو بل نظامي موټر د روغتون مخکې ودریده او یو عسکر چې جامې یې په وینو لړلي وې رابښکته کړ، په سخت ټپي حالت کې یې روغتون ته دننه راوړ، ادې مې تر لاس ونیوه، په مړاوو قدمونو د پلار بستر خوني ته ننوتلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځو ډاکترانو ټيم بستر خوني ته راغی او ژر، ژر يې د ناروغانو درملنه وکړه، هغه ناروغان چې صحت يې تر پخوا ښه وو زما د پلار په شمول ټول رخصت کړل، تر ځو د ټپيانو لپاره بسترونه خالي شي، پلار ته يې په يوه پرچه باندي درمل وليکل او د صحت ډاډ يې ورکړ، د روغتون خدمتګاري سيروم له پايې ايسته کړ او هغه پايه چې سيروم وربانديې ځوړند وو، په بيړه، بيړه له ځانه سره يووړه .

زه د خدمتګاري عطرو واخيستم چې د سينځلي بوئ يې راته، په بستر خونه کښې د درملو بوئ ورک سو، فضا د سينځلي خوشبويي ونيوه .

له روغتون څخه کور ته راغلل، د پلار صحت کوم مثبت بدلون نه راوړ، د خدای په تمه مو شپې تېرولې، د علاج لپاره يې چې ځومره پيسې ډاکترانو غوښتې زمونږ په وس پوره نه وې، مګر مونږ بيا هم هڅه وکړه دوري، دوري مو ډاکترانو ته ووړ او راوړ .

له هم دې سره، سره پلار به مې په ناروغۍ کښې هم جومات ته ورته او لمونځ به يې په جمع ادا کاوه، يوه شپه ناوخته د موټر هارن ووهل سو کله چې مونږ ور ووتل زموږ د پلار د مقتديانو موټر وو، په داسي حالت کښې يې پلارجان له موټر څخه راښکته کړ چې په دوو کسانو يې نيولی وو مونږ چيغې کړې.

چې رانژدې شول مقتديانو يې مونږ ته ډاډ راکاوه او ويل يې:

_ ستاسو پلار بيخي ښه دی، انديښنه مه کوئ.

زه ژر تر دوئ مخکې سوم، ورونه مې ورته خلاص کړل، پلارجان يې خوني ته دننه راوړ او په کټ باندي يې څملاوه، مقتديان يې پرته له دې چې يوه شيبه د ساه اخيستلو لپاره کښېني يا څه وخوري بيرته خپل کور ته روان شول، دا وخت زه ويده سوی وم نه پوهيږم چې پلار جان به مې دا شپه څنګه تېره کړې وي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځي وروسته مو پلار د هغه د مقتديانو په مرسته او همکاري باندي د پاکستان لاهور ښار ته په درملنه پسې ولېږو، مشر ورور مي او کشر تره ورسره ملګري شول، زه ادې، خور او څلور واړه ورونه په کور کي د خدای تمعي ته لکه يتيمان پاتي شول، د پلار بيرته راتګ او روغ صحت ته مو دعاګاني کولې، دلته په سيمه کښي د نا امنۍ پيښي هم زياتي شوي وې، د پرونۍ ورځ د ماين چاودني پېښه چي د ولسوالي بازار ته نژدې د سړک له غاړي سره په امنيتي کسانو ور چاودلی د سيمي ټول خلک نا ارامه کړي وو، که به يوه شيبه چيرته ناوخته سوم د ادې د زړه به توره ټکا وه، ځمکي به ارام ته نه پرېښوده، تر هغه وخت پوري به په خپل ځای کښي ګرده ګرځيد له چي زه به کور ته را ورسيدم، زړه به يې تسل سو ،چي په ما به يې زړه تسل سو بيا به يې په مشر زوی او خاوند پسې زړه وخوت، هغوئ به کله راځي، چيرته به وي او څه وړ به وي هيڅ يې له حاله خبر نه وو.
شپې او ورځي تېريدلې يوه ورځ مي د تره تليفون راغی او دا خبره يې وکړه چي مونږ درځو او پلار جان به دي خپله خور هم چي په لاهور ښار کي واده ده له ځانه سره د څو شپو په مخه وطن ته راولي.
روژې ته يو څو شپې او ورځي پاتي وې چي د نن ورځي په اوږدو کښي بايد پلار او ... مي را ورسيږي ځکه راته ويلي يې وو چي در روانيږو، تر ماځيګر ناوخته پوري ورته انتظار وو هيڅ حال يې نه راغی، انتظار لکه خرابه ګړۍ شيبه تر شيبې نه تېريږي، ماښام ناوخته د پلار، ورور او

(c) ketabton.com: The Digital Library


تره په شمول دواړه تروريې دوئ هم راغلې، له يوې ترور خو وار له مخه خبر وم چي راځي به، دا چي په واړه کښي واده شوې ترور هم راغله خوشحالۍ مو يوه په دوه سوې، پلار مي تر پخوا ډېر ښه سوی، رنګ يې تازه وو، دومره هم ښه نه وو څومره چي بايد وای، د ناوختۍ علت يې د غزني او مرکز ښرني په لويه لاره هغه نيښته وه چي د امنيتي کسانو سره د دولت او خلکو دمخالفينو لخوا رامنځ ته شوې وه، تروريې به تل د هغو عسکرو ميړانه ستايله چي دوئ يې د نيښتي له ډګره روغ رمټ را ايستلي وو .

د روژې هر ماښام اختر وي دا يوه عامه خبره ده، رښتيا هم د دې ټولو په راتګ سره زمونږد روژې هر ماښام اختر، اختر سو . خو يو ماښام دا اختر په ماتم بدل سو، داسي يو ماتم چي نژدې ټول کلی له خفګانه پټه خوله سو، هيچا څه نه وويل چوپه، چوپتيا سوه .

ماځيګر مهال چي په بازار کي ګڼه ګوڼه جوړه وه، هرچا غوښتل تر بل هر سړي ژر د روژه مات لپاره توکي راونيسي او ځانونه کورونو ته ورسوي، يو پاکټ خرماوي مي واخيستې که ګورم تر شاه مي مشر ماما ولاړ دی، زما په ليدو يې وخندل، نه پوهيږم څه به يې په زړه کي ور ګرځېدلي وي، لږ روان سو او شاته يې راوکتل ويې ويل:

_خوريی جانه ! راځه زما سره په موټر کي ولاړ سه درباندي ناوخته کيږي .

ورته و مي ويل:

_ زما سره بايسکل دی او زه غواړم پخپله ولاړ سم.

بايسکل ته مي پام سو، هوا يې کمه کړې وه، نژدې د مستري دوکان ته ور وګرځيدم، ترڅو سايکل ته هوا ورکړم، ماما پرته له دې چي نور څه ووايي موټر ته پورته او د کور په لور روان سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه چې کور ته رسیدم، اذان په لاره کې راباندې وشو روژه مې په خوله وه کور ته لا نه وم رسېدلی ، د ماما کورته له نژدې کېدو سره سم مې ژړا تر غوږ سوه دا د یو تن ژړا نه وه ډلیزه ژړا وه، پښه نیولی سوم ددې لپاره چې پوه سم څوک او ولې ژاړي خو له چا څخه مې د پوښتنې کولو جرئت نه درلود، کرار، کرار د کور په لور وخوځیدم، په کور کې هیڅوک نه وو یوازې پلار او خور مې د چوترې په ژۍ ناست دي ادې او ترورۍ دوئ نه وې، پلار مې وپوښتل:

_ ماما دي؟ او تر دې زیات یې هیڅ نه وویل

د بیا، بیا په پوښتنې سره د خور له خولې خبر سوم چې ماما مې وسلوالو ویشتلی، په هم دې وخت کښې مې مشر ورور هم راغی، پرته له دې چې مونږ څه وواېو هغه وویل:

_ ماما زخمي دی او یوازې یوه پښه یې لګېدلې ده ، ژر به ښه سي او کور ته به یې راوړي .

مشر ماما زمونږ د پلار ستره هیله وه دهغه باور و که چیرته زه روغ سم په کورنۍ او ځامنو به مې اول خدای بیا دی پام کوي، د ماما د نوي واده لسمه شپه وه او دا یې دوهم واده وو، ما کله هم د خپل پلار په سترګو کې اوښکې نه وې لیدلې، هغه به همېشه زموږ حوصله لوړه ساتله، له ژوند سره د مبارزې درس به یې راکاوه، ځنې وخت انسان دومره مایوسه سي چې د امیدونو ټول تارونه یې وشلیږي، دا به کوم وخت وي دا هر څوک تجربه کولای شي او داسي وخت په انسان له ډېر سخت توپان وروسته راځي، داسي توپان چې د زړه ښار ټول په یو وحشتناک منظر بدل کړي، ناهیلي که څه هم پکار نه ده خو د کوم درد څرېکي چې د زغم له دایرې ووځي نارینه هم ژاړي .

د پلار په سترګو کې مې اوښکې ډنډ ولیدې، نور یې ما سترګو ته کتلی نه شول، اوس مې هم یاد ته نه راځي هغه ماښام به زموږ په کور کې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا روژه ماته کړې وي او که نه، که يې ماته کړې هم وي نو پخپلو اوښکو به يې ماته کړې وي .

د شپې تر ناوخته پورې زمونږ د خوني څراغ بليده، زه، پلار او خور مې د چوترې په هغه ژۍ ناست وو چې د ماما دوئ کور راښکاريده، کله، کله به ځوک را ووتل او د بتۍ رڼا به يې ګرځوله، فکر کوم لاره يې څارله، شپه د وير په تور څادر کي نغښتې تېره سوه، سهار وختي له جومات څخه د ماما د مړيني اعلان خپور سو او زمونږ ټولو د هيلو مراندي يې وشکولې.

جنازه وشوه، ځوانيمرګ شهيد خاورو ته ور وسپارل سو ، د خلکو له خبرو پوهيدم چې ماما مي طالبانو دولت ته د جاسوسۍ په تور وژلی، هر څه خفه او مرور ښکاريدل، زمونږ په کور کي پروني ماښام ته جوش سوی چای په کړکۍ کي لا اوس هم ايښی وو ، کړکۍ مي په درز رابنده کړه، وره ته مي قلف واچول، د کور سپی په خپل غار کي کرار پروت وو نن يې نه غپل فکر کوم خبر سوی او زمونږ غم يې احساس کړی وو ، ميږو ته مي اوبه او واښه واچول، نن په کور کي له ما پرته بل هيڅوک نه وو ، خورکۍ هم د ماما کره تللې وه، چوپه چوپتيا جوړه وه، شمال له ونو او بوټو سره ساړه اسويلي ايستل، نن يې د ميني او خوښۍ په ځوږ سره شپېلۍ نه غږوله، ورو ، ورو په مړاو قدمونو د جومات په لور روان سوم چيرته چې د ماما فاتحه اخيستل کيده.

کله چې جومات ته ورسيدم و مي ليدل ډېر خپل او نا بلده خلک ناست دي، ملاصاحب د قران اياتونه په جهر لوستل، له وره سره نژدې کښيناستم، مخامخ مي سترګي پخپل پلار ولګيدې په خړبخون څادر کښي نغښتی او د پټکي ول يې په تندي راښويدلی ناست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قرات له لوستلو وروسته دعا وسوه، هغه کسان تر وره لا نه وو وتلي چي څو نور کسان هم فاتحې ته راغلل زه د باندي راووتم، د جومات له دېوال سره غلی ودریدم، د هغه دوو کسانو خبري مي اوریدلې چي د جومات په چوتره کښېي یې لمر ته پښې غځولي وې دوئ په پرونۍ پیښه کې له یو بل سره بړغیدل، د کاکا زوی خپل ملګري ته کیسه کړه:

_ د ماځیګر او ماښام تر منځ دوه وسلوال کسان چي مخونه یې پټ وو د جومات مخي ته راغلل او تر ډېره پوري یې هلته انتظار کاوه، د جومات مخي ته ډېر کلیوال را ټول شوي وو، ماښام اذان ته لا لږ وخت پاتي وو چي "محمدشاه" د بازار له خوا په خپل موټر کښېي راغی، وسلوال ور مخي ته شول او نوموړی یې له موټر څخه راښکته کړ، هغه چي څومره هم مزاحمت وکړ د وسلې مزاحمت یې نه شو کولای، کلیوال یې ننداري ته ولاړ وو هیچا وسلوالو ته مزاحمت و نه کړ، له موقعې په استفادې سره یې په محمد شاه ډزې وکړې او هغه یې وویشت، وسلوال وتښتېدل له ډزو وروسته کلیوال د پیښې ځای ته ورغلل او نوموړی یې پخپل موټر کي واچاوه، او د ښرني مرکزي روغتون ته یې یووړ، دوئ فکر کاوه ګوندي بچ سي لا ژوندی وي په لاره کښېي په موټر باندي یوځل بیا ډزي شوې، دا چي موټر په تیز رفتار کښېي وو اوښتی، د ملاصاحب زوم، ملګری یې په خبره کښېي ورولویده وویل:

_ کوم ملا صاحب!؟

د کاکا زوی مي ماته ګوته ونیوه او ویې ویل:

_ د هغه اخښی یادوم ګلاب! هغه هم زخمي دی ځکه چي روغتون ته د تګ په وخت موټر کي ورسره وو .

زما پر زړه لکه د ستنو وار چي وشو، وارخطا سوم او د کاکا له زویه مي پوښتنه وکړه:

_ کوم ګلاب ! ته رښتیا وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويې ويل:

_ ستاسې زوم ګلاب ...

نور ما هيڅ نه وويل پټه خوله له جوماته کور ته رارووان سوم .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ماخستن له لمانځه وروسته په کور کښي د چای څښلو پر وخت پلار ناهيلی ښکاريده ځکه چي دی هم د ګلاب له ټپي کېدو خبر سوی وو، دا وخت ما د خورکۍ سترګو ته کتل، په سترګو کښي يې بې وسي ښکاريده، چوپتيا يې د درد احساس راکاوه.

پلار مي د تراويح لمانځه ته نور د تګ نه وو، او نه يې هم په وجود کي دومره طاقت پاتي وو چي شل رکعته تروايح په جمع سره ادا کړي، د امامت دغه دروند مسؤليت چي نور زما د پلار په وس پوره نه و له مقتديانو سره يې د صلاح او مشوري وروسته په دې موافقه وکړه چي هغوئ بايد کوم بل امام ونيسي ترڅو د روژې په بختوره مياشت کي د تراويح لمونځ په جمع سره ادا کړي؛ زمونږ د اکا زوی چي ملا هم دی او په هم دې ورځو کښي يې کوم چيرته امامت نه کاوه خو زموږ د پلار سره د همکاري په پاريې د نوموړي جومات مسؤليت پخپله غاړه واخيست.

زه به سهار وختي ديني مدرسې ته تلم او له هغه وروسته به بيا دوکان ته راتلم دا چي ښوونځي رخصت وو ټوله ورځ به په دوکان کي وم، څه چي به مي په قسمت وي خدای را رسولې، د دوکان الماری خالي، خالي ښکاريدلې، څو د صابون او شيمپو پاکټونه، د ګوتو په شمار بيسکوټونه، کتابچې او قلمونه، د بورې او چايو بوجۍ هم دوه برخې خالي وې، له دوکانه شی تمامېدل، کمېدل، مونږ ټولو کشرانو وروښو اختر ته جامې وګنډلې، د مشر ورور مي اختر ته جامې نه وې د اختر په ورځ يې وينځل شوي جامې اغوستي وې، د تيرو اخترونو په څېر يې نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوټونه او واسکټ هم نه وو اخیستي، ځکه څومره پیسې چې وې هغه ټولي د پلار په درملنه ولاړې، دا لړ او ډېر دوکان ښه وو، چې د کور خرڅ یې تر یوې اندازې پوري نیولی وو.

د اکا زوی ته چې زمونږ د پلار د امامت مسؤلیت یې په غاړه اخیستی وو، مقتدیانو ده ته اختر مبارکۍ او زمونږ د پلار لپاره یې د سرسایې روپۍ ورکړې وې ټولي له ځانه سره کېښودلې؛ زمونږ پلار که څه هم هیڅ نه ویل خو مقتدیان یې ددې پیسو په طلب پسې څو واره ورغلل، او زمونږ بې وسي یې ورته بیانوله، خو هغه دهیچا عذر او زاری و نه منلې او دا یې خپل حق ګاڼه.

ګلاب لومړی په مرکز ښرنه او بیا د کابل په کوم روغتون کې بستر سو، د اکا ځامن یې د روژې په ورستیو کې کور ته راغلل او هغه یې په روغتون کې پرېښود، د ګلاب اخښی چې خبر سو له هم دې ځایه په منډه ورغی، ډاکترانو د ګلاب لاس ته چې د موټر او ښتو په وخت کې ټپي سوی وو، کومه خاص توجه نه ورکوله ځکه د نورو خلکو په څېر یې واسطې او پیسې نه درلودې چې د ډاکترانو ضمیر یې اخیستی وای، بلآخره یې ځواب ورکړ او له روغتونه یې رخصت کړ، اخښي یې په پېښور کې د ګلاب له ماماګانو سره اړیکه ونیوه او نوموړی یې د پېښور تر روغتون پوري ورساوه؛ یوه میاشت په کابل او بیا څلرویشت ساعته وروسته کله چې یې د ګلاب لاس معاینه کړ د جوړېدو نه وو، ځکه چې د ډېر ځنډ له تېردو سره یې د هډوکي کینسر پیدا کړی او له څنګل یې متې ته رسېدلی.

ډاکترانو کومه بله لاره نه لرله او هم دا یوه خبره یې کړه:

باید لاس یې غوڅ شي، که لاس یې غوڅ نشي میکروب به یې ټول وجود ونیسي، چې بیا یې د ښه کېدو هیڅ تمه نشي کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلآخره همداسي وشول په هم هغه ماخستن يې د بې هوښۍ څو ستني ورکړې او د ګلاب لاس يې غوڅ کړ .

د ګلاب لاس پرې کېدل او د دې درد زغمل زما د پلار تر وسه تېره خبره وه، مګر دا چې صبر او حوصله يې لرله، دا درد يې د خدای ج له لوري په ژوند کښې يوه ډېره سخته ازموينه بلله ، ما له خپل پلار څخه اورېدلي وو چي خلکو ته به يې ويل:

زما دواړه لونې ,,چې يوه يې زمونږ ناسکه خور وه ،، خواري سوې که څه هم دغه اوسنۍ لور مي خاوند لري او لا ژوندی دی خو د ټولو عمر به محتاجه وي .

زمونږ د پلار پخوانۍ ميرمنه چي زما نه په ياد کيږي او يوازي همدا لور يې ده چي د ځوانيمرګ ماما ښځه وه پيژنم او ليدلې مي ده .

يو ماځيګر چي له دوکانه کورته تلم تر پرون مي ګامونه ګړندي وو په ځان نه پوهيدم خو لکه چي څه ته مي انديښنه وي کورته په رسېدو مي څپلۍ له پښو ويستې مور مي په وره کي ولاړه وه څراغ او بخار ديګ يې لاس کښې نيولی الويزانده وويل:

_ پلار دي ويل نن شپه به په هديره کي تېره وو .

سترګو ته مي مړي نېغ ، نېغ کېدل کله کله به په دې خپل سوچ کي مړ شوم په قبر کي به ماران را باندي را غونډ وو ،ځکه هر د جمعې ماښام له لمانځه وروسته به دجومات ملا امام د قبر اوله شپه بيانوله، زما په ذهن کي هم هغه صحنې ګرځېدلې، تش هډوکی به پاتي سوم، بيا مي پر زړه پښې کېښودې او ادې ته مي وويل:

_ کومې هديرې ته؟

_ حاځي بابا ته ځو ښه دي ليدلی ! هغه چې پلار دي ويل زمونږ نيکه دی، موږ او تاسي يې د کرامات اوريدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هم دې شپه زمونږ کورنۍ هلته د هم دې زيارت په دالان کې تېره کړه د بابا په مخ کې مو رب تعالیٰ ج له دربار څخه دعا غوښته تر څو مې پلار د روغ صحت څښتن شي,,مونږ هغه شپه نه هم شمعې روښانه کړې او نه مو کوم ميخ د زيارت په لرګو وهلی پلار مې ويل دا کار ناروا او ښه نه دی له دې کاره پرهيز وکړئ که څه هم هلته ډېرې شمعې د روښانه کولو لپاره ايښودل سوي وې ،، په ژوند د هديرې شپه درنه وي ما هيڅ ډار احساس نه کړ په بې غمه خوب ويده شوی وم، په هم دې شپه مې يو سړی په خوب وليد چې د هديرې په منځ کې پر مصله ولاړ دی لمونځ کوي، سهار چې کورته راغلو پلار ته مې د خوب نښې وښودې هغه ووې چې دا به دې حتماً حاځي بابا په خوب ليدلی وي ګوندي خدای ج مې روغ کړي، ښه وو څو مياشتې، شپې او ورځې يې تر پخوا صحت ښه سو خو هغه چې مري د ګور شپه په کور نه تېروي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ماما تر مړيني وروسته زمونږ پلار هم د يو ډول انديښنې ښکار سو، له ماما سره مو د پلار ناسته ولاړه د يوې ښې ملګرتيا په بنياد وه، په حقيقت کي دوئ يو بل ته ډېر ګران وو؛ تل به يې رازونه سره شريکول، د يو بل له ستونزو سره، سره به يې د هيواد او خلکو د ستونزو په اړه هم خبري کولې، د هغه له تګ وروسته مو د پلار ناروغي ورځ تر بلي لا پسې زياتيدله، جسمي او ذهني قوت يې بايللی وو، يوه ورځ چي ادې د لږ ځنډ لپاره زمونږ د انا تر کوره تللې وه، او مونږ هم پخپلو کارونو پسې بازار او ښوونځي ته وتلي وو هيڅوک په کور نه وو کله چي ماښام کور ته راغلم دا وخت ادې هم په ډېره تلوار سره کور ته راغله تر څو د خپل خاوند (زمونږ د پلار) احوال واخلي، که ګورم پلار مي ژړل او په ژړا کښې هم دا لنډۍ تکراروله...

په او داسه لمونځ مي قضاء کړ

نوی مين وم په ديدن نه مړيدمه

نه پوهيږم ولي يې د ماښګر لمونځ قضاء کړی وو، يوازي دومره پوه سوم چي ادې ته يې ويل د ماښګر لمونځ مي په او داسه راڅخه قضاء سو.

زما تبه وه کور ته له رارسېدو سره سم په خپل ځای کښې وغځېدم، بدن مي لړزيده، يخ، يخ مي کېده، سرې تبې نيولی وم، ادې راته ګولۍ راکړې په کمپل کښې پټ کړم په ډېر لږ ځنډ کي آرام ويده سوی وم، کله چي راويښ سوم شپه نيمي ته رسيدلې وه، ما وليدل په خونه کي لا هم څراغ بليده، کشر ماماهم راغلی، ادې، خور او مشر ورور مي چي قران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کريم يې مخې ته نيولی وو، د پلار کټ ته نژدې ناست دي، زه هم را پورته سوم او د پلار کټ ته ورغلم دا وخت مې پلار زما لاس پخپل لاس کښې ونيو او راته وويل يې :

_ زوی اوس دې هم تبه ده، ويده سه زه ښه يم.

زما لاس يې پرېښود او د ادې لاس يې ونيو، بل لاس يې غوږ ته يو وړ، ورو غوندې يې وويل:

_ لمونځ کړم !

ادې ژر په کټ برسېره د پلار مخې ته يو بالښت کېښود، په بالښت باندې يې مصله ور هواره کړه، تر څو په اشاره لمونځ ادا کړي، کله چې هغه دواړه لاسونه غوږونو ته ورسول يوه شيبه يې هم داسې نيولي وو، چې ماما مو ږغ کړ:

_ پښې او لاسونه يې درسم کړئ.

پلار مې په هم دې ډول د خپل خالق پور ور ادا کړ، روح يې ور وسپارله. مونږ ټولو د اسلام دوهمه کلمه شهادت په زوره، زوره ويله:

,,اَشهَدُ اَنَ لا الـهَ الا اللهُ وَحدَهُ لاشَرِيکَ لَهُ وَاَشهَدُ اَنَ مُحَمّداًعَبدُه وَرَسُولُه،، خو ادې ژړل، زموږ مشر ورور يې لومړی مولوي صاحب ته چې زموږ ګاونډی دی، ورپسې يې غاغا (زموږ د ادې تره کيږي) او جومات ته د کټ او غسل تختې لپاره وليږه، کله چې د غسل، کفن انتظام وسو، او زما پلار يې د غسل لپاره د باندې را ويست، نرمه، نرمه پرخه اوريده او دا د هم هغه کال د ژمي لومړنۍ واوره وه چې را ووريده، زما اوس هم تبه وه او تر ډېره پخپلو پښو د دريدلو توان مې نه درلود خونې ته راغلم کله چې مې د پلار خالي کټ او د ادې ژړا وليده، حوصله مې وبايلله، د ادې غېږې ته ور ولويدم، ما او ادې تر سهاره پورې وژړل، اوس مې هم ياد ته نه رائحي چې خورکۍ به چيرته وه، په څه اخته وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


چیرته به یې ژړل هیڅوک مي نه په یاد کیږي، خو تر لمر خاته پوري زمونږ ټوله خونه د خپلو او پردو ښځو ونیوه، چیغي او نارې وې.
د جنازې تر ادا کولو وروسته د اسقات پیسې چي څه یې زمونږ او څو یې د خپلو او پردو لخوا را ټولي سوي وې، بیرته مونږ ته راوسپارلې، او هم دا یې ویل چي یتمیان دي، اړتیا ورته لري.
زما په دوه لس کلنۍ کښي پلار وفات سو، او مونږ یې له سیوري بې برخي شول مشر ورور مي ترما دوه کاله مشر دی، مونږ دواړه لا تر اوسه په عقل خام وو، چې د بې پلاره ژوند دروند پیټي ته مو اوږه ورکړه ؛ څومره چي شپې او ورځي تېریدلې همدومره د پلار د نشتون احساس راسره پیدا کېده، د هغه د ناستي ځای چیرته چي به هغه ناست وو، تر سترګو، سترګو به مي کېده او د هغه خبري به مي په ذهن کي راګرځېدې، کله، کله چي په دې به پوه سوم څوک نسته او یوازي یم ښه ډېر به مي وژړل.
د پلار تر مړیني څو میاشتي وروسته په دوکان کي شته سامان ورو، ورو په تمامیدو سو، او بلاخره یوه ورځ داسي هم راغله چي د دوکان هغه شیان چي موږ ورته اړتیا لرله کور ته راوړل،دوکان مو د یو کال د مودې لپاره په کرایه ورکړ، د خور واده هم په هم دغو شپو ورځو کي چمتو سو او په پټه خوله تېر سو، هیڅ چا د نورو وادونو په څېر اتڼ او سندري نه وویلې، د ماما شهادت، د اخبني ټپي کېدل او وریسې زموږ د پلار مړیني ټوله کورنۍ او خپلوان ځورولي وو.
د ژمي له رانژدې کېدو سره سم د هغې مدرسې پرځای چي لیري وه، یوې بل نژدې دیني مدرسې ته ورغلم، او درسونه مي پیل کړل دا چي د ژمي تو ند یخ وو، داسي یخ چي د بدن په پوستو کي به لکه د ستني ننوت، د ادې په خوښه به د شپې مهال هم په مدرسه کښي پاتي کېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هم دې مدرسه کښې څو يې زما همزولي او نور ټول ترما کشران او سيدل، د مدرسې د زده کوونکو تر منځ يو ډول مينه او ګرانښت وو، د يو بل په درد به درديدل او د ډېرو، ډېرو خبرو د زغملو حوصله يې لرله، په تېره بيا زه د هغه ړانده چې حوصلې ته حيران وم چې د څومره ډېرو چټيانو خبري او ظلم يې په ځان تيراوه، نه پوهيږم د ده څه مجبوري وه چې دومره وهل او ټکول يې خوړل، ښايي ځکه يې زغمل چې د دوئ په وړاندي ځان ورته کمزوری ښکاريده .

ړانده چې چې غوښتل يې د قرانکريم حافظ شي، ډېره ښه ږغ يې درلود او د قرانکريم تلاوت به يې په يو ځانګړي انداز سره کاوه، زه به اکثر په يوه نه بله پلمه ورته کښيناستم او د ده تلاوت ته به مي غوږ نيوه، ما قرانکريم تردې وړاندي له خپل پلار څخه زده کړی وو، وخت نا وخته به مي د نوموړي ړانده غلطي هم ور په ګوته کوله، په هم دې خاطر يې زما خاطر کاوه ، کله چې به يې قاري صاحب ته قرات تکرارولو، تر سام به لاندي سو او په هر دوهم آيات کښې به دريده، د سام علت يې هم دا و چې قاري صاحب به ددې پرځای چې غلطي يې ور اصلاح کړي، واهه به يې او دومره به يې وواهه چې د ده له چيغو به ټول چټيان په تکليف شول او له قاري صاحب څخه به يې ډار پيدا کاوه، د ډار له وجي به ټول چټيان غلطيدل او وهل، ټکول به يې خوړل، زه د قاري صاحب له دې حرکت ډېر نا خوښ وم خو د ده په وړاندي مي د څه ويلو جرئت نه شوی کولای .

دا ښه وه چې ما له مولوي صاحب څخه د عقايدو کتابونه لوستل، قاري صاحب ته مي کومه اړتيا نه لرله، قران کريم مي له مخي ښه زده وو، له ما پرته نور ټول چټيان به قاري صاحب ته د قرانکريم زده کولو لپاره کښيناستل او له يو ټکي غلط ويلو سره به يې ښه خوندور وهل، ټکول خوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مدرسې خواړه ,, لوبيا، مې او دال،، وو کله نا کله که کوم څوک به مهربان سو غوښه به يې راوړه يا چيرته به چا خيرات کړی وو، وچه مړۍ به مو له کورونو راټولوله او هر چېنې ته به يې په حساب څو کورونه ورکړي وو، که به کوم چا تر حساب کمه مړۍ راوړه وهل، ټکول او د مړۍ نه خوړولو سزا يې ورته ټاکلې وه.

يوه ورځ چي د کوم چېنې ملګري سره د وچي مړۍ راټولولو ته ووتم، زما ملګری چېنی به په نيمکښه دروازه کې ودريد او د ,,وظيفه راوړئ ! ،، نارې به يې ور وهلې، څو کورونو ته تر ورتګ وروسته زه هم راضي سوم چي کوم کور ته يو بږغ ور وکړم؛ کله چي ما د يو کور په دروازه کښي د ,, وظيفه راوړئ ! ،، ناره کړه، سپي وغپل ما ژر دروازه ور پوري کړه، ملګري راپسي وخندل، يو ځل بيا مي جرئت وکړ دروازه مي نيمکښه کړه او ور بږغ مي کړ، که ګورم يوه وړه نجلۍ چي توده مړۍ يې په لاس کښي وه راغله، دروازې ته په رانژدې کېدلو سره يې را خطا کړه او منډه يې واخيسته، مړۍ زما پښو ته ولويده، په بسم الله سره مي راپورته کړه، زما ملګري چېنې څه نه وويل لکه چي ورسره عادت سوی وو.

يو بل کور ته ورغلم کله چي مي بږغ کړ يو ځوان هلک راووت زما سره يې سترې مشې وکړه، موږ ته يې د انتظار وويل او بيرته لاړ، له لږ ځنډ وروسته کله چي راستون سو په يو پلاستيکي بوتل کې شړومبې او په بل لاس کښي يې توده مړۍ راوړه، زما په ليدو خوشحاله سو او چېنې ته يې وويل:

_ دی زه پېژنم زموږ د ښوونکي زوی دی د ده پلار دي خدای وبخښي او جنتونه يې ځای شه.

کله چي موږ را روانيدل، د خدای پاماني په وخت يې زه په غېږه کي ونيولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مدرسې ته د لارې په اوږدو کې زما ملګرې چنې خپل څادر هوار کړ او بشپړې مړۍ یې په څو برخو وویشلې ترڅو دغه کورونو حساب پوره سي چې مړۍ یې رانکړه او مونږ له سزا خلاص سو.

مولوی صاحب د مړۍ په راټولولو وترټلم نه پوهیږم چیرته یې لیدلی وم که چا ورته ویلي وو؛ او زه یې د مړۍ له بیا راټولولو منع کړم دا ځکه چې ترما ډېر کشران سته چې وچه مړۍ یې راټوله کړې وای.

له دې وروسته یې ماته د پخلي دنده را وسپارله او هر ماخستن به مې پخلی کاوه، زه په هم دې مدرسه کښې ډېر وخت پاتې سوم، یوه ورځ چې په ښوونځي کښې د نتایجو د اعلان ورځ وه مولوی صاحب اجازه رانکړه چې ورسم او خپله اطلاعنامه واخلم، زما اطلاعنامه زما مشر ورور اخیستې وه زه یو ځل بیا په دوهمه درجه اتم ټولګي ته بریالی سوی وم، ټول ژمی په هم دې مدرسه کښې ووسیدم؛ د پسرلي له راتګ او د ښوونځي له پیل سره سم ښوونځي ته ورغلم او درسونه مې پیل کړل.

زه او مولوی صاحب په دې خبره سره راضي شو چې د ماسپښین مهال به ښوونځي ته ځم او له هغه وروسته به د شپې لخوا بیرته مدرسې ته راځم؛ د معمول په څېر مې دواړه ځایه خپل درسونه ویل؛ زما په شمول ټول زده کوونکو ډېر په خوند سره درسونه ویل او دا زموږ لپاره یو بریالی کال وو، ځکه چې د ښوونځي نوې ودانۍ هم جوړه وه، د نوي نصاب کتابونه، قرطاسیه او د بلجیم هیواد په مرسته زده کوونکو ته د بیسکوټونو مرسته هم رارسېدلې وه، چې د تفریح په وخت به یې شاګردانو ته ورکول.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځ بیا د رڼاګانو په کور کي شمعي مړې سوې، او د طالبانو لخوا د ټولي سیمي ښوونځي وتړل شول، ما هم له هغه وروسته دمدرسې له قاري صاحب سره مي ددیني زده کړو لپاره د لوګر ولایت ته دتګ نیت وکړ ځکه دلته نژدې شا او خوا ټول ښوونځي تړل سوي وو او هیڅ ښوونځي ته زړه نه ښه کاوه .
کله چې ادې اجازه راکړه او له قاري صاحب سره د لوګر ولایت ته روان سوم د لاري په اوږدو کي مي ځای، ځای ټوټې، ټوټې سړک او پلچکونه ولیدل چي د بمونو په زور ویجاړ سوي وو؛ له غزني ښاره د کابل په لور ووتلو د سړک له غاړي سره د تیلو ټانکرونه او اکمالاتي موټرونه سوځول سوي وو، ځینې یې داسي هم وو چي زمونږ تر راتلو لږ موده وړاندي اور وراچول سوی او لا هم لوګی تري پورته کېده؛ موټروان له دې حالت سخته ځوریده، خو په موټر کي ناستو کسانو یې خبرو ته چندان اهمیت نه ورکاوه او زموږ په شمول ټول کرار، کرار پخپلو ځایونو ناست وو . د کابل ښار عمومي دروازې ته له رسېدو سره سم امنیتي کسانو موټر د تلاشي لپاره ودراوه، داسي یې تلاشي کړ لکه بیخي چي یې تلاشي کړی نه وي، عسکرو یوازي د خلکو ځېرې ته کتل، تر دې وړاندي ما د مرکز ښرني امنیتي کسان لیدلي وو چي په ډېره سختي سره یې تلاشي کوله ان تردې چې د خلکو جیبونه به یې هم پلټل؛ موټروان هم دعسکرو په بې غوري نیوکه وکړه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولې امنيتي ادارې بايد خپل وظايف په سمه توګه سرته ورسوي؛ تلاشي وکا، څارنه وکړي او پلټنه وکړي؛ ښار ته پر راغليو لارويانو زيات پام وکړي، د دوی دا لړ بې غوري د ډېري لوی ورانکارۍ سبب ګرځېدلی سي.

قاري صاحب وويل:

ــ د کابل ښار ډېر بدل سوی ښکلي دنګي ماڼۍ او ودانۍ لري، څو کاله وړاندي چي زه راغلی وم دا ښار داسي نه وو اوس يې ډېر پرمختګ کړی او دا د يمکراسۍ زور دی چي ځواني ښځي او پېغلي په خلاصو وېښتو ګرځي.

غرمه مهال مو د کابل ښار په يو ريسټورانټ کښي کابلي پلاو، او د پسه قورمه سوې غوښه له تودې وچي مړۍ سره وخوړه، ټيکسي ته وختلو او د لوګر ولايت په لور مو حرکت وکړ، د يوې، يوه نيمي بجې شاوخوا د محمداغي ولسوالۍ سرخ آباد کلي ته ورسيدلو.

سرخ اباد کي د عمومي سړک سره نژدې د يو پترول پمپ تر څنګ له ټيکسي موټر څخه ښکته سو، لږ ها خوا مو مخ او لاسونه د روانو اوبو په وياله کښي ووينځل اوبه مو وڅښلې، قاري صاحب تر مخ او زه ورپسې په نابلده قدمونو روان سوم.

دا سيمه له طبعي اړخه ډېره ښکلي وه، ښايسته باغونه او د اوبو کاريزونه يې لرل، د لاري دواړه غاړي په دنګو ،دنګو چنارونو پوښل سوي وې، پريمانه د مڼو باغونه يې لرل، د شمال له ځوږ سره د تازه مڼو وږم راته، او هري خوا ته د مرغانو بيلا بيل اوازونه اوريدل کېدل د طبعيت دا ننداري په ما ډېري ښې لګيدې او د خوشحالۍ احساس مي کاوه، تر ډېره پوري مي سترګي په هغې بوډۍ کښي خښي وې چي د سړک له غاړي سره يې پسونه څرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قاري صاحب په قدم، قدم زما احوال اخیست، چي زړه مي تنګ نه سي، مونږ تر ځو باغونو او نهرونو تېر شو، بیا هغه جومات ته ورسېدلو چي تر مخ یې د رڼو اوبو ویاله بهیده، ما تر ویاله ټوپ کړ ځپلۍ مي اوبو ته ولویده، قاري صاحب په خندا سو او ژر یې ځپلۍ را ونیوه، په خټو ککړه پښه مي ووینځله، ځپلۍ مي په پښو کړه، دواړه د جومات انګړ ته ننوتلو، په انګړ کښي څو نوري خوني هم وې چي د مدرسې چڼیان پکښي اوسېدل، که ګورم زموږ یو بل کلیوال چڼی هم هلته دی چي تر دې وړاندي یې زموږ سره د کلي په مدرسه کښي د قرانکریم حفظ کاوه .
دوی زمونږ په لیدو خوشحاله شول، خولې یې له خندا نه سره ورتلې، ټولو سترې مشې راسره وکړه، سړې اوبه یې راکړې دا چي مونږ ډېر ستړي شوي وو، ساه مو بنده، بنده او سترګي مو پټې، پټي کېدې نو د خوب غېږي ته مو ځانونه ور وسپارل، آرام ویده شو .
کله چي راویښ سوم یوازي پروت وم، قاري صاحب نه وو، دباندي راووتم که ګورم په جومات کښي د ماسپښین جمع ادا کیږي، ژر، ژر مي اودس وکړ او جومات ته ننوتم، په اخیري رکعات کي مي له امام سره لمونځ ونیو، څو چي ما لمونځ پای ته رساوه ټول کلیوال له جومات ووتل، یوازي قاري صاحب له مولوی صاحب سره د محراب خواته په خبرو بوخت وو؛ قاري صاحب ماته اشاره وکړه او زه یې د ځان خواته ور وبللم له مولوی صاحب سره یې معرفي کړم، دوی زما او زما د درس په اړه ډېري خبري وکړې، چې زما ستاینه به یې کړه شرمیدم، غوږ به مي کوڼ واچاوه، ځکه زه پوهیدم دومره ځیرک نه یم څومره چي دوی وایي.
مولوی صاحب زما کتابونه بدل کړل، هغه کتابونه چي نیمی مي ویلي وو په نیمي کښي پریښودل او ماته یې د علم صرف د کتابونو وویل چي باید سهار یې پیل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جومات څخه مدرسې ته راغلم کلیوال ملګري مې شین چای چمتو کړی وو، یوه، یوه توده، توده پیاله مو نوش کړه او دباندې را ووتلو .
ما د دې سیمې له طبعي هوا څخه خوند اخیست، ګام په ګام د مڼو وني، باغونه، دنګ، دنګ چنارونه او د کاریزونو اوبه بهیدې، زړه او روح دواړه به مې تل تر و تازه وو، تر ماځیګر پورې د مدرسې په ځانګړې د مڼو باغ کې وګرځیدلو او مڼې مو وخوړلې، د ماځیګر لمانځه ته جومات ته راغلو، دا چې مولوی صاحب نه وو، د یو طالب په امامت مو لمونځ ادا کړ، تر ماښامه په جومات کښې پاتې شو ټولو د مدرسې طالبانو د قرانکریم تلاوت کاوه او کتابونه یې مطالعه کول، د ماښام تر لمانځه وروسته د یو کوچې طالب په میلمستیا د هغوی کیږدۍ ته لاړو .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوچیانو په ازاده فضاکښي د کیږدۍ مخي ته پرش هوار کړی وو، بالښتونه ورباندي کتار وو، مونږ کښېناستلو د تیز شمال له وجي څراغونه مړه کېدل، یوه شیبه یې تراکتور چالان کړ،چي بیترۍ یې ډکه سوه نو د تراکتور د بریښنا رڼا ته دسترخوان ویړ سو، شوروا او توده مړۍ یې راته کیښوده ورپسې یې خوندوره د وري غوښه چي تازه یې حلال کړی وو راوړه، ټولو په ښه خوند سره خواړه وخوړل ګوتي مو وڅټلې د خیر او برکت دعا یې وکړه، شین چای مود ساړه شمال په څوړ کښي نوش کړ، د ماخستن د لمانځه وخت په رانژدې کېدو سو، موږ هم کرار، کرار بیرته خپلي مدرسې ته راستانه شو .
ماخستن خوب نه راته، په ځای کښي مي د مړۍ اتامونه پراته وو، څو، څو واره راپورته سوم په نیالۍ مي دسمال تېر کړ، میږان راباندي ګرځېدل، چیچلم یې تر نیمي شپې پوري ویښ وم، یو ناڅاپه لوی درب سو، یو ځل بیا درب سو، تر ډېره مي غوږونه څک وو ما ویل لکه چي جنګ سو، ذهن ته مي کور راغی او هغه په ولسوالۍ د شپې لخوا د طالبانو برید، سوچ واخیستم، ډار راسره وو، ټوله شپه ویښ وم د سهار خواته کله چي لږ، لږ رڼا سوه او قاری صاحب اوداسه ته پورته سو سترګي مي سره تللي وې، یو چا مي په پښو سرې اوبه را توی کړې، پخپل ځای کښي راکښېناستم، کلیوال ملګري مي راباندي بږغ کړ:
_ پورته سه لمونځ دریدلی او ته لا ویده یې ! ،ژر، ژر مي بستره ټوله کړه او دباندي راووتم د ویالې په غاړه مي اودس تازه کړ او جومات ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتم، لمونځ سوی وو، مولوی صاحب او مقتدیانو د دعا لپاره لاسونه لپه کړي وو، یوې خواته په لمانځه ودریدم لمونځ مي ادا کړ، چي راوتم مولوی صاحب راږغ کړ او دځان خواته یې ور بللم.

مولوی صاحب زما د ناوخته پورته کېدلو علت وپوښت، ما هیڅ نه وویل هغه په ډېره قهرجنه لهجه خبري پیل کړې هغه وویل:

_ته باید له نن وروسته سهار وختي پورته سې؛ آیا ته نه یې خبر سهار وختي پورته کېدل څومره ګټي لري؟

زه غلی وم هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

_الله تعالی(ج) فرمایي : د سهار لمو نځ ادا کړئ ځکه دا دشپې او ورځي د ملایکو د حاضریدو وخت دی؛

همدارنګه رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم)فرمايي: د سهار دوه رکعته لمونځ له ټولي دنیا او هغه څه چي په دنیا کي دي غوره دی، د م اخستن له لمانځه وروسته د علم له زده کړي پرته بل څه ته مه را ټولیږئ، زما د امت په وختي پا څیدلو کي برکت اچول شوی دی.

کله چي هغه خبري پای ته ورسولې، را ووتم او هغې خوني ته راغلم چیرته چي د مدرسې طالبانو د سهار ناشته تیاره کړې وه؛ د سهار په ناشته کې د معمول او نورو مدرسو په څېر وچه سړه مړۍ او شین چای ایښودل سوي وو، د ناشتې تر کولو وروسته درسونه پیل شول ما هم په لومړي ځل "صرف میر" راوخیست او د مولوی صاحب مخي ته کښېناستم.

مولوی صاحب د کتاب شروع او پای ته د ښه نیت دعا وکړه او ویې ویل:

_ صرف د علم مور او نحوه یې پلار دی، ته باید دا ټول یا نیمی کتاب یاد کړې، ما هم د "هو" او "سمه ده " په پار سر ورته ښوراوه، یوه شیبه زما او د کتاب په اړه وږغیده بیا یې زه رخصت کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسپښین مهال بازار ته د خپل کلیوال ملګري سره ووتم، په لاره کې مې هغه تخته چې د پولیسو ۱۱۹ بیړنۍ شمېرهورباندې لیکل سوې وه سوځول سوې ده، تختې ته مخامخ د دوکان دېوال رنګ او ور یې مات سوی وو، موږ هم هم دې دوکان ته ودریدو، یو پاو کلچې مې راوخیستې، له دوکاندار مې د مات وره او رنګ دېوال پوښتنه وکړه یو سوړ اسویلی یې وکیښ او ویې ویل:

تېره شپه طالبانو هغه وړاندې تخته چې د پولیسو لخوا درول سوې وه په راکټ ویشتلې، راکټ تر تختې وتلی او زما د دوکان په کونج لګیدلی دی، زه نه پوهیږم دوی به د تختې په ویشتلو کې څه تر لاسه کړې وي خو زما د کوچنیانو د خولې ګوله یې نیمی کړه، پرته له دې چې نور څه ووایم له دوکانه یې راووتلو او د نور بازار په لور وخوځیدلو، ما د ځان او جامو وینځلو لپاره صابون راونیولو او بیرته مدرسې ته راغلو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې او ورځې تکراري سوې، د معمول سره سم هره ورځ به ښه په خوند درسونه روان وو، زه به هم اوس هر سهار وختي پورته کېدم، کتاب مې تقريباً نيمايي ته رسېدلی وو، مولوی صاحب د ازمويني وويل د پنجشنبې په سهار د کتاب تر ازمويني وروسته کله چې بريالی سوم هغه راته وويل:

_ زه پوهېږم ته به د دين ګټونکی او ساتونکی يې، د خدای په لار کې ستا شهادت زما تر ټولو لوړه آرزو ده، لکه څرنګه چې حسين ابن علي د مظلوم د حق او د عوامو د مصلحت د دفاع د ود خپله دنده وګڼله او په دې لاره کې يې لټې ونه کړه هغه خپل ځان يې د کربلا په لوی وژنتون کې قربان کړ او د خپل پالونکي په نزد د شهيدانو سرور شو او د انسانيت په تاريخ کې يې د سمون پالو د لارښود مډال په غاړه واچوه.

ما د مولوی صاحب غټو سترګو ته په حيرانۍ سره کتل او هغه خپلې اوږدې څڼې يې تر خولې لاندې کړې، لاسونه يې په ږيره تېر کړل يوه شيبه غلی وو، بيا يې وويل:

_ زما استاد د الله تعالی هغه بنده وو چې همېشه يې دا تلوسه درلوده چې د خدای ج په سپېڅلې لاره کې د يو سخت زړي ظالم او متجاوز کافر له لاسه په شهادت ورسيږي؛ ځکه ده د خپل خالق ج او د هغه د پېغمبر ص پر خبره پوره ايمان او باور درلود چې شهادت ، جنت ته د تللو تر ټولو لنډه کې لاره ده، هغه د قرآن او حديث په دې خبره پوره باوري وو چې له دې نه پورته درجه يوازې د انبياء عليهم السلام کېدای شي چې يو مؤمن

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خدای تعالی د فرض عین حکم د پرځای کولو په غرض د متجاوز ظالم کافر په وړاندې میدان ته د براء بن مالک او د أنس بن نضر رض په څېر ور ودانګي او بیا د هم هغه کافر له لاسه اویا زخمونه وګالي او په شهادت ورسیږي.

د وخت او بخت کیسې دي؛ یو بل طالب چي تر ما څو میاشتي مخکي مدرسې ته راغلی، ده به ویل ما ټول عمر دلته او هالته لکه د هوایي مرغه تېر کړی، خپل کور یې په سترګو نه دی لیدلی، علت یې څه دی ولي کور ته نه ځې؟

ددې پوښتني په ځواب کي به لکه ګونګ داسي غلی شو.

د جمعې د ورځي په رخصتۍ ټول لیري او نژدې شاګردان رخصت شول، دا وخت یوه نجلۍ په کړکۍ کي تر سپوږمۍ سپینه رابښکاره سوه، ویښتان یې شمال په یوه بله خوا وړي را وړي، سترګي مي ور وختې، تر وره را غبرګه مسجد ته را دننه سوه، نوکان یې ژوول، زما نوم یې اخیسته مور یې یوه منډه ورکړې وه چي مسافر طالب ته به یې ورکړې؛ ور ولاړ ووتم، سترګې مشې مي ورسره وکړه ورته و مي ویل:

_ هغه زه یم مور ته دي زما لطرفه مینه او مننه.

طالب تر چخلکو غلي، غلي پسي کتل، سپیني پوندي یې له تورو سینډلو سره لا ښې ښکاریدې، کتاب یې پټ کړ د سترګو په اشاره یې د ځان خوا ته ور وغوښتم، خوله یې چوله کړه او ویې ویل:

_ څوک وه!؟

د باندي تیز باد سو، دوړي او خاوري جومات ته راننوتې، ور ولاړ سوم کړکۍ مي پوري کړه او طالب ته مي مخ ور واړاوه و مي ویل:

_ د هم دې کلي جنۍ ده، څو ورځي وړاندي یې مور د مسجد سره نژدې زیارت ته راغلې وه، او به یې غوښتې، په مدرسه کښې څوک نه وو، او به

(c) ketabton.com: The Digital Library


مي ورکړې، له ما يې نه پوهيږم تر څه پوري وپوښتل،ما يې په ځواب کښې وويل زه د پکتيکا يم او دلته د درس لپاره راغلی يم.
هغه سترګې ومښلې لکه چې د غرمې خوب ته يې ځان اماده کاوه، لږ موده غلی وو، بيا يې خبرې پيل کړې:
_ ,, د نا محرمي ښځې سره د سترې مشي پر وخت لاس تر څادر لاندې نيول بهتر او غوره دي ،، بل ځل پام کوه چې دا وړ له انجونو سره پوښتنه و نه کړې او هو ياد لره د دې ميرمن زوی عسکري کوله، وسلوالو و واژه لاس يې په مونږ پاک کړی، هغه وايي په مدرسه کې طالبان او سيږي، دا هم دوئ وژلی دی يوازې د مدرسې کسانو ميوند ښه پېژانده چې عسکري کوي.
ما له ځانه سره وويل:
((کيدای شي ګمان يې سم وي، مدرسه سم او بد فکرونه روزلی شي ))
هغه په ډېره قهرجنه لهجه وويل: ولې غلی شوې!؟ لکه چې زما خبره ښه نه درباندي ولګېده.
و مي ويل:
_ هيڅ، زه به څه ووايم، نه پوهيږم تر ما مخکې دلته څوک او څنګه..
طالب په غصه ښکاريده، په زوره، زوره يې خبرې پيل کړې او ويل يې:
_ ته بايد سپين او تور وپېژنې، زوی يې زمونږ او د ديدن دښمن وو، له خولې دې خبرې کاږي، دا ښځه به هم له کوم چا سره ضرور کوم لاس لري دومره کور سلا بلا نه چليږي .
و مي ويل:
_ کور يې ما ليدلی، زه به وظيفې ته ورتلم، کری ورځ د ټک او زر تارو کار کوي، د کلي ناوي او پيغلو ته بالښتونه ګنډي، له هغه به يوه ګوله مړی پيدا کوي، خوله او لاس به يې وربانديي ازاد وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


سترګې یې د خوب په بهانه پټې کړې، لږ ځنډ کرار سو، اړخ یې په بله بدل کړ، ورو غونډې یې وویل:

_ ته لا دلته نوی یې خپله به پوه سې.

تلیفون یې وشرنګېده، په منډه ووت، بیرته رانغی زه، قاري صاحب او کلیوال ملګري مې په مدرسه کې یوازې پاتې شول.

نن څوومه وه، نازکې، او د شنو سترګو نجلۍ به هر ماځیګر دوه یا درې منې د مسافر طالب په نوم مدرسې ته راوړې، نوکان ژوول یې یو عادت وو، په شونډو کښې یې یو څه وویل، ما وپوښتل:

_ پوه نه سوم څه دې وویل؟

په خندا کې شاته ولاړه وې ویل:

_ ته د پتکیکا یې؟

ما څه نه وویل دې لاس را اوږد کړ وې ویل:

_ میړتون

په اوږه مې میږی وو هم داسې مې پرېښود، دې ته مې وویل:

_ یا زه د پتکیکا نه یم خو د پکتیکا یم.

دا پخپله خبره وشرمیده، تر ویاله یې ټوپ کړل، منډه یې واخیسته پاولۍ یې لکه د آسپې شرنګیدې، تر دېوال پټه سوه له سترګو مې پناه سوه.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نبې شپې (برات) شپه وه، غوښتل مي کور ته زنګ ووهم، مور به مي يادوي، ګوندي زما د ږغ په اوريدو به خوشحاله شي؛ کله چي مي هڅه وکړه د ورور نمبر مي بند دی، فکر مي خراب شو اوس څه وکړم، نن به مي همزولي لوبي کوي ټول به د نن شپې له رواجي ميلې خوند اخلي او زه ...

ملګري ته مي زنګ وواهه شماره يې بنده وه، صبر کومه بله شماره به يې کار کوي، مخابراتي شبکه پرلپسې د ملګرو شمېرې بندي يادوي، د نيمي شپې انديښنو په غېږ کښي ونيوم، ځني يادونه مي تر خوا او شا را تاو شول په وجود کښي مي نا آرامي احساس کړه د باندي ووتم،د پينځلسمي سپوږمۍ لکه دچا په انتظار ولاړه وه ستورو د بنيادم په کړنو پسي پسخند واهه، سر راباندي وګرځيد دا وخت مي همزولي ويده شوي، نه پوهيږم کوم درد مي اوښکي وبيولې، کتاب مي خلاص کړ موضوع يې راته بې خونده ويسېده، د ليکلو هڅه مي وکړه هيڅ، هيڅ هر څه له ما تللي او خپه وو ساه مي واخيسته اوښکو ته مي له زړه د درد لاره وشوه؛ سترګي مي سره ورغلي وې خوب مي ليد ,, باد رېږي اوبه خړي کړي ،، د سهار اذانونه کېدل سترګي مي وغوړولې پورته شوم اودس مي تازه کړ لمونځ مي ادا کړ ، مولوی صاحب ته کښېناستم، د خوب تعبير مي وغوښت هغه وويل:

په خوب کي ځان په رېږو اوبو کي ليدل د روغتيا او سلامتي معنا لري دا چي تا خړي اوبه په خوب ليدلې برعکس ته به ناروغه شې، هو زه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


غواړم تاته کوم زيان ورسيږي، دوه ركعته لمونځ ادا كړه او ډېر تلاوت كوه.
هره شپه به د كور او ادې ياد راسره وو، تر ناوخته به يې خوب ته نه پريښودم،په هم دغو ورځو كي قاري صاحب هم كور او كلي ته ولاړ؛ كه ماځيګر به چكر ته ووتم هم بيرته به ژر راتلم ورځ په ورځ مي د خولې خوند خرابيده، وخت به نه راباندي تېريده، تر روژې پوري قاري صاحب نه راغی، په هم دغه ورځو كښي مولوی صاحب د هغه طالب خبره هم ياده كړه چي له مدرسې تللی بيرته نه دی راغلی، مولوی صاحب وويل:
_ داسي بختور خلک او داسي بختور نصيب د هرچا نه وي، بختور سړی دی چي د ښې شپې په شپه يې د شهادت جام نوش كړی.
ماته يې ګوته ونيوه او زياته يې كړه:
_ زه باور لرم ته به هم يو ورځ داسي شهيد سې،هو كه ته نه غواړې دتودېويني په جوش كي له امريكايانو او د هغوئ له مزدورانو سره وجنګيږې په زور دي نه مجبورم، دا ياد لره هغه چا چي د مدرسې سړه مړی خوړلې وي له دين سره خيانت نه كوي.
له هم دې سره مولوی صاحب ووت، ماته د خپل پلار هغه خبره را ياده سوه چي ويل يې:
تر هرڅه وړاندې "امن" كله چي د يو هيواد خلک د امن تر بيرغ او دسولي تر سيوري لاندي ژوند ولري، تعليم او پرمختګ كوي، دين،مذهب او ناموس يې خوندي وي.
هغه به دا هم ويل:
زموږ په هيواد كي روانه جګړه پردی ده، د دين او مذهب تر نامه لاندي نوري،نوري شخصي او سياسي ګټې په پام كي نيول سوي دي، چي قربانيان يې زموږ بې وسه ولس ګرځي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


سبا ته روژه وه، قاري صاحب هم راغی، په راتګ یې خوشحاله سوم، مائیګر مهال مو جومات را پاک کړ، یو کلیوال مقتدي نوي غالۍ راوړي وې هغه مو هواري کړې د لاوډ سپیکر بیټرۍ مولوی صاحب چارج کړه ترڅو بیا سهار وختي د قران کریم تفسیر د لاوډ سپیکر څخه وشي، ماخستن مړۍ وخوړل سوه، لمونځ او تراویح وشوې، مولوی صاحب راغی او ویې ویل: ستاسو د پشلمي لپاره به چای او نور هر څه چي وي زمونږ له کوره راځي غم یې مه کوئ.

او هم دارنګه هر پشلمي ته به یې خوندور د شیدو او شین چای، سوجي، حلوا او یا پراټې به یې راوړې، دمدرسې طالبانو د مولوی صاحب ستاینه کوله او دعاګاني یې ورته کړې.

یوه ورځ د غرمې په مهال قاري صاحب ته مي زنګ راغی له تلیفون سره دباندي ووت لکه چي کومه خبر یې له ما پټوی، بیرته راغی وې ویل:

_ ما فکر وکړ له کوره زنګ دی خو هغه بل څوک وو

په خبرو کښې ورولویدم :

_ دا دي تر څه پوري وویل ما کله پوښتنه کړې ده ضرور یو څه شته چي ته یې له ما پټوې؟

هغه وویل :

_ ورور دي وو !

ورته ومي ویل:

_ ښه نو بیا یې څه ویل ها؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی چي پوه سو خبره نه پتېږي ويې ويل:
_ وسله والو په کلي کښي مخابراتي شبکې سوځولي؛ ورور دي له مرکز ځخه اړيکه نيولې وه او ويل يې، ويل يې ... خبره يې سره وړوله، سر يې ورپټ کړ ويې ويل:
_ هيڅ هسي ټوکه مي وکړه !
ورته و مي ويل:
_ څه يې ويل ته ولي له ما خبره پټوې؟
سر يې را لوڅ کړ، ګړی ته يې وکتل د لمانځه وخت دی، را ولاړ سو ويې ويل:
_ ورور دي سلامونه ويل نن يا سبا به اړيکه درسره ونيسو ته به کابل ته راشې کورنۍ مو ګاونډي هيواد پاکستان ته ځي په کلي کښي ژوند سور اور دی .
درب ور يې را پوري کړ او له خوني ووت.
په سبا ورځ کله چي د ورور تليفون راغی که څه هم هيڅ نه غوښتل چي زه له مدرسې ځخه ولاړ سم، يوازي د ادې خبره مي ومنله، زه او قاري صاحب مخ په کابل را روان شو، څو قدمه لا نه وو راغلي چي مولوی صاحب په مخه راغی ماته يې يو څو افغانۍ راکړې او مدرسې ته د بيا راتلو يې په ټينګار سره راته وويل.
د لاري په اوږدو کي هم دا فکر راسره وو، چي ولي زه په کراره سره درس نسم ويلی، که هم دا يوه مياشت نور دلته پاتي سوی وای کتاب به مي خلاص سوی وو، د پلار هغه خبر مي ذهن ته راغله چې ويل به يې ,, هڅه وکړئ هم دا نن مو د زده کړو وخت دی کله چي زه مړ سوم ناممکن چي تاسو به درس وواياست،،
کابل له کوټه سنګي سره نژدې له ټيکسي راښکته شو او د سړک له ژۍ، ژۍ سره غلي روان وو چي يو چا راپسي غږ کړو ، ما وليدل چي ادې او

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوچني ورونه مي د سړک له غاړي سره په لمده او ککړه ځمکه ناست وو، مشر ورور چي خوله يې له خندا ډکه وه زمونږ سره ستړي مشي وکړه، ادې ته مي ور منډه کړه، دواړه لاسونه مي تر غاړه ورچاپېر کړل او ښه ډېر مو سره وژړل دا زمونږ د جدايي د درد او په وصال کي د خوښۍ اوښکي وې.

قاري صاحب مو رخصت کړ، موټر ته پورته شو، د کابل ښار تر دنګو، رنګينو ودانيو، مارکيټونو او دوکانو راتېر شول، څومره چي موټر له ښاره ووت دومره به ځوريدم.

ادې زما د تيرو شپو او ورځو په اړه پوښتنې کولې کومي چي په مدرسه کښي تيري شوي وې، زړه نا زړه مي ځواب ورکاوه، کله چې ما له ادې څخه د پاکستان ته تلو علت وپوښت، هغې وويل:

_ طالبانو دې مشر ورورته په هم دې تور ګواښ کړی چي ګواکي دی د دولت سره د جاسوس په توګه کار کوي، پرلپسې يې جومات ته ليکونه رالېږل چي له دولت څخه دې لاس واخلي د دې لپاره چي موږ مطمين سو يوڅه وخت دې له هيواده دباندي ولاړ سي، بلآخره موږ دې ته مجبوره شو چي کلی پرېږدو او پاکستان ته ولاړ سو.

زه ډېر تږی سوم خو اوبه مي نه څښلې ځکه چي روژه وه، د مشر ورور او ادې هم روژه وه، خو کوچنيانو ته يې له هغه ماشوم څخه اوبه رانيولې چي د سړک له غاړي سره په خيرنو جامو کښي ولاړ وو.

د لاري په اوږدو کي خوب وړی وم، کله چي موټر ودريد را ويښ سوم که ګورم موټر د سړک له غاړي سره ولاړ دی او د چنارونو او ونو ها خوا ته پريمانه رڼې اوبه بهيدې، له مشر ورور مي د ځای په اړه پوښتنه وکړه، هغه وويل:

دا د سروبي رواني اوبه بولي اصل کښي دا د کابل سيند اوبه دي کله چي د کابل له ښار څخه تيريږي د تينۍ په سيمه کي د لوګر سيند ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو ځای کیږي او بیا د تنګي غار ته داخلیږي هم دارنګه د پنجشیر سیند ورسره یوځای شي، د سروبي نه وروسته وریښمین تنګي ته داخلیږي، داسې لغمان ته او بیا د کنړ سیند ورسره یوځای کیږي او بلاخره د پیښور سیمي ته ځي چي د اټک په ساحه کي زړه نا زړه د سند له سیند سره یوځای کیږي.

زه د سړک له ژۍ اوبو ته ورښکته سوم، اودس مي تازه کړ، دوه، دوه رکعته د سفر لمونځ مو وکړ او مخ په ننګرهار وخوځېدل، د ماځیګر لمونځونه مو په ننګرهار کي ادا کړل، سترګه لویدو ته تورخم بندر ته ورسیدل، د تورخم په بندر کښي مو پاکستاني عسکرو ته سل روپۍ په هم دې خاطر ورکړې چي مونږ افغانان یو او په غېرقانوني ډول د پاکستان خاوري ته ځو، ما وویل:

لر او بر ... خبره مي لا پوره نه وه چي مشر ورور مي په خوله لاس راونیو او ویې ویل:

دلته دا خبري مه کوه دا د دې خبرو ځای نه دی ناوخته کیږي مونږ باید ژر تر ژره مزل تر منزله ورسوو.

کله چي د خیبر تر دروازه تېرسو ، دا وخت د ماښام اذانونه هم وشول، په هم دې سیمه کښي د یو جومات سره موټر ودرید، د جومات مخي ته ناستو ماشومانو سرې اوبه او خرماوي راکړې روژه مات او لمونځونه مو وکړل، پېښور ته چي رسیدلو په یو هوټل کښي مو مړۍ وخوړه دا ځکه چي ټوله ورځ مو هیڅ هم نه وو خوړلي . په هم دې شپه د لاهور ښار ته وخوځیدو، سهار اذانونه شوي وو چي لاهور ته ورسیدلو، په هم دغه ورځ مونږ روژه نه ونیوه یو خو د پشلمي وخت تېر سوی و و او بل ډېر زیات ستړي سوي وو .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


څوارلسم اګست د دوه زره یوولسم میلادي کال چې د پاکستان خپلواکۍ ورځ نمانځل کېده، په لاهور کښې زمونږ لومړۍ ورځ وه.
ګام په ګام شور_ماشور جوړ وو، شپېلۍ او سندري غږېدې، لاري او کوڅې یې د پاکستان په ملي بیرغونو ښایسته کړې وې، د ماشومانو او ځوانانو په غامبورو د سپوږمۍ او ستوري نښه انځور وه، تر دې وړاندې ما د کوم بل یا خپل هیواد د خپلواکۍ ورځ نمانځل نه وو لیدلي، دوري، دوري لا ډېر په ننداره پسې وګرځېدم، ماخستن په تلویزون کښې د هم دې ورځ په مناسبت خبري کېدې او د خپل هیواد د ملي دفاع عسکر او مهیمات یې ننداري ته وړاندې کول.
شپې او ورځې تېرېدلې د کوچني اختر ورځ را ورسېده ، اختر مرور وو یا که مونږ له اختره مرور وو، د کلي په نسبت اختر ډېر سوړ او بې خونده راباندې تېر سو، تر اختر وروسته مو په کارونو پیل وکړ، د نیمکو په یوه فابریکه کې مو کار کاوه، زه به د ورځې مهال ورتلم، مشر او تر ما کشر ورور به د شپې .
ماته یې درې زره پاکستانۍ روپۍ تنخوا وټاکله، زمونږ کور چې په کرایه مو نیولی وو، له فابریکې څخه ډېر لیري وو، دشپې لخوا به په فابریکه کښې پاتې کېدم ،د غرمې مړۍ د فابریکې په څښتن وه، ماخستن به مې نه خوړله، د سهار ناشته یو ګیلاس چای او پراټه مې له نژدې هوټل څخه په پور اخیستل ، کله چې د میاشتې اخیره سوه، تنخوا یې راکړه، زه مخکې له دې چې کورته ولاړ سم هوټل ته ورغلم زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشتې يو زره پينځه سوه روپۍ سوي وې هغه ته مې روپۍ ورکړې او له پاتې نيمی روپيو سره کور ته روان سوم.
په هم دغه شپو ورځو کښې زمونږ د يو کليوال سره په تليفون وغږيدم، ما د قاري صاحب پوښتنه وکړه هغه مې په ځواب کښې وويل:
_قاري صاحب د ملي امنيت کسانو د سړک له غاړې سره د ماين ايښودلو په مهال نيولی او بندي دی.
کله چې د قاري صاحب له بندي کېدلو زمونږ کورنۍ خبره سوه، ډېر خفه شول، هم دا وجه وه چې په ما باندې يې باور له لاسه ورکړ او زه يې له درس ويلو منع کړم مدرسې ته يې د تلو اجازه نه راکوله.
له هغه وروسته مونږ درې سره وروڼو د ايلفي په فابريکه کښې کار پيل کړ، هر يو ته يې اوه، اوه زره پاکستانۍ روپۍ تنخوا وټاکله، دوه مياشتې کار مې وکړ د ايلفي د ډېر زيات ګيس او ککړې هوا تنفس د سينې درد او ټوخې په ناروغۍ اخته کړم بشپړه مياشت کار ته نه ووتم، ډاکترانو راته وويل:
ته بايد هوا بدله کړې ناممکن چې ته په يوه محدوده فضا کښې ښه سې ترڅو دې ازاده هوا تنفس کړې نه وي.
د ادې په مشوره خپل هيواد ته راستون سوم او يوځل بيا مې په مدرسه کښې درسونه پيل کړل دا مدرسه زمونږ د ولايت (پکتيکا) په يوه نژدې سيمه کښې وه.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته مي یو بل ښه ملګرى هم پیدا کړ، درسونه پیل شول، دې ملګري په درسونه کي زما سره ډېره مرسته کړه او هم دا رنګه د اړتیا وړ شیانو د اخیستلو لپاره یې پیسې هم راکولې، کله، کله به کور ته هم ورسره تلم، مور یې ډېره مهربانه ښځه وه، زه یې هم خپل زوی کړم، د جمعې ورځ چې رخصت به سوم له ده سره به یو وار ضرور کور ته تلم که به نه ورغلم مور به یې خفه کېده، زما برخه وچه او لمده میوه به یې مدرسې ته رالیږله، ماته هم لکه خپله ادې داسي زړه ته رانژدې وه.
د قاري صاحب څو نورو شاګردانو هم په هم دې مدرسه کښې درس وایه، د قاري صاحب نوم به یې هر وخت په خوله وو، خصوصاً د مولوي صاحب یوه شیبه هم له یاده نه ووت، قارى صاحب رښتیا چې د اخلاقو یوه ښه نمونه وه، د هغه بندیخانې ته تګ په شاګردانو ډېر اثر کاوه ځکه خو به مولوى صاحب هر وخت د زندان ظلمونه بیانول او زمونږ په غوږونو کښې به یې د قاري صاحب د خلاصون لپاره د پاڅون خبري راڅخولې هغه وویل:
_ هغه بندیان چې حافظ او یا دیني عالم وي، په بېلا بېلو بهانو تر سختو شکنجو نیول کیږي، خوب ته یې نه پریږدي، برقي شاټونه ورکوي د مرګ تر پولې یې رسوي، دوی ته په کال کي یوه جوړه جامې ورکول کیږي، خپلي جامې نه ور پریږدي، هغه شیان چې د سره صلیب له خوا بندیانو ته ورکول کیږي عسکر یې پټوي، اوبه او خوراک پخپل وخت نه ورته رسیږي، او هم دارنګه ځني بندیان له روغتیایي ستونزو سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، کورنیو ته یې د نوموړي د علاج لپاره اجازه نه ورکول کیږي او نه هم دوی د بندیانو تداوي کوي، چې له امله یې ډېر بندیان مړه شي.
په دې ورستیو کښې مې دا ملګری وخت نا وخته په اونۍ کې څو، څو واره له مدرسې څخه د کور په بهانه بهولاړو بلآخره پسې ورک سو او نه راغی، کله چې مونږ خبریدل هغه بلې مدرسې ته تللی وو.
زه یو څه وخت په هم دې مدرسه کښې پاتې سوم او خپل درسونه مې ویل، یوه ورځ یو طالب دا خبره وکړه چې خبره سپینه ده:
_ له نن وروسته به د ملا صاحب له کوره د مدرسې چنیانو ته اوبه نه راځي دا ځکه چې د ملا صاحب لور له چنیانو سره سپین سترګې کیږي.
یو بل طالب تر کړکۍ سر را ایسته کړ چې زموږ خبري یې اوریدلې وویل:
_ ښه نو څه به کوو په مدرسه کښې تودې څه چې یخې اوبه هم نسته مجبور یو چې د ملاصاحب له کوره د اوداسه او څښاک لپاره اوبه راوړو، کلی کومه داسي عامه ویاله یا نلکه نلري چې د نورو خلکو سره، سره د مدرسې چنیان هم اوبه ورڅخه راوړي.
دا خبري نن د ملاصاحب او چنیانو تر منځ هم سهار له لمانځه وروسته وسوې، دوئ پریکړه وکړه له نن وروسته به اوبه د ګل اغا خان له کوره راوړي ځکه د هغوئ کور د ملا صاحب د کور په نسبت و دوئ ته نژدې دی؛ اوس چې ګل اغا خان څه وایي دا به وروسته مالومه سي.
غرمه چې د شنو سترګو چنې د ګل اغا خان کور ته د اوبو لپاره ورغلی، یوه بوکه اوبه یې ورکړې چې دا به یې لومړنۍ او اخرنۍ بوکه اوبه وي بیا به نه راځې، ځکه شین سترګی چنی د ګل اغا خان اکا د میرمنې په سترګو بیخې ښه نه ورځي.
ومې ویل
_ نو چاره څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب په غصه سو ویې ویل:

_ دوئ وایي چي شنې سترګی به نه ورځي کوم بل یو دي اوبه راوړي مهمه نه ده چي شین سترګی به اوبه راوړي.

ومي ویل:

_ شین سترګی به څه کوي د پیالو وینځلو هم نه دی تېره شپه یې هم د ناظم الطلبا ګیلاس مات کړی وو؛ ورزیاته مي کړه:

_ سمه ده شین سترګی به وچه ډوډۍ راټولوي، کاکو به دیګ پخوي، امین به د ګل اغا خان اکا له کوره اوبه راوړي فیصله وسوه.

اوس ټول خپل، خپل کارونه کوي لاکن ملا صاحب درس ته نه راځي باید پوښتنه یې وکړو چي څه کیسه ده؛ لور یې ماځیګر غوا پټي ته بیولې، میرمن یې هم دروازې ته په پیشو پسې راوتلي وه، خو ملا صاحب نن څوومه ده جومات ته نه راځي کلیوال یې له چا پوښتنه وکړي ؟

زه پخپله که څه هم د ملاصاحب سره مي دومره نه لګیږي باید ورسم او پوښتنه یې وکړم، ورغلم میرمن یې په څکو شونډو وویل:

_ خبره نه یم !

بیرته راغلم او په هم دې فکر کښې وم ناظم ته مي وویل:

_ نن هوا سمه ده؛ د ملاصاحب احوال به یو نه لا یو څوک راوړي، ته یو ځل د میر احمد کور ته ورسه میر احمد د ملا صاحب پوخ یار دی.

_ میر احمد ته ورغلم هغه هم وایې :

خبر نه یم !

اوس چاره څه ده؟

په هم دې فکر کي وم؛ پرلپسې دوه، درې د موټر هارن ووهل سو، ور ووتم نا اشنا څوک دی، دسمال یې تر خولې تاو کړی، را ښکته سو، د موټر کین اړخ ته یې منډه کړه دروازه یې ور خلاصه کړه، ملا صاحب را ښکته سو، موټر یې رخصت کړ او کور ته ننووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماځيګر لمانځه ته جومات ته راغی زما د يوې پوښتني په ځواب کښې وويل:

_ په مدرسه کې د اوبو نه شتون دا هرڅه ته په کتو سره مې د ښکته ولسوالۍ څخه چنده را ټوله کړه، تر څو دا ستونزې ورباندې حل او بل ته مو لاس اوږد نه شي.

څو شپې وروسته ملا صاحب موټر هم واخيست، کله، کله يې د دروازې مخې ته په چنيانو وينځه؛ او هو رښتيا له ملا صاحب سره سور رنګه سراچه موټر بيخي ښه ښکاري خو بشپړ کال ووت د ګل اغا خان له کوره اوبه راځي په مدرسه کې د اوبو نيستي، هستي نه سوه.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شپې ناوخته ډېر تږی سوی وم، را پورته سوم په بدنی کښې اوبه نه وې، په اوبو پسې د مدرسې انګړ ته راووتم سپوږمۍ بشپړه وه او ټول انګړ یې روښانه کړی وو، دا وخت که ګورم د مدرسې له څلورو خواوو د لیزر سرې بتۍ را باندې واچول سوې، وډار سوم پرته له دې چې اوبه وڅښم مدرسې ته ننوتم او نور څښیانې مي راویښ کړل، مخامخ دروازه خلاصه سوه او د امریکایانو ټانک د مدرسې انګړ ته را دننه سو، څو تنه امریکایي عسکرو د بام لخوا چوترې ته راټوپ کړل، خوني ته راننوتل، زموږ په سرونو یې د ټوپک شپیلۍ ونیوې، په خولو یې پټۍ را وتړلې او انګړ ته یې راویستل، زما په شمول ټول څښیان حیران وو او هغه عسکر یې څارل چې زموږ بسترې یې تر کړکۍ انګړ ته را غورځولې، د اشپزخانې ور یې مات کړ، ښه تر ډېره یې تلاشي وکړه فکر کوم هغه څه چې دوی یې په لټه وو پیدا نه کړل، دوه تنه عسکر زما خوا ته راغلل زما له خولې یې پټۍ خلاصه کړه، یو تن عسکر چې زه یې تر مټ نیولی وم راته وویل:

_ زه له دوی سره افغان ژباړن یم دا امریکایي عسکر غواړي له تا څخه څو پوښتني وکړي، امریکایي عسکر له ژباړن سره خبرې کړې ژباړن زما څخه پوښتني کړې او ځوابونه به یې امریکایي عسکر ته ویل:

_ نن ستاسو په مدرسه کښې د نابلده کسانو ناسته وه؟

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


_ فکر نه کوم، نن موږ یوازي وو او مولوی صاحب هم په مدرسه کښې نسته.

ژباړن ځان او د ټوپک شپېلۍ سمه کړه وویل:

_ ته باید خبري پټې نه کړې موږ کولای سو تاسو له ځانه سره یوسو او د جېل په تیارو کي مو بند کړو .

ومي ویل:

_ زه رښتیا وایم !

له ځانه سره یې روان کړم په داسي حال کي چي لاس یې زما په اوږه نیولی وو وویل:

_ آیا کله هم دلته د طالبانو یا کومي بلي نابلده ډلي ناسته کیږي یا سوې ده؟

ومي ویل:

_ میاشت وو ته چي مدرسې ته راغلی یم داسي څه مي نه دي لیدلي، یوازي موږ او مولوی صاحب دلته وي، هغه هم کله چي درس راته ووایي بیرته ځي.

زه یې پرېښودم ژباړن امریکایي عسکر ته ورغی، یو بل عسکر له ټولو چمیانو تلاشي واخیسته بیا یې له خولې پټۍ ورخلاصي کړې، ټانکونو ته وختل او حرکت یې وکړ، موږ لا د مدرسې د ګډوډ سامان په سمولو او راټولولو بوخت وو چي د سهار اذان وسو.

د لمانځه تر ادا کولو وروسته کله چي موږ درسونه پیل کړل د کلیوالو تګ، راتګ پیل شو او د بیګانۍ شپې د پیښې په اړه به یې ډول، ډول پوښتني کولې، مولوی صاحب چي دخلکو تګ راتګ او پوښتني ولیدې موږ یې رخصت کړو او مدرسه یې دڅو شپو په مخه را بنده کړه.

زه هم د خور کره راغلم، څو شپې او ورځي هلته وم، یو ماځیګر د ولسوالۍ له بازار سره نژدې د ماین چاودنه وسوه، چي دهم دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولسوالۍ عسکرپکښې شهیدان شول، زه د خور کره روان وم، د عسکر موټر راغی او زه یې له ځانه سره بوتلم، ددې پرځای چې ولسوالي ته مي یوسي پوستې ته یې یوړم، دا عسکر چې اکثرًیې زموږ کلیوال او د شا او خوا نژدې سیمو وو، زه یې په رسۍ ووهلم، هغوئ هم دا یوه خبره کړه، ته باید اقرار وکړې چې دا ماین دې ایښی، که ما هرڅومره د ځان سپیناوی وکړ په هم دې خاطر تور وم چې په دیني مدرسه کي درس وایم، شپه یې هلته د عسکرو په پوسته کې راباندې تېره کړه، دقومندان په ذهن کې دا هم ور ګرځېدل چې زما سره لوبې وکړي،تر دې وړاندې زما له ملګرو او همزولو سره یې په داسي کړنو خبر وم، دا چې په پوسته کي نور عسکر وو او دی پوهیده که داسي کومه هڅه وکړي مقاومت به یې وکړم، نه پوهیږم لوستونکي به څه فکر کوي، خو زما فکر بربنډ او عقل خام دی، د باور وزر مي مات دی، کنه الوت ته د هرچا زړه کیږي، د سهار په لمر باور نسته، که شپه په شپه کي داسي تکه توره پاتي سي، نا ممکن چي زما په مخ به بیا شمال لاسونه تېر کړي.

تر سهاره پوري یې زما لاسونه را تړلي وو، یو عسکر چې د پوستې ساتنه یې کړه ماته څو واره وویل چې اوس ټول عسکر ویده دي ته وتښته، هیڅوک هم ستا پوښتنه نه کوي ځکه د پولیسو قومندان دا حق نلري چي په خپله مخه یو څوک په پوسته کې بند کړي او ولسوالي ته یې نه بوځي، ما فکر وکړ که زه وتښتم هم دې عسکر ته لانجه جوړیدلی سي، کیدای سي قومندان یې له دندي وشړي، ټوله شپه داسي ویښ ناست وم که خوب به راغی سر به مي ښکته ولاړ او را ویښ به سوم.

سهار وختي اذانونه کېدل چي د پولیسو قومندان راویښ سو، زما لاسونه یې را خلاص کړل او کور ته تګ اجازه یې راکړه، کور ته راغلم او خور ته مي بهانه وکړه چي زه د یو ملګري سره تللی وم واده یې وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مي شپه تېره کړې ده، تر سهاره پوري سندري او اتڼونه وو، خوب راځي غواړم ویده سم تر څو لږ آرام سم.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه وروسته چې په هیواد کې له حالاتو زړه تنګ سوی وم او ادې مې هم ډېره یادیدله، بیرته خپل کور ته چې اوس په لاهور کې ده ولاړم، او هلته له یو افغان دوکاندار سره په دوکان کې د یو کال مودې لپاره منشي سوم، له یو کال تېرولو وروسته یوځل بیا هیواد ته له ادې سره یوځای ددې لپاره ستون سوم چې خور مو هم د څه مودې لپاره له ځانه سره راولم. که څه هم مشر ورور ډېر وویل چې دا ځل هغه خپله ولاړ سي، خو کور او کار ته په کتو سره ادې هغه دې ته راضي کړ چې زه له ادې سره یوځای وطن ته راسم.

دا هغه وخت وو چې په افغانستان کې د حامد کرزي تر دیارلس کلني دورې وروسته تازه په تازه د ملي یوالي حکومت رامنځ ته سوی وو، د ملي یوالي حکومت هغه وخت رامنځ ته سو کله چې ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو د پایلو پر سر د دوو مخکښو نوماندانو، اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ ناندرۍ او اختلافات راپورته شول او له څو میاشتو دوام وروسته، دواړو ټاکنیزو ډلو د ملي وحدت حکومت پر جوړولو هوکړه وکړه.

کلي ته له راتګ څو ورځې پس هغې مدرسې ته ورغلم چې د امریکایي ځواکونو تر چاپې وروسته مو رابنده کړې وه، دلته ټول نا بلده چهیان وو یوازې یو کس چې د مولوی صاحب د ترور زوی دی لا اوس هم شته،زما په لیدو خوشحاله سو، ما وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


_ ته پوهیږې زه دلته نه وم یوه اونۍ کیږي له لاهوره راغلی یم غواړم پوه سم چې زما ملګري اوس چیرته او څنګه دي؟

کله چې ما د خپل هغه ملګري پوښتنه وکړه چې اوس یې په بله مدرسه کې درس وایه هغه وویل:

_ ولې ته خبر نه یې چې هغه شهید سو؟

ومې ویل:

_ داسې څنګه کېدای سي هغه ډېر هوښیار ځوان وو او د هغه مور به تل ورته ویل چې له داسې کارونو څخه لرې اوسه.

چنې وویل:

_ زه نه پوهیږم مور به یې هغه ته څه ویلي وي او کنه، بختور دی چې د محبس په دروازه کښې فدایي حمله وکړه او شهید سو، دا د ده برکت وو چې څو تنه زندانیان یې راخلاص کړل، یو معقول او ثابت حقیقت دی شهید چې کله د الله ج په لاره کې خپله وینه تویوي، د الله جل جلاله د رضا لپاره ځان قربانوي، د سر په بیه له اسلام او قرآن نه دفاع کوي، له خپل کور، اولاد بلکې ټول ژوند نه د الله جل جلاله د رضا لپاره تېریږي، یقیني خبره ده چې الله جل جلاله به یې تر ټولو زیات نازوي.

زه هلته ډېر نه سوم پاتې او بیرته د خور کره راغلم، د ملګري مړینې راباندې زور وکړ، له ډېره خفګانه مې تبه سوه تردې چې ټوله شپه په ویښه راباندې تیره سوه.

په سبا ډاکتر ته ورغلم درمل یې راکړل، مګر بیا هم تبې دوام وکړ څو شپې او ورځې ووتې، زه لا ښه سوی نه وم چې د لوی اختر ورځې شپې سوې، دلته هم لکه د نورو ځایونو د مسلمانانو په څېر د قربانې لپاره چا پسونه، چا وزې او ګډې او چا غوایان رانیولې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اختر دوه اونۍ وتلي وې چې مونږ بيرته لاهور ته راغلل او خور مې هم د څو شپو ، ورځو په مخه راسره را وسته ، لاهور ته له را رسېدو سره سم يو ځل بيا له هم هغه کس سره په دوکان کې منشي سوم .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځ د یو ملګري لیدو ته چي په روغتون کښي د ناروغۍ له امله بستر وو ورغلم، د ناروغ تر لیدو وروسته کله چي راووتم یوه نرسه په ډېره بیړه راپسې راغله او زما مخي ته ودریده، په داسي حال کي چي ساه یې دردیده او لاسونه یې په سینه نیولي وو وې ویل:

_ ښښنه غواړم آیا تاسو مقتصد یاست؟

کله چي پوه سوم پښتنه ده او په روانه عامه لهجه خبري کوي حیران سوم، ځکه ما تردې وړاندي په پنجاب کښي پښتنه ډاکتره یا نرسه نه وه لیدلي، و مي ویل:

_ هو زه مقتصد یم دا چي تاسو ما پېژنۍ او زه دي نه پېژنم لږ باید دځان په اړه ووایې؟!

وې ویل:

_ زما نوم پلوشه ده، دلته په هم دې روغتون کي د خدمتګاري په ډول د عملیاتو عملي زده کړي کوم، زه تاسو د پخوا لا په رسنیو څارم او درسره بلده یم که زما ګمان سم نه وي نو ښښنه غواړم.

و مي ویل:

_ مننه اغلي زه مقتصد یم ستاسو ګمان سم دی دا چي زه ناوخته سوی یم غواړم ژر ووایې څه خدمت دي کولای سم؟

دا وخت یو امبولانس د بیړني خدمتونو دروازې ته ودرید، هغې وویل د ناروغ بیړنی حالت دی زه ځم ته نن ماخستن زما پیغام ته په طمعه اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په طمعه، طمعه دا شپه تېره سوه، بله ورځ او شپه تېره سوه، د پلوشې پیغام نه راغی، هم دې ته مې اندیښنه وه چې دا به څوک وي؟
د نا بلده روښان پیغام مې ولوست د سلام ځواب مې ورکړ، ډېر ژر یې پیغام راغی:
ولې دې دومره ناوخته کړ؟
ورته و مې لیکل:
د کوم بل چا د پیغام په طمعه وم.
_ یانې تاسو ته لومړی د هغه شخص پیغام مهم وو؟
_ بلکل
روښان په انګرېزي تورو پښتو لیکله او تر ډېره به یې ناسمه لیکله، ما ورسره ډېري خبري و نه کړې او د کتاب په مطالعه بوخت سوم، خوب وړی وم کله چې راویښ سوم، شپه نیمه وه، کتاب مې کېښود او پخپل ځای کې آرام ویده سوم.
سهار چې را پورته سوم، د ټولو ورځو په څېر نن هم لومړی پیغام د روښان وو، چې د ښې او نیکمرغه ورځ یې راته ویل، ځواب مې ورکړ:
_ ستاسو دې هم ورځ نیکمرغه وي!
هغه په لفظونو کې د خندا تمثیل وکړ او ویې ویل:
_ غواړم پوه سم ولې د نورو شپو په نسبت ناوخته ویده کېږې؟
ما څه نه ورته ولیکل او دوکان ته ولاړم، ماسپښین مهال په دوکان کې یوازي ناست وم روښان ته مې پیغام ولیږو
_ سلامونه روښانه هیله ده ښه به یې؟
هغه دا مهال موجود نه وو، او ځواب یې ماخستن ناوخته راکړ:
_ وبخښئ وځنډیدم او د دې څو شپو هم چې انتظار دې وکړ بخښنه غواړم هیله ده ما به وبخښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


_ روښانه زما او ستا تر منځ د خپګان څه نسته نو بیا ولې شیبه په شیبه بخښنه غواړې؟

وې لیکل:

_ دا ځکه چې زه هم هغه پلوشه یم ...!

اوږده ساه مې واخیسته پیغام مې ولیک:

_ عجیبه کوې دا دومره ځوریدل په څه معنا وو؟

وې لیکل:

_ هیڅ ! غواړم سبا زموږ روغتون ته راسې ځکه چې پلار مې هم راځي، او هغه غواړي له تاسره ووینې .

په سبا له خپل ورځني کاره وزګار نه سوم روغتون ته نه ورغلم، ماښام چې کورته تلم د لارې په اوږدو د پلوشې زنګ راغی، کله چې مې ځواب ورکړ هغه نه وه غږ د سړي دی، له سلام وروسته یې وویل، زه د پلوشې پلار یم او غواړم تا له نژدې ووینم، خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ هم دا اوس که ته هرځای یې زه هلته درځم، کله چې پوه سوم کومه بهانه نه منې ور غبرګه مې کړه:

هم دا اوس زه روغتون ته درځم په طمعه اوسه ، کله چې روغتون ته ورغلم پلوشې ته مې زنګ وواهه، پلوشه او یو بل سپین ږیری سړی چې لاسونه یې سره ورکړي وو د روغتون له دروازې را ووتل، زه پوه سوم چې هم دا یې پلار دی، موږ د سړک له غاړې سره یو ګردې میز ته کښېناستل، پلوشې دوه ګیلاسه تازه د مڼې جوس راوغوښتل، یو یې زما مخې ته کېښود او بل یې د ځان، ما خپل ګیلاس دهغې د پلار مخې ته ور نژدې کړ، پلوشې په شونډو کې وخندل:

د پلار مې د شکرې ناروغې ده هغه جوس نه څښي دا ستاسو دي، په ډاډه زړه یې وڅښه، پلار یې هم د پلوشې خبره تائید کړه او زیاته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا ته پوهېږې چې ما دلته ولې را بللې یې، رښتیا هم هیڅوک له خدای پرته دچا په زړه دومره ښه نه پوهیږي، پلوشه غواړي پښتو لیک لوست زده کړي که څه هم هغه اوس ډاکتره ده خو د پښتو لیک، لوست سره مینه لري، پرون یې ستا په اړه راته وویل او ما هم دا مناسبه وګڼله چې له تاسره ووینم، دا زما د نازولې لور پلوشې هیله ده چې پښتو لیک، لوست زده کړي زه لتا غوښتنه کوم چې دا هیله یې ورپوره کړې او زه باور لرم چې ته به په هم دې برخه کښې خپله همکاري له پلوشې څخه و نه سپموې.

دا وخت ماته له کوره زنګ راغی ادې وه، ناوخته سوی وم، کور ته چې راغلم د نورو شپو په پرتله ژر ویده سوم، سهار د پلوشې په زنګ راویښ سوم، تلیفون مي ورباندي بند کړ خبري مي نه ورسره وکړې، یوه شیبه مي بیا سترګي سره تللي وې چې ادې راباندي غږ کړ، لمانځه ته یې پورته کړم دلمانځه تر ادا کولو وروسته مي موبایل راوخیست، دپلوشې تر لسو زیات پیغامونه راغلي وو وروستی پیغام مي ولوست:

_نه پوهیږم ته څومره بې غمه یې ما غوښتل چې خبري درسره وکړم خو تا...

ورته ومي لیکل:

_ډېر وبخښه له خوبه وم ووایه څه خبره ده؟

د مخابراتي شبکې د خدمتونو دڅانګي څوابي پیغام راغی چې لیکلي یې وو ,, پیغام لیږل ناکام سو دغي شمیرې ته تر پیغام لیږلو وړاندي پخپل حساب کښې کریدت زیات کړئ ،،

نن مي دسهار ناشته هم په کور نه وکړه د پښتو ژبې یو کتاب مي را واخیست او دوکان ته ولاړم، موبایل ته مي کریدیت واچول، پلوشې ته مي زنګ وواهه، هغې څواب نه کړ، ماځیګر مي یو قلم او کتابچه واخیستل روغتون ته ورغلم ، پلوشه د روغتون په چمن کي ناسته وه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاسونو نوکان يي پرې کول زما په ليدو را ولاړه سوه، خندل يې، تر سترې مشي وروسته يې څوکۍ راته سمه کړه، د روغتون يوې بلي خدمتګاري ته يې غږ کړ جوس يې راوغوښتل، پټه خوله ناسته وه او جوس يې څښل، قلم، کتابچه او کتاب مي د هغې مخ ته کيښودل، په ليدو يې خوشحاله سوه او زما لاس يې په لاس کښي ونيو، يوه شيبه د پښتو ژبي ليکدود په اړه وغږېدل، بيا يې کتابچه پټه کړه او وې ويل:
_ غواړم ولاړه سم چي ناوخته ده
ما څه نه وويل، پټه خوله را ولاړ سوم د ماښام اذان سوی وو چي له روغتونه را ووتم او دوکان ته راغلم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشې ته مي د خوا له په رسنۍ باندي د ليکدود په اړه مالومات ورکول او هغې به له ځان سره په کتابچه کي ليکل، يوه ورځ مي زړه وغوښتل ورسم او وګورم ليک يې ثومره زده کړی، مائيګر مهال مي زنګ ورته وواهه، ويل يې نامکن نن به سره ووينو پلار ناروغه دی، خور مي روغتون ته راوړی له هغه سره بوخته يم کله چي وزګاره سوم حال درسره نيسم زه هم په طمعه يم.

ماښام يې زنګ راغی، ويل يې اوس راسه پلار مي اوس ښه دی هغه هم غواړي تا ويني، زه هم وزګار وم او دستي ور روان سوم کله چي ورغلم، د روغتون هغې خدمتګاري وليدم چي تېر ځل يې موږ ته جوس راوړل، بستر خوني ته يې بوتلم، ما وليدل چي د پلوشې پلار په بستر پروت وو، سيروم ورته چالان دی، څنګ ته يې يوه شنې سترګي نجلۍ ولاړه وه، طلايي څڼې يې پر سپين مخ را پرتې وې، دا وخت پلوشه هم راغله پرته له دې چي ماته څه وايي پلار ته ورنژدې سوه په تندي يې لاس ورکيښود، او ورته ويې ويل:

_ آغا مقتصد راغلی دی... !

هغه سترګي روڼې کړې، د ښو په اشاره يې سترې مشي راته وويل زه د بستر سره په نژدې څوکۍ کښېناستم، پلوشې وويل: _ دا زما مشره خور روقيه چې په هم دې روغتون کي د قابلګي څانګي ډاکتره ده، که ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ووايې چې مخکي ولي دلته نه وه او تا نه ده ليدلې دا ځکه چې روقيه د
څو ورځني سيمنيار په موخه اسلام آباد ته تللې وه.
مور ډېري خبري نه وکړې، پلوشې چاى را وغوښت ما منع کړه، ناوخته
سوى وم، د کوم چا د تليفون په زنګ را ووتم او کور ته راغلم.
د کتاب په مطالعه بوخت سوم څو پاڼي مي نه وې لوستي عينکي مي په
سترګو وې خوب وړى وم، په اړخ واوښتم، عينکي مي خرپ ماتي
سوې، ځان مي سم کړى ځاى بدل بيرته ويده سوم، په مياشت کښې
يوځل يا کله په اونۍ کښې دوه ځله مي عينکي ماتيږي، څوک به دا
ګمان کوي چې د لوبو پر وخت يې ماتوم يا هم چا سره به مي لاس اچولى
وي او څو سوکان به يې پر دا مخ، مخ وهلى يم؛ زه د دوئ ټولو دا خبري
واورم او پرځان يې ځکه زغمم چې عينکي مي ماتي کړي وي، سترګي
مي له درده رپيږي، وخت نا وخته مي اوښکي هم راويښې سي بهيږي، دا
عينکي هم زما د ژوند يوه برخه ګرځيدلې ده؛ په مونږ کي ډېري غلطۍ
شته چي له عينکو پرته له ورايه را معلوميږي مګر مونږ يې بيا هم نه
وينو، خپلي وړې، وړې غلطۍ په پام کښې نيول په ټولنه کښې د لوى او
ژور مثبت بدلون سبب ګرځېدلى شي؛ د تور ګمان عينکي په پوزه ګرځول
لويه بدبختي ده او دا بدبختۍ خپل ځان ته په کتلو سره له منځه وړلى
سو؛,, سترګي هرڅه ليدلى شي او کله چې په سترګو کي خس ولويږي،
سترګي يې نهويني هم دا رنګه مور د نورو انسانانو عيبونه وينو او خپل
عيبونو ته مو پام نه وي،، نن چې زما عينکي يوځل بيا ماتي سوي وې د
عينکو دوکان ته راغلم، سترګي يې وکتې، هغه وويل سترګي دي ژوبلي
سوي دي د شپې مهال کله چې ويديږې په يوه ټوټه باندي تړه، او ستاسو
عينکي به ماښام ته جوړي سي.
موبايل ته مي پام سو چي د پلوشې دريم پيغام راغلى، ژر مي راخلاص
کړ ,, سلام، که څه هم ما نه غوښتل درته ووايم، زه پوهيږم زما بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواخوږی نسته او که خواخوږی مي وي نو هغه به ته یې، زموږ د ارمانونو څلی وران سو او له سیوري یې بې برخي شول ،که څه هم پلار مي ماخستن وفات سو تاته اوس وایم موږ کلي ته راغلل ،ما نه غوښتل ته بې خوبه سې، پرون مي ستا سترګو ته کتل ډېر ستړی وې ،،

زړه مي نه ومنل یا خو ډېر نا ارامه سوم، روغتون ته ورغلم د پلوشې پوښتنه مي وکړه یوې نرسي راته وویل پلار یې خپل پارټمینټ ته وړی، پارټمینټ د روغتون شا ته پلازې په دوهم پوړ کښي دریم نمبر دی، په بیړه ورغلم دروازه مي خلاصه کړه په مخامخ هنداره کښي مي خپل ببر ویښتان او خلاصي تڼۍ ګریوان ولید ، د میز په سر نیم ګیلاس سوړ چای ایښی او د پرونۍ ورځي ورځپاڼه، یوه کتابچه فکر کوم قلم به چا له ځانه سره وړی وي، په الماري کښي کتابونه، کړکۍ خلاصه ولاړه وه، پرده یې شمال ته لکه د یوچا کمیس نڅېده، د لمر وړانګي راپرتې وې په کڅافات دانۍ کښي مروړل شوي کاغذونه؛ بیرته په زینو راښکته سوم لاندي تبخونه کښي یو څراغ روښانه دی نه پوهیږم دا وریښمین رومال به دلته له چا څخه لویدلی وي، د اوبو نلکه خلاصه پاتې نرۍ، نرۍ اوبه بهیږي، را ووتم یو ځل بیا بیرته پورته خیژم، وختم هرڅه په خپل ځای پاتي سوي دي، د پښو ښکالو راپسې وه،وارخطا راښکته سوم دوري، دوري مي کتل کېدای سي څه ناڅه داسي پیدا کړم چي پرونی دېره سوی سکوت وشړي .

د پلوشې نمبر ته چي هرڅومره زنګ وهم، موبایل یې بند وي، نه پوهیږم دا ورځ څنګه تېره سوه، د خپل پلار مړینه به راته سترګو ، سترګو ته کېده، ماښام د تلویزون له لاري خبر سوم چي ماښام د پکیتکا ولایت د یحیی خیلو ولسوالۍ په پړاو سیمه کي په داسي مهال ځانمرګی برید وشو چي د دریو ولسوالیو د والیبال لوبي ټیمونو پایلوبه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جسمي او ذهني ستړيا راباندي بار وه، د خوب غېږ ته مي ځان ور وسپاره، ويده سوی وم.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سهار کله چې دوکان ته راغلم، د نور کله په څېر غښتلی نه وم، شونډان مې هم وچ سوي وو او هم دا رنګه په ټول وجود کښې مې د درد احساس کاوه، د تلويزون پردې ته ناست وم چې د پرونۍ چاودنې په اړه يې راپور ورکاوه

د تېر ماښام په ځانمرګي برید کې ۳۶ تنه ځای پر ځای ووژل شول او څوارلسو نورو د ژورو ټپونو له کبله په روغتون کې ساه ورکړه.

يو تن چې له خبريال سره يې خبري کولې وويل:

۴۸ ټپيان چې روغتيايي حالت يې نازک وو، د ملي دفاع وزارت د هليکوپټرو په واسطه پلازميني کابل ته ليږدول شوي او د شهيد محمدداود په پوځي روغتون کې تر درملنې لاندې نيول شوي دي.

ده زياته کړه چې د ټپيانو د ليږدولو پر مهال هم يو تن ټپي په لاره کې ساه ورکړې ده؛ خو په ټپيانو کې د درو تنو ټپونه برسيرن وو چې تر درملنې وروسته کورونو ته رخصت شوي دي.

يو بل کس چې د امنيتي کسانو جامې يې په تن وې خبريال ته په خبرو کې وويل:

برید د غيبي خيلو په نوم کلي کې چې د يحيی خېلو ولسوالۍ ليري کلی دی، داسې مهال ترسره شوی چې د درو ولسواليو ځوانانو په خپلو کې د واليبال لوبه درلوده:

"د يحيی خيلو ولسوالۍ په يوه ليري سيمه چې د غيبي خيلو په نوم يادېږي او کلی دی، هلکانو او ماشومانو د واليبال په ميدان کې واليبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه او يو انتحاري چي چاوديدونکي توکي يې په ځان پوري تړلي وو، په هغه سيمه کي چي خلک د دې لوبې تماشې ته راټول شوي وو، انتحاري عمل اجراء کړی دی."
د راپور ترڅنګ يې د سيمي انځورونه، او د زخميانو حالت ننداري ته وړاندي کاوه، چي په وينو سرې ځپلۍ او د قربانيانو د بدن ځني غړي پکښې ښکاريدل، زه غلی ناست وم او د ټلويزون پردې ته مې کتل، استاد زما د مړاوي حالت پوښتنه وکړه، زه چي ډېر ناهيلی سوی وم هيڅ مي نه وويل او په خپل کار باندي بوخت سوم، ماځيګر مهال ډاکتر ته د خپل ځان د درملني لپاره ورغلم هغه وپوښتل:
_ داسي کوم څه دي چي تا ځوروي ولي ته نه پوهيږې ژوند څومره ښکلی دی؟
ومي ويل:
_په موټر کښي کښېناستم ژوند مي وليد چي ډېر په بيړه روان وو، انسانانو د يو بل څخه د مخکي تللو هڅه کوله، د اوبو غاړي ته ودريدم، د ژوند شيبې مي لکه اوبه بهيدې، د ونو پاڼې يې لکه زما ناکامي هيلي له ځانه سره يوه، يوه وړې، په کشتۍ کښي سپور سوم ژوند مي لامبو وهله، او کله چي د سړک بلي غاړي ته اوښتم ژوند تمام سو. هغه زما په خبرو وخندل او ويې ويل:
_ ولي د ژوند ترخې شيبې د خوږو شيبو په را يادولو نه هيروې؟
ومي ويل:
_غواړم هغه څه هېر کړم چي په اړه يې فکر کوم فکر مي خرابيږي، هر سهار مي د ژوند لومړنۍ او وروستۍ ورځ پيل کيږي زړه نا زړه د مزل کولو لپاره راووځم ځان مي ډاډه ساتم که وروستۍ ورځ مي هم وي ښايي نن دلمر تر غروب وړاندي خپل منزل ته ورسيږم په منزل کښي اوسېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library


راته مهم نه دي، منزل ته رسيدل مي هيله ده ، زه مي هيڅکله هم خپل اميدونه نه ناهيلي کوم.
ډاکتر خپله اله کېښوده سترګي يې زما په سترګو کښې ښخي کړې او وې ويل:
_ نو بيا ولي دومره ناهيلی يې؟
ومي ويل:
_ نه پوهيږم ژوند به ماته څه راکړي ، د خپل عمر په اوږه باندي تکيه يم د شيبو په شمار شپې تېروم، هره شپه د شمعي په لمبه لاس سوځم غواړم ځان د درد له زغم سره عادت کړم.
ډاکتر زما لاس ونيو ورو يې وويل:
_ هر هغه څوک چي تا ځوروي بايد هېر سي او نور يې په اړه فکر کول ستا صحت ته تاوان رسوي نه فايده.
ومي ويل:
_ ياد يې لکه باد د درد سکروټې را تازه کړي، د تريخ چاى تاوده غوړپونه تر ستوني تېر کړم، له تا او خلکو ټولي ګيلې په يو کاغذ وليکم اوس مي هم په جيب کي ډېر کاغذونه وراسته سوي، نن به دا کاغذ مخامخ د دېوال په چاق کښي کيږدم، يوې آرامي سندري ته کښېنم ګوندي ژوند مي زمزمه کړي زه اوس له کرږو او نارو لويدلی يم، که ګونګ سم ډېري چيغي به مي د زړه د ننه زندی شي.
هغه په زوره، زوره وخندل او ويې ويل:
_ زه اوس پوه سوم په رښتيا سره چي ته ليونی سوی يې. په هم دې وخت کښې زما په مټ کښي ستن ننيستله، سترګي راباندي درنې سوې، بې هوښه سوی وم.
کله چي په هوښ راغلم، ډاکتر او استاد دواړه مي تر سر ولاړ وو، زه يې په خپل ځای کښي را کښېنولم، بيخي آرام سوی وم، ذهني ستړيا مي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه تللې وه، ډاکتر په یوه پرچې دوا راته ولیکله او له کتنځایه را ووتم، ساعت ته مې وکتل د دوکان بندولو وخت وو، زه د دوکان په خوا روان سوم استاد تر لاس ونیوم هغه وویل دوکان مې بند کړی ناوخته دی اوس باید کور ته ولاړ سو .

له هغه وروسته پرلپسې څو شپې او ورځې په کور پریوتم تبې مې وې، یو ماځیګر کله چې لږ ښه وم د ماما له زوی سره راووتم، د ښار څخه د باندې صحرا ته ولاړو او د اوبو غاړې ته کښېناستل، ما ولیدل چې یو ځوان څوک په دواړو پښو شل دی او دواړه پښې یې کږې دي د اوبو له غاړې سره په بایسکل کې ناست دی، زما د یوې پوښتنې په ځواب کښې راته وویل :

_ د زړه په سترګو مزل کوم، کله چې مې پلار وفات سو، لاس او خوله مو نه سره چلیدل لتا او ما سره مې مشوره وکړه، ژاولې، پتاسې او نور واړه، خواږه به مې د سړک له غاړې سره پلورل ګذاره مو کړه، اوس مې شکر هم دا د کور ترمخ دوکان دی سهار راووځم ماښام لاړ سم، د لور مې مینه ده چې د اوداسه اوبه او خواږه تر دوکانه راوړي، زوی مې په پینځم او لورکې مې په څلورم ټولګي کې درس وایي هر څه زما د وس په اندازه راسره سم دي راضي یم له خپل خدایه .

زیاته یې کړه:

_ د خدای تر خدایي جار سم چې هرڅه یې زما او خلکو په وس پوره او برابر دي، ټنبلي یوه ناروغي ده که څوک وغواړي علاج یې ټینګه اراده او لوړ همت په ځان کښې را پیدا کول دي.

موږ ډېر نه کښېناستل چې د ادې زنګ راغی او کور ته یې وبللم ویل یې ناوخته ده، زه او د ماما زوی دواړه زموږ کور ته راغلل په هم دې شپه د نورو شپو په نسبت ژر ویده سوی وم، ما له ځانه سره فکر کاوه چې ښه سوی یم، او اوس کولای سم چې سبا دوکان ته ولاړ سم. ★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سبا ورځ سهار هم دوکان ته نه ولاړم، غرمه مهال د ترخو وریجو دوکان ته له یو بل ملګري سره ورغلم، نن یې تر پرون وریجې لا ښې پخې او خوندوري وې، د ده په وریجو غرېدل چې خبرې تر کیسو پورې سره ورسیدلې. ملګري مې له دوکانداره پوښتنه وکړه:

_تر دې دا ښه نه وه چې په همدې فابریکه کښې یا دښار په کومه بله دولتي څانګه کښې دې کار موندلی وای اسوده به وې او هم به دې کار جوړ و.

دوکاندار خوله خندا ته جوړه کړه او په خبرو کښې ورولوید ویې ویل:

_ ,, محترمه ! کله چې ما د سړک په غاړه په لاسي ریړۍ کښې وریجې خرڅولې ته په هم دې فابریکه کښې خدمتګار وې که ستا یاد شي کله، کله به دغرمې یا بریځر پر وخت راتلې او وریجې به دې خوړلې هغه وخت به ستا تنخوا تقریباً اوه زره روپۍ وه، ما به د ورځې زر روپۍ ټوله سودا کړه؛ اوس چې ته له خدمتګار وروسته د فابریکې منیجر سوې ما دوکان پرانیست ستا میاشتنۍ تنخوا اتلس زره روپۍ ده او زه د ورځې اته زره روپۍ سودا چې په هغوئ کښې درې زره روپۍ ګټه کوم، د نن ټوله خواري مې زما وروسته د زوی استراحت دی، او ستا ټوله خواري ستاسو د فابریکې د څښتن، را تلونکی کال به زمونږ دواړو ځامن چې همزولي او ټولګیوال دي څنګه چې مونږ دواړه وو، زما زوی به دوکان ته او زه به کرار د ژوند تر وروستۍ شیبې د میرمنې په څنګ ووسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبري يې لا پسې اوږدې کړې زما د ملګري په اوږه يې لاس ور کېښود ورته ويې ويل:
_ ستا زوی به ستا په څېر لومړی خدمتګار او بيا ... ملګري جيب ته لاس کړ په پټه خوله يې د دوه خوراکه وريجو سل روپۍ ورکړې او له دوکانه راووتل.
موبايل مي وشرنګېده، که ګورم پلوشه ده، له ملګري څخه لږ څنګ ته سوم او ځواب مي ورکړ:
_ سلام پخير راغلې هيله ده ښه به يې؟
هغې يوه شيبه څه نه وويل غلې وه، مجبور سوم بيا ورغږ کړم:
_ سلام ولي غږ نه کوئ زما غږ اورې پلوشې!؟
په داسي حال کي چي سلګۍ يې وهلې وې ويل:
_ اورم!
زه پوه سوم چي دا غږ د پلوشې نه دی پوښتنه مي وکړه _ څوک يې؟
وې ويل:
_ روقيه يم د پلوشې مشره خور
لږ نور مخکي ولاړم په ډېره تلوار سره مي ورته وويل:
_ پخير راغلې روقيې هيله ده ښه به ياستئ څه خدمت مو کولای سم؟
وې ويل:
_ پلوشه، پلوشه ناروغه ده ، غواړم ته هم راشې هغه اوس په روغتون کي بستر کوي، هيله کوم هم دا اوس راسه.
اړيکه يې پرې سوه، انديښنې واخيستم، ملګری مي په خپل ځای پرېښود، زه د دوکان په پلمه روغتون ته ورغلم، روغتون ته له رسېدو سره مي په روقيه سترګي ولګيدې د بيړني خدمتونو د دروازې مخي ته ولاړه وه، زما په ليدو يې حوصله له لاسه ورکړه، کلک يې په غېږ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ونیولم او په چیغو، چیغو یې ژړل، اوښکي مي ور پاکي کړې د پلوشې پوښتنه مي وکړه، هغې په ژړا، ژړا کي وویل :
_ پرون دا مهال مور مې خپلي دندي ته راغلو، د پلوشې صحت ښه نه وو، نا آرامه وه، اوس لږ شیبه وړاندي یې هوښه ولویده .
ومي ویل:
_ ته غم مه کړه ان شاءالله هغه به ژر ښه سي، ته دا راته ووایه اوس چیرته ده؟
روقیې په داسي حال کي چي ژړل یې مخامخ خونې ته ګوته ونیوه، زه پوه سوم چي هلته ده، نژدې ورغلم، د وره خوا ته د وړې کړکۍ ترڅنګ چي پرده وربانديي کش وه ودریدم .
د روغتون په لاوډ سپیکر کښي یې شپږویشتم نمبر او د میوند نوم واخیست، مور یې له څوکۍ پورته سوه ماشوم یې ترلاس ونیؤ، د ډاکتر خوني ته ننوتل له لږ ځنډ وروروسته بیا غږ سو وویشتم نمبر یې وویل ، وړوکی ماشوم او مور یې له کتنځای څخه راووتل په انتظار خونه کښي زما تر څنګ په ماته څوکۍ کښېناستل، وړوکی ماشوم غلی، غلی مور ته غږیده، مور به یې په ویښتانو کې مهرباني ګوتي ور وهلې، په سینه پوري به یې ونیؤ، د دهلیز له وروستۍ خوني یوه نازکه نرۍ پیغله چي سپین کوټ یې اغوستی وو، د وړوکي میوند خواته راغله، له وجود او جامو یې د عطرو وږم راته، په نرمه او خوږه ژبه یې ورته وویل:
_ ماشاالله څومره ښه ماشوم دی نوم دي څه دی؟
ماشوم وویل:
_ میوند !
نرسي په داسي حال کښي چي پیچکاري یې ډکوله وې ویل:
ښوونځي ته ځې که نه، که ځې نو په څووم ټولګي کښي درس وایې ؟
میوند وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


ـ دریم ټولګي کي
ـ پلار به دي ویل میوند ډېر تکړه هلک دی لسټونی دي در ونغاړه چي ته څومره زورور یې؟
میوند لسټونی ور ونغښت لاس یې غبرګ کړ، خپلي مټي ته یې وکتل او ویې ویل:
ـ سلمان خان یم!
نرسي د پمبې له پمبې څخه لږ پمبه ورپرې کړه، او میوند ته یې وویل:
ـ رښتیا هم لکه سلمان خان، ته دي دا سترګي پټي کړه اخ څومره ښې سترګي دي، سپین نرم لاسونه،او دا لاس دي موټ کړه .
میوند چیغي کړې:
ـ وخخخخ ته هم چیچکي لګوې!؟
نرسي وخندل:
ـ سترګي دي پرانېزه مور دي ویل د پیچکاري له ستني ډېر ډارېږي.
په هم دې وخت کي یو بله نرسه رااووته دا هم هغه نرسه وه چي زه یې پېژندلم د پلوشې ملګری یم، له ځانه سره یې بوتلم، آسماني رنګه پلاستیکي خولۍ یې را په سر کړه، مول یې را ووهه او د پلوشې بستر ته یې ودرولم، یوه شیبه لا وتلې نه وه چي پلوشې سترګي را رڼي کړې، اوږده ساه یې واخیسته، زما په لیدو فکر کوم خوشحاله سوه، په شونډو کې وخندل، ما یې لاس ونیو، دبستر ترڅنګ نژدې په څوکۍ کښېناستم، روقیه هم راغله خندل یې، ژر، ژر یې خپلي او ښکي پاکولې، پلوشه یې په دواړه مخ ښکل کړه، ډاکتر راغی د پلوشې نبض یې وکاته، په پرچې یې درمل ولیکل او پلوشې ته یې د آرام کولو مشوره ورکړه.
پلوشې یو سوړ اسویلی وکیښ او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ دلته مي زړه تنګيږي، غواړم خپلي کوټې ته ولاړه سم، دا چي د پلوشې کوټه هم د روغتون شاته نژدې وه، ډاکتر ورسره ومنله او ډېر ژر يې موږ ته رخصت راکړ چي پلوشه خپلي خوني ته ورسوو .

چي د پلوشې خوني ته ورسېدل، روقيې وژړل کله چي ما يې د علت پوښتنه وکړه هيڅ يې هم نه ويل، ما فکر وکړ د پلار ياد يې تازه سو، خو پلوشې وويل:

_ د روقيې سبا ته واده دی، خاوند او خسرګنۍ يې نه غواړي نور روقيه داسي ووسي،دا چي د روقيې کوژدن پروسږکال سوې ده موږ هم څه ويلی نسو، دا وخت روقيه را ولاړه سوه او ماته مخامخ کښېناسته وې ويل:

_ زه دا نه وايم چي زما واده کيږي يا هغه شخص زما خوښ نه دی، يوازي او يوازي هم دا درد راکوي او ما ځوروي چي کاش اوس مي پلار ژوندی يا موږ داسي بې وروره خويندي نه وای پيدا سوي.

ما که هرڅومره تسلي ورکړه، کوم ګټه يې نه وکړه، ماښام ناوخته په مړاوي قدمونو کور ته روان سوم .

ځني وخت يا که ووايم هر وخت هم سمه ده د انسان الوت ته زړه کيږي، لاسونه مروړي او وايي کشکي وزري مي لرلی چي الوتی وای په لوړو او ژورو، انسانان که د مرغانو په څېر وزري نلري مګر بيا هم الوت کولای شي، هيلي د انسان وزرې دي د لاس ته راوړلو لپاره يې هر ډول ممکنه هڅه الوت دی، ناهيلي د انسانانو له وزرو ښکي کاږي او له الوت څخه يې را ګرځوي، ژوند په اميد کيږي، هدف مزل دی هم منزل که په ژوند کښي هدف و نلرو مزل نه شو کولای چي مزل و نه کړو منزل ته نه رسيږو ، په هم دې فکرونو کي ډوب وم چي کور ته ورسېدم.

هم هغه شپه زه چي راتلم ادې مي د ماما کره تللې وه، څو ګولې ډوډۍ مي وخوړه ځان مي د خوب غېږي ته ور وسپاره، تر ډېرو په خپل ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې لټ په لټ اوښتم خوب نه راته، د شپې ناوخته چې د کورنۍ ټول غړي ویده شول، سترګې مې پټې کړې او خوب وړی وم.

ماغوښتل د خپل روح تر نزوله د شپې په تور تونل کښې ځو ګامه مزل وکړم، د خاموشه دېوالونو حال واخلم او دمړو هیلو په قبرونو سلام ووایم، د ښار په څلور لارې کې روان وم، یوازې یو څراغ بلیده نوره تیاره وه، د څراغ ژېړبخوني رڼا ته ودریدم که ګورم یو ځوک په لړګینه ځوکۍ ناست دی سلګۍ وهي، ورنژدې سوم او پوښتنه مې وکړه:

ایا تاسو هم زما په څېر یو ورک ځوک یاست چې د خپل روح نزول ته دشپې ترناوخته دښار په لارو او کوڅو کې انتظار باسئ؟

سر یې په داسې حال کښې را پورته کړ چې سترګې یې له اوښکو ډکې چینې ګرځېدلې وې په مخ یې د اوښکو ویالې را رواني وې د دې پرځای چې څه ووایې را ولاړ سو، بیا یې په دواړه مخه ښکل کړم، په ځیر، ځیر یې زما وجود او جامې تر نظر تېرولې وویل:

زما خدای ډېر مهربان دی، او زما دا یقین وو چې یو ځوک به زما د سکوت د شور کرارولو ته رالیږي، زه پوهیږم چې زما او ستا د درد شریکولو تړون په ازل کې سوی او موږ دواړه هغه ځوک یو چې دشپې ترناوخته پورې د ښار په لارو او کوڅو کښې دخپل روح په لټون پسې ګرځو، بیا یې د خپل جیب څخه یو کاغذ راویست او ماته یې ونیو:

ها دا ولوله هغه جمله ده چې ما هیڅکله شعر نه کړه مګر په لوستلو یې د درد احساس کوم، په وجود کښې مې څړیکه راولې او له سترګو مې اوښکې بهوې...

دا هغه شپه وه چې یو ځوک مې د خپل ځان په څېر وموند چې د ښار په لارو او کوڅو کښې د خپل روح په لټون پسې په لوڅو پښو راوتلی وو، نغښتل سوی کاغذ مې پرانیست لیکلي یې وو ,, کاش انسانان په ماتو سړکونو کښې د وړو تورو میږیانو او په ویرانو کورونو کښې د مرغانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځالو ته ځير واى، تر څو پوه سي مينه او ژوند تر لويو، لويو ماڼيو په ويرانو دېوالونو کښې ډېر ښکلي دي ،، کله چي ما وغوښتل يو څه ووايم، راويښ سوم سړى مي له سترګو پناه سوى او زه په خپل هغه بستر پروت وم چي ماخستن مي د مور په نه شتون کي د خوب لپاره پخپله را غوړلى وو.

★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پخپلو ورځنیو کارونو بوخت وم، د روقیې واده په پټه خوله تېر سو، که څه هم زه یې وربللی وم، نه ورغلم، ما هیڅکله د هغوی په سترګو کې اوښکي زغملی نه سوې، زه پوهیدم څومره درد لري، په هم دې ورځو کښې مي یو سهار د پلوشې لیک ترلاسه کړ چي د ډاګ په واسطه یې دوکان ته رالیږلی وو ,, دخدای په دومره خدایي کښې زما تنهایي، دا هیڅوک نه مني نور خلک لا پرېږده زه پخپله په هم دې اړه که فکر کوم ګوته په غاښ سم، د سوچونو سیلاب مي واخلي، د خیال په یو لوی سمندر کښې مي واچوي، که مي لامبو زده نه وای پخوا به ډوب سوې وم، حوصله مي د بې اعتمادۍ په کاڼي چا ویشتلې، زرې، زرې وه، په راټولولو یې بوخت یم نرۍ ګوتي مي زخمي، زخمي په وینو سرې دي، څرېکه درد راسره ګرځي، بلآخره دا دی بلده سوم ماته درد یوه نشه وګرځېده، تا درد راکړ ما په ورین تندي د زړه په خونه کښې د یوې لرغوني تابلو په څېر راځوړند کړ، ما هیڅکله د درد په نوم چیغه نه وکړه زه پوهیږم که چیغي کړم درد ته دي توهین کیږي، په دې ورستیو کښې تا او خدای دواړو ته شرمنده یم، ډاریږم که له ژونده وروسته ژوندۍ او ستا په لیدو بیا ومرم خدای به زما په بیا مړینه نورو بندګانو ته څه ځواب ورکوي ، هم دا سوال دی چي په ذهن کښې مي ګرد ګرځي د خیال وني مي خوري، هو رښتیا ستا راکړی د درد تخم راسره دی، په وجود کي به مي یو ، یو را ټوکیږي لکه شنې تنکۍ کبلي ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لیک تر لوستلو وروسته یو ړ اندیښنه راسره سوه، داسي کوم درد دی چي ما پلوشې ته ورکړی، هغې دا خبري ماته په تلیفون هم کولای سوې، ولې د ډاګ له لاري ,, ډاریږم که له ژونده وروسته ژوندی او ستا په لیدو بیا ومرم خدای به زما په بیا مړینه نورو بندګانو ته څه ځواب ورکوي،، هم دا جمله مي په ذهن کي ګرځېدله او تر سترګو، سترګو کېدله.

ما د پلوشې سره اړیکې ښکته کړې، په خواله رسنۍ به یې تل دخپل پښتو لیک نمونې رالېږلې، زه پوهیدم چي اوس یې پښتو لیک زده کړی او تر پخوا ډېره تکړه ده، او ښه پښتو لیکلی سي اوس به یې زما سره هم په پښتو تورو پیغام لیږو، د پاکستان په رسنیو کې پرلپسې د ,,ضرب عضب،، عملیاتو خبري رواني وي چي د بلوچستان په سیمه کښې د تحریک طالبانو پر ضد وو، د پاکستان پوځ په شمالي وزیرستان کي د ضرب عضب عملیات په داسي حال کي پیل کړل چي امریکا او نورو غربي هیوادونو تري غوښتنه کوله چي د حقاني شبکې او نورو ډلو پرضد دي بیړني ګامونه پورته کړي.

یوه ورځ ماځیګر د پلوشې ټلیفون راغی زړه نا زړه مي ځواب ورکړ هغې وویل:

_ د بې ځایه شویو کورنیو د درملني لپاره، شمالي بلوچستان او قبایلي سیمو ته چې د ,,ضرب عضب،، عملیات روان دي میډیکل کیمپ په پلان کښې نیول سوی، دغو عملیاتو لسګونه زره قبایلي وګړي دې ته اړ کړي چي خپل کلی ولس پرېږدي او په بنو ، پېښور او نورو سیمو کي د کډوالۍ ژوند وکړي، او د درملني لپاره کومه خاص وزله نلري.

زه پټه خوله وم هیڅ مي نه ویل یوازي د پلوشې خبري مي اوریدلې وې ویل:

_ مقتصده ! ته زما غږ اوري ! زه هم د ډاکترانو له ټیم سره ځم، کېدای سي هلته مخابراتي شبکې کار نه کوي او هم دارنګه موږ ته د ټلیفون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو اجازه هم نسته، ځکه مي وغوښتل درسره خبري وکړم لطفاً په دعا کي مي ياده لره، اړيکه يې پرې سوه کله چي ما وغوښتل يوځل بيا ورسره اړيکه ونيسم ټليفون يې بند سوی وو.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلويزون ته ناست وم خبريال وويل:
_پاکستاني پوځ ادعا کوي په تېرو دريو کلونو کې چي ضرب عضب عمليات يې پيل کړي تر ۳۵۰۰ پوري وسلوال او د هغوی قومندانان وژلي دي خو ولس پوښتنه کوي چي وژل شوي کسان څوک دي، نومونه يې څه دي، او د کوم ځای اوسيدونکي وو.
يو بل کس د تلويزون له خبريال سره خبري کوې او ويل يې:
_ترڅو چي د ښو او بدو ترهګرو د توپير تګلاره نه وي ختمه شوې او د اسلام اباد دښمن د کابل او نوي ډلي دښمن نه وي ګڼل شوی تر هغو پوري به نه په پاکستان کي ترهګري ختمه شي او نه به دا عمليات کومه پايله ولري.
د پلوشې تر تګ وروسته هيڅ نه پوهيدم څه وکړم، زړه مي غواړي څو شيبې په دا خپلو غوږونو کښي ګوتي ونيسم، چيغي په سينه کښي ښخي کړم او هغه غمونه چي د خوځيدو نه دي د ياد په امسا يې د خيال په کوڅو کښي نادرکه کړم، ژوند په کولو ارزي اکثر زما څخه د اوبو له غاړي يا د تورو شپو په رڼولو تېر سي، څوک به دا هم وايي د چا سترګي به يادوم ممکن که د پرهرونو په ګنډلو بوخت وم څوک به را ياد سي، ناممکن په اړه يې تر يو غزل زيات فکر وکړم، نيمه شپه ده، د کتاب تر څو مي پاڼي تېر سوی يم، يو ځل بيا لومړۍ پاڼه را اړوم موضوع يې څه وه، نه پوهيږم فکر مي ګډ وډ دی هم دا اوس کتاب ږدم، د تلويزون ننداري ته کښېنم، دا به څووم چينل وي چي زما نه خوښيږي، نن تر هغه فلم هم تېر سوم کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي به ما په ډېر خوند سره کاته، غوا ړم ګوښه ووسم، موبايل مي بايد کېږدم، عينکي په ميخ ځوړندي کړم، سر ته بالښت کېږدم او ويده سم، دا څو ساعته ووتل لا ويښ يم خوب نه راځي، کله، کله فکر کوم فکر مي خراب سي، نه پوهېږم شپه څنګه تېره سوه، څه وخت خوب وړی وم، په سبا ورځ مي زړه وغوښتل د پلوشې ليک ته ځواب ووايم، ورځ ټوله فکرونو وخوړه، لمر د راوي سيند پښو ته ورولويد، زما په څېر يې د ټولي ورځي ستړيا د غرونو په رڼو اوښکو کي پرېمنځله، شپون د خپلي رمې تر شا تنده تر خپل وار پوري ساتلي وه، تر اوبو ټوپ سوم ښار ته مي په نرۍ لاره مړاوي، مړاوي قدمونه وهل ښار ته له رسېدلو سره سم د کتابخانې په زينو وختم سيبښه يې بنده وه ، د پارک ژۍ ته مي د تنهايي سوړ ماښام رسولی، له جيبه مي د پلوشې ليک راويست، د سړک له غاړي سره مي د هوټل په تناره لمبه کړ، يو ګيلاس اوبه مي وڅښلې، انتظار تر نيمي شپې دی، که نن بيا د درد تښاکي را ويښي سوې سهار ته به مي سترګي ووځي.

ماخستن په ليک ليکلو بوخت سوم

السلام عليکم ...!

زړه خو به مې هر وخت غوښتل چي در ته ووايم، دا دريم کال دی چي مونږ يو بل پېژنو ډېر رازونه او خاطرې مو له يو بل سره شريکي دي ، خو ما تر اوسه پوري تاسو ته لا هم هغه خبره نه ده کړې چي دوه کاله وړاندي مي بايد درته کړې وای، پوهېږم چي زما دا خبره نه هم نن تا ته ارزښت لري او نه يې کوم بل وخت درته ارزښت درلود يا به يې ولري، د دې خبري څرګندوني ته هيڅ اړتيا نه وينم، په زړه او روح مي بار دی، ځوروي مي، ژوند نيمګړی دی، ښايي سبا په رڼو سترګو نه ووينم، ما ډېر ناوخته کړو، ملامت يم، غواړم د زړه تښاکه مي وچوي هغه تښاکه چي له څو کلونو مي په زړه ولاړه ده او دردوي مي، داسي شيبه ه زما نه په ياد

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیږي چي ستا لیکل شوي کرښي ولولم او اوښکي مي نه وي بهیدلي، دا تر ټولو سخته ده چي زما د اوښکو د بهیدلو علت څه دی ، زه ولي ژاړم هیڅ نه پوهیږم .
دا لیک چي تاته یې لیکم په داسي حال کي چي لاسونه مي پړک اخیستي، د زړه درزا په غوږنو اورم، د تلویزون غږ بند دی، د چای پیاله راته سړه شوې ده په غړپ کولو نه ارزي، زه ډېره بخښنه غواړم چي اوس هم نشم کولای چي په هم دې لیک کي د خپل زړه خبره ستا زړه ته درولیږم،،
کاغذ مي له کتابچې را شیري کړ، نغښتی، نغښتی، نغښتی مي په جیب کي واچاوه، نه پوهیدم څنګه به دا لیک پلوشې ته ولیږم، هغه اوس دلته نسته او تلیفون یې هم مسلسل بند وي، آیا پلوشه به هم په عملیاتو کي وژل سوي وي، چیرته به وي، څه به کوي، مړه ده که ژوندۍ؟
دا او دې ته ورته نوري ډېري خبري مي په ذهن اخته وې، چي د پلوشې زنګ راغی، ژر مي ځواب ورکړ، نا پامه مي تر خولې ور ووتل:
_ سلامونه زما ګراني چیرته یې، ولي دي داسي پرېښودم؟
بیرته غلی سوم لکه پخپلو الفاظو چي پښېمان وم، ما داسي کله غوښتل ممکن دا به د زړه او روح ناره وه، تلیفون مي له لاسه ولوید، وارخطا غوندي ودریدم، په تکرار سره یې څووم زنګ راغی، د ځوابولو جرئت مي نه درلود، حوصله مي له لاسه ورکړې وه، په هم دې وخت کي د پلوشې پیغام راغی ,, زما زړګیه هیله ده ما وبخښه، زه پوهیدم چي تاته به ډېره یادیږم، دلته مخابراتي شبکې کار نه کوي نن چي رخصت وم له خپلو ملګرو زه د بلوچستان شاه نوراني مزار ته په چکر روانه یم د د لاري په اوږدو کي درته زنګ وهم، بیا هم درته وایم هیله ده ما وبخښه ،، د پیغام تر لوستلو وروسته مي بیا هڅه وکړه چي زنګ ورته ووهم، نمبر یې بند سوی وو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تلويزون پردې ته ناست وم، په يوه او دوه يې نه پوهيدم، ماښام ناوخته مې ځان ته يو چاى را وغوښت، چاى يې لا نه وو راوړى چې د تلويزون په پرده بيړنۍ خبر سو، د تلويزون وياندي په ډېره بيړنۍ لهجه خبري کولې او په تکرار سره يې هم دا يوه خبره کړه ,,چې د بلوچستان په خضدار سيمه کي چاودنه شوې ده ،،
مسلسل يې له خپلو خبريالانو سره اړيکه نيوله زه هم پټه خوله ورته ناست وم، دا وخت د دوکان خاوند هم راغى، د پيښې د لا ښه تفصيل لپاره يې چينل بدل کړ، د تلويزون په پرده په غټو ټکو ليکل سوي وو ( د بلوچستان په خضدار سيمه کې د «شاه نوراني» په نامه زيارت کي چاودنه شوې چې په نتيجه کي يې شاوخوا پنځوس تنه وژل شوي او شاوخوا سل تنه پکي ټپيان شوي دي ) ځمکه رابانديي وګرځيده، په هيڅ نه پوهيدم، د پلوشې نمبر پرلپسې بند وو، پيغامونه مې ورته وليږل هيڅ ځواب يې نه راته.
رسنيو هم دا يو خبر تازه کاوه او مالومات يې خپرول، يو تن خبريال په خپلو خبرو کي وويل:
نن د شنبې په ماښام په دې مزار کې له پنځو تر شپږ سوه زيارت کوونکي موجود وو چې نابيره ورباندي چاودنه وشوه او په نتيجه کي يې شاوخوا يو نيم سل کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.
د چاودني يوه عيني شاهده وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


"چاودنه وشوه، موږ له خپلو بچیانو سره د پیښې له ځایه په منډه را ووتلو، په مزار کې عُرس روان وو، د ښځو رقص یا «دهمال» شروع وو، چاودنه وشوه."
د عیني شاهدینو په وینا په مزار کې چې خلک راټول وو، ځکه هم زیاتو خلکو ته پکې مرګ ژوبله واوښته.
یو بل عیني شاهد وايي:
"موږ ولاړ وو خلک د وجد په حالت کې وو، نابېره چاودنه وشوه، د هیڅ چا پر حالت دچا حال نه وو، خلکو منډې وهلې، هلته اتیا نیوي کسان په وینو کې لت پت پر ځمکه پراته وو.
شپه په داسې حال کې چې ځمکې د خوب لپاره ځای نه راکاوه راباندې تېره سوه، د لمانځه تر ادا کولو وروسته مې موبایل راواخیست ما غوښتل چې د پلوشې حال واخلم د روقیې په پیغام مې سترګې ولګېدلې:
هڅه مې وکړه درسره خبرې وکړم ته لکه چې ویده سوی وې کېدای سي خبر سوی به هم یې چې د صوفیانو په مزار کې چاودنه سوې ده، زه هم دا اوس کوټې ته روانېږم په پرونۍ پېښه کې پلوشه او د پلوشې په شمول زموږ دوه نوري ډاکترانې هم شهیدانې دي.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي د پلوشې له مړيني خبر سوم، سر راباندي وګرځېده، په دواړو لاسو مي کلک ونيو په ځمکه کښېناستم، او له سترګو مي اوښکه را جلا سوه، د دې لپاره چي ځوک را باندي پوه نسي له کوره را ووتم او دوکان ته راغلم، د غرمې وخت وو چي استاد د کوم کار لپاره دباندي ووت او زه يوازي پاتي سوم، زړه تنګي را باندي بار سوه، لکه ليونی سر مي د ميز په شيشه وواهه، له خپل ځايه را ولاړ سوم او د ځان وژني اراده مي وکړه.
د استاد تر راتګ وړاندې د بريښنا تارونو په لوځولو لګيا سوم، په ډېره تلوار او وارخطايي سره مي د چاقو په مرسته د بريښنا تارونه لوڅ کړل، له ژوند څخه ستړی او ماتي مي منلې وه، ما نه غوښتل نور يوه شيبه هم ژوندی پاتي سم، تارونه مي په موټ کې ونيول، کوم اثر يې نه وکړ، يو ځل بيا مي لاس ور وړ هم داسي وشول او هيڅ اثر يې نه راباندي وکړ ، وروسته پوه سوم چي بريښنا نه راځي او تر راتلو پوري يې نيم ساعت وخت پاتي دی.
د بريښنا د راتګ په طمعه وم چي استاد راغی، پرته له دې چي سلام واچوي يا د نور کله په څېر د کار په اړه خبري وکړي زما سترګو ته ځير سو او وې ويل:
_ په تا څه شوي دي؟ سترګي دي ولي داسي سرې اوښتي لکه ښه ډېر چي دي ژړلي وي.
زه غلی وم هغه خپلي خبري لا پسې اوږدې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ په څو، څو واره مي منع کړی يې چي تلويزون او موبايل ته ډېر مه ګوره، تا هيڅکله زما خبري و نه منلې، ته وګوره سترګي دي څرنګه لکه د وينو ډکي کاسې سرې، سرې اوښتي دي، راځه چي اوس ډاکتر ته ورسو، چي ښه سې.

ومي ويل:

_ زه ښه يم او نه غواړم ډاکتر ته ورسم، زما د سترګو درد پخوانی دی او دا له هغه وخته چي په مدرسه کي وم، تر نيمو شپو مي کتابونه لوستل، او بې خوبه به وم.

هغه وويل:

_ ته وګوره په هغه مخامخ هنداره کي ترڅو پوه سې زه ولي درته غصه يم، آيا ستا پام نه دی نن څه وړ ښکارېږې، لکه يو ښه ,,ګنهګار،، چي شراب يې څښلي وي، يا هغه قاتل چي ډېر بې ګنا انسانان يې وژلي وي.

ما نه غوښتل چي استاد هم ډاکتر ته راسره ولاړ شي

ورغبرګه مي کړه:

_وخت د کار دی ښه به دا وي چې ته په دوکان کي پاته شې زه پخپله هم دا اوس ډاکتر ته ورځم.

روغتون ته ورغلم کله چي خدمتګاري نجلۍ وليدم را وړاندي سوه او راته وې ويل:

_ آيا ته هم هغه څوک يې چي تر دې وړاندي هم راغلی وې او د دې روغتون ډاکتر دي ملګری دی؟

که ته هم هغه څوک يې نو بيا ولي د دې پر ځای چي ښه سې حالت دي ترپخوا هم خراب سوی.

ما څه نه ويل، دې تر لاس ونيوم او کتنځای ته يې بوتلم ،ډاکتر چي زه وليدم را ولاړ سو تر مټ يې ونيولم، څوکۍ يې راته سمه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


کښېناستم. ډاکتر زما سترګي او فشار وکاته، خپله اله یې په غاړه کي واچوله او په خبرو یې پیل وکړ:
_ موږ د ځو لسیزو راهیسې د جګړې او لانجو له امله کړېږو چي دغه ناورینونه نه یوازي جسماني روغتیا بلکې زموږ او تاسو په رواني روغتیا یې هم اغیزه کړې ده.
خپګان او له حادثې وروسته رواني اختلالات د رواني ستونزو له معمولو اختلالاتو څخه دی چي پخوا به په زړو سړو او ښځو کي لیدل کېدل، له بده مرغه نوموړي رواني ستونزي په اوس وخت کي ستا غوندي په نورو ډېرو ځوانانو کي هم لیدل شوي دي.
چي باعث یې د دوامداره جګړې شتون، اقتصادي ستونزي، تاوتریخوالی ، بې سوادي او نور ګڼ شمېر لاملونه دي زه نه غواړم په هم دې اړه بحث اوږد سي باید ووایې چي کوم داسې درد دی چي تا ځوروي؟
دا ستا لپاره تکراري پوښتنه ده، مګر زما لپاره نوې ده ځکه چي تر اوسه پوري تا ځواب نه دی راکړی .
ومي ویل:
_ ډاکتره! زه نه پوهېږم د کوم یو درد څرېکه به وي چي ما تر نورو ټولو دردونو ډېر ځوروي، زما تر ټولو لوی ارمان چي له لیسې فارغ سم او بیا د خپلي خوښي په څانګه کښي پوهنتون ولولم هیڅکله پوره نسو ، په اتم ټولګي کښي وم چي زده کړې په هیواد کښي د نا امنۍ له امله راڅخه پاتي سوې، او کله چي ما وغوښتل د پلار په څېر ښه دیني عالم سم، عالم نه سوم، اوس هم چي را یاد یې کړم زما د همزولو له احساساتو سره څرنګه لوبي وشوې او په یوه بله بهانه یې د خپل مقصد لپاره قرباني کړل، په خپل حال شکر ادا کړم.
او بیا ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډاکتر رانژدې سو وې ویل:
_ او بیا څه وشول ولې پخپله خبره کښې ودرېدې؟
ومې ویل:
ما په دومره پټه خوله مینه وکړه چې زما چوپتیا چیغې ووهلې او ټول خپل، پردي یې راباندې خبر کړل، هرڅه مې وکړل د مینې لپاره، انتظار، سجدې، دعاوې، ژړاوې او ډېر هغه څه چې ناممکن وو ما یې د ممکن کولو لپاره هڅې وکړې، لاکن دا به زما نصیب وو، او بیا کله چې زه دلته راغلم، په کار مې پیل وکړ، له کاره سره بلد سوم ...
پخپلو خبرو کې ودرېدم ما نه غوښتل تردې زیاتې خبرې وکړم
ډاکتر وویل:
_ اندېښنې ،عاطفې ترینګلتوب، دزور ودونه، د کورنۍ او کوم خاص چا څخه جلاوالی دا هرڅه یو انسان په رواني ناروغۍ اخته کوي، زه یې په تا کښې نښې وینم، ته باید د زړه حال بیان کړې چې زړه دې سپک سي او درملنه دې وسي.
ومې ویل:
_ د پلوشې سره د زړه تړل او هم دا رنګه هغه لیک چې هیڅکله به هغې ته نه ورسیږي ما اوس هم ځوروي.
بیا مې هغه لیک چې پلوشې ته مې لیکلی وو، ډاکتر ته ونیو، هغه ژر، ژر عینکې په سترګو کړې او د لیک په لوستلو بوخت سو، کله چې لیک یې پای ته ورساوه زما لاس یې پخپل لاس کې ونیؤ وې ویل:
_ مقتصده ! که ته پوه سې اوس هم کولای شې بیا بیرته یو نوی ژوند پیل کړې، ته وګوره لمر په لوېدو دی، سهار به دا لمر له نویو هیلو سره را پورته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


آرامتیا ته د رسیدو لپاره باید په خپل ژور خپګان باندي غلبه وکړې، د ژوند د مسایلو په وړاندي مثبت حالت ولره، په ډېره آرامی له خپله ځایه پورته شه.

دا وخت یې زه له کتنځایه خپلي خوني ته راوستم، کړکۍ یې خلاصه او څوکۍ یې راته سمه کړه، زما سترګي په هغه تابلو ونښتې چي د طبیعت منظره پکښي جوړه وه، رواني اوبه، دیوې پېغلي نجلۍ شوخ عکس دی چي د کيڼ لاس نرۍ سپينه ګوته یې په سرو شونډو کښي نیولې په مړوند کښي یې زرغونه بنګړي دي، شنې غټې سترګي او تور خنجر باڼه، په څنګ باندي راګوري ،ګاړګوتۍ څټي یې په مخ راپرتې دي په ښي لاس کښي یې کتابچه نیولې، په کتابچه د لمر غروب عکس دی، سپینه غاړه ډک، ډک غامبوري لري، په سوربخن کمیس کي ولاړه وه او د نجلۍ شاته یوه ونه ښکارېږي چي په ښاخونو یې مرغان ناست دي.

هغه وویل:

_ کښېنه ! ته باید قدم ووهې، له خپلو دوستانو سره مشوره وکړې او هر څومره چي کولای شې له ځانه اندیښنې لري کړه ، له ځان سره خبري اتري وکړه، تر څو وکولای شې، د ژور خپګان او د راتلونکي ژوند په وړاندي یو کلک او ټېنګ شخصیت وروزې.

په څوکۍ باندي کښېناستم، یو سوړ اسویلی مي وکیښ او ډاکتر ته مي وویل:

_ زه نه پوهیږم څه وکړم ته وو ایه زه څنګه کولای سم یو نوی ژوند پیل کړم ؟

وې ویل:

ـ له خپل خدای سره راز و نیاز وکړه، او هغه ځواک چي الله (ج) پوري اړوند دی، هغه ته یې پرېږده، چي هغه خپلي چاري کنټرول کړي ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کسان چې تل برید کوي او ویره خپروي، د مؤمنانو او آرامه انسانانو په پرتله ډېر لږ بریا ته رسیږي .

دا وخت روغتون له ناروغانو ډک سوی وو ، او د ډاکتر په طمعه ناست وو ، خدمتګاره نجلۍ دا څووم ځل دی چې په ډاکتر پسې راغله، زه یې رخصت کړم او د سبا لپاره یې بیا وبللم، پرلپسې یوه اونۍ ډاکتر ته ورتلم او هغه به راسره په بېلا بېلو موضوعګانو خبري کړې، کله، کله به یې دومره وژړولم چې سترګي به مي له اوښکو وچي سوې، درد به یې کاوه.

زه اوس تر پخوا ډېر ښه سوی وم، ډاکتر به ویل:

خپلو سترګو ته استراحت ورکول او څو دقیقو لپاره د سترګو پټول، شنو ځایونو او روانو اوبو ته کتل، څو شیبو لپاره ژوره او آرامه ساه اخیستل او د یاداشت کتابچه کي خپل ځورونکي خاطرات لیکل ټولي هغه لاري چاري دي چي په ژور خپګان اخته کس سره مرسته کولای شي.

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


په افغانستان کي د ملي یوالي حکومت له ګلبدین حکمتیار سره د سولي تړون لاسلیک کړ، په هم هغه مابنام مي له خپل مشر ورور سره دا پریکړه وکړه چي موږ او زموږ کورنۍ هم باید ژر تر ژره خپل هیواد ته ستانه شي.
«دغه هوکړه په ( ۱۳۹۵ل د تلي ۸ ) ولسمشر محمد اشرف غني او ګلبدین حکمتیار لاسلیک او سمدلاسه یې د عملي کېدو ډاډ ورکړشو.»
په هم دې شپه تر سهاره پوري کړکۍ ته وینښ پروت وم او له سپوږمۍ سره مي د ماضي ترخه کیسه تېروله .سهار چي
آئینې ته ودریدم خپل ګنهګار مخ مي ولید، ور نژدې سوم سترګي مي په سترګو کښي ښخي کړې، د ښوال مي په سوک وواهه په هنداره کي مي ځان مخاطب کړ او ورته و مي ویل:
_ په رښتیا سره چي ته لوی ګنهګار یې ! یوازي دا نه ده چي تا د خپل خدای نا فرماني کړې بلکه تا پخپل ځان ظلم کړی، له ژونده تېښته بریالیتوب نه دی.
بیا مي مخ ته یوه لپه اوبه ور واچولې له ځانه سره مي وویل:
له انسان پرته بل هیڅ داسي مخلوق نسته چي له ژونده یې زړه تور سوی او ځان یې وژلی وي.
هو که ته داسي لکه دا نن او پرون په وړو، وړو خبرو مایوسه کېدې نو په دې پوه سه چي ته لا تر اوسه لوی سوی نه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ورځ چې ما په خپل خیال کې خپله جنازه په اوږو اخیستې روان وم، یو ناڅاپه چیغه مې تر غوږ سوه، له خپل سیوري سره ودریدم، له دوهمې چیغې سره یې پوه سوم چې امید راپسې راغی، یوه شیبه د فکر دېوال ته ودریدم، له ډېرې ژړا کمزوری سوم، لویدم، پورته کېدم، امید تر لاس ونیوم راپورته یې کړم په مخ، مخ یې دوه زور وري څپېړې راکړې او وې ویل:

لټا مې دا طمعه نه کېده چې ته دې زما په ناخبرۍ کښې خپله جنازه خاورو ته وسپارې، زما پر مخ چې تودې اوښکې روانې وې د دریدلو هیڅ توان مې نه درلود ورغبرګه کړه:

ما همېشه په تنهايي کښې ستا لاس نیولی او تا همېشه داسې پرېښودم نن چې راوګرځېدې خپل ځان راباندې وزن کوې، ولې زما فکر دومره غدار قاضې درته ښکاره سو؟

هغه خپل تندې ته په لاس ټس ورکړ:

اووف ته هیڅکله پوه نه شوې آیا تا کله له خپل سیوري پوښتلي چې ولې په تیاره کې له تا تښتې او په رڼا کې درسره وي؟

یوه شیبه غلی سوم او بیا مې له خپل سیوري وپوښتل:

تا ولې یوازې په رڼا کښې زما لمن نیولې وي؟

هغه زما د حرکتونو پېښې وکړې او وې ویل:

دا مې لټا زده کړل، څرنګه چې یو انسان تر خپل مقصد پورې د بل چا لمن نیسي او هم دارنګه زه تل د حقایقو تر پښو لاندې تړلی یم؛ پوښتنه مې وکړه:

حقایق څه دي؟

_ حقایق هر هغه څه چې په تور کې سپین او په سپین کې تور راباسي لکه رڼا.

ورغبرګه مې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ د هر شعور او لاشعور شي سره د خپل وجود سيوری وي تا کله په هم دې اړه فکر کړی؟

زما په څېرې يې لاس تر زني لاندې کېښود په مغروره لهجه يې وويل:

_ کېدای سي دوئ نه پوهيږي زه ولي د دوئ لمن نيسم مګر زه دومره پوهيږم هيڅ يو حقيت له عقل او سترګو پټېدلی نه شي، زه يو سيوری يم چې تاسو ته ستاسو د وجود شتون بيانوم تل هڅه وکړئ له تيارې رڼا ته ووځئ، تياره حقايق وژني د خپل وجود شتون درک کړئ، تر څو چې هم دا د حقيقت شتون ممکن وي ناممکن که ما تياره چيرته زندی کړي ،کله چې ما خپل شتون درک کړ، اميد مي تر لاس ونيو را ولاړ سوم، يوځل بيا د خپل منزل پر لوري زړه نا زړه له ځان سره وخوځيدم، لمر په ژوند باندې تودخه خرڅوله.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**